

وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا

او واضح وايه قرآن په ښکاره واضح لوستلو سره

# تجويد القرآن الكريم

ددې علم زده کړه فرض کفايي ده، او عمل پرې کول د هر نارينه او ښځينه مسلمان لپاره فرض عين دی، البته چي مکلف وي.

Ketabton.com

ليکنه او ترتيب:

فريد احمد (مبارز)

ketabton.com - The Digital Library



# د کتاب پیژندنه

د کـتــاب نــوم: تجويد القرآن الكريم

لـيـکـوونــکــی: قاري فريد احمد (مبارز)

کـــمــــپــــوزر: خپله ليکوونکی

ketabton.com - The Digital Library





ketabton.com - The Digital Library



# فهرست

**موضوع** **مخ**

د کتاب پیژندنه........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم.................................................................. ۲
فهرست..................................................................................... ۳
سریزه....................................................................................... ۴
اوله (۱) روښنائي.......................................................................... ۵
دوهمه (۲) روښنائي....................................................................... ۷
دریمه (۳) روښنائي........................................................................ ۹
څلورمه (۴) روښنائي..................................................................... ۱۳
پنځمه (۵) روښنائي....................................................................... ۲۶
شپږمه (۶) روښنائي...................................................................... ۳۸
اوومه (۷) روښنائي........................................................................ ۴۰
اتمه (۸) روښنائي.......................................................................... ۴۲
نهمه (۹) روښنائي......................................................................... ۴۹
لسمه (۱۰) روښنائي....................................................................... ۵۳
یوولسمه (۱۱) روښنائي.................................................................. ۶۳
دوولسمه (۱۲) روښنائي.................................................................. ۷۵
دیارلسمه (۱۳) روښنائي................................................................. ۷۷
څوارلسمه (۱۴) روښنائي................................................................ ۹۴

ketabton.com - The Digital Library



## سريزه

الحمدالله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء محمد مصطفى (صلى الله عليه وسلم). اللهم صل علىٰ محمدوعلىٰ آل محمد كما صليت علىٰ ابراهيم وعلىٰ آل ابراهيم انک حميد مجيد. اللهم بارک علىٰ محمدوعلىٰ آل محمد كما باركت علىٰ ابراهيم وعلىٰ آل ابراهيم انک حميد مجيد. اما بعد!

د تجويد په فن كي د محتوياتو په پام كي نيولو سره كوم چي د امام حفص (رحمة الله عليه) د روايت مطابق د امام عاصم بن ابى كوفى (رحمة الله عليه) په قرائت كي له پخوا څخه ليكل سوي وه، په دې كتاب كوښښ او زيار ايستل سوى دى، تر څو د هغو مطالب په لنډ ډول سره په يوه مناسبه طريقه د فهم او درک سره سم راغونډ او وړاندي سي، د امكان تر حده پوري نيمګړتياوي او مشكلي نكتې ځيني ليري او يا حل سي، دقيقه تعريفونه او تقسيمونه وكارول سي، په خاصه توګه د حروفو د مخرجونو په اړوند، سره لـه دې چي د تجويد دغه برخه د ډير آهميت لرونكي برخه ده، د حروفو د مخرجونو د آهميت د شرحي څخه وروسته د حروفو د صفتونو بحث راغلى دى، دغه دواړه (مخرجونه او صفتونه) د هغه بحثونو څخه شميرل كيږي چي پر عملي تطبيقاتو، سم او فصيح نطق باندي زياته تكيه لري، په دې كتاب كي ددې فن د پوهانو خبري او نظريې لوستل كيږي، تر څو ددې كتاب لوستكونكي د امكان تر حده وكولاى سي، په قاعدو د پوهيدو او علمي تطبيقي جنبې په نظر كي نيولو سره آسانتياوي رامنځته سي، دغه كار دقيقو تحقيقاتو او پلټنو ته ضرورت لري، تر څو د الله سبحانه وتعالى پاک كتاب قرآن كريم ته ښه او زيات خدمت سوى وي او هغه په فصيح عربي نطق او لهجه سره تلاوت سي، ډيره توجه په كار ده كه څه هم د تجويد اعتماد زيات په نقل او روايت سره سوى دى، مګر په واقعيت كي د تجويد مصدر او مرجع په عربي سليم او لصيح ذوق باندي بناء سوې ده، قرآن كريم په عربي ژبه نازل سوى دى، او د عربي ژبي خاوندانو تل پـه خپلو خبرو كي د ښكلو او روانو الفاظو څخه ګټه اخيستې ده، د درنو كلمو د استعمال څخه يې زده كړه كيداى سي، او په همدې وجه يې د تجويد فن د تلاوت ګاڼه او د قرآن كريم د نظم د اداء ښايسـت بخښوونكى فن ګڼلاى دى.

امام ابن جزري (رحمة الله عليه) د خپل كتاب (الجزرية) په سريزه كي فرمايي: تجويد تلاوت ته ښايست بخښوونكى، د حروفو د اداء او قرائت لپاره ښكلا وركوونكى دى.

**په درنښت**

**فريد احمد (مبارز)**

ketabton.com - The Digital Library



# اوله (۱) روښنائي

## د تجويد د علم پيژندنه

تجويد: تجويد په لغت کي کره او ښه ويلو ته ويل کيږي، او په اصطلاح کي د قرآن کريم په سمه توګه د تلاوت کولو، اصولو او قواعدو ته ويل کيږي. او يا هم هر حرف د خپل مخرج څخه ايستل او د هغه صفتونه ادا کول دي، ددې علم حقيقت همدا دی.

لکه په عربي کي چي يوه مقعوله: د کار ژر کولو ته مه ګوره، بلکي ښه والي ته يې ګوره.

د تجويد د علم په تعريف کي دغه موضوعات ډير مهمي دي، لکه:- ۱: حرفونه د خپلو مخرجو څخه ايستل يا ادا کول. ۲: د دغو حرفو ټول صفتونه ادا کول.

د تجويد د علم مهمي اجزاوي:- ۱: د تجويد د علم لغوي او اصطلاحي معنا. ۲: ددې علم تعرف. ۳: ددې علم غرض. ۴: ددې علم موضوع. ۵: ددې علم فضيلت. ۶: ددې علم فائده او ثمره. ۷: ددې علم ارکان. ۸: ددې علم حکم. ۹: ددې علم واضعين.

۱:- د تجويد په لغت کي عمده او ښه کار کولو ته ويل کيږي، او په اصطلاح کي هر حرف د خپل مخرجه څخه ايستل يا ادا کول سره د ټولو صفتونو ته ويل کيږي.

۲:- د تجويد د علم غرض: د ژبي ساتنه د تلاوت کولو په وخت کي د خطاء يا غلطي کولو څخه، يا هم د قرآن مجيد تلاوت داسي کول لکه څرنګه چي نازل سوی دی، او يا هم د قرآن کريم په سمه توګه تلاوت کول دي، چي د الله سبحانه وتعالی د رضا سبب وګرځي.

۳:- د تجويد د علم موضوع: ددې علم موضوع حروف هجاء يعني الف، بآ، تآ، ثآء يا قرآني الفاظ دي. د هجاء حروف: د هجاء حروف يا د تهجي حروف نويشت (۲۹) حروف دي، چي د (الف) څخه بيا تر (ياء) پوري دي، ځکه د هجاء حروف ورته ويل کيږي، چي هجاء يو ځای کيدو او پيوسته کيدو ته ويل کيږي، او په دې حروفو سره هم کلمې جوړيږي، يعني دا حروف د کلماتو د جوړيدو سبب دی، ځکه چي د هجاء حروف او يا د تهجي حروف ورته ويل کيږي.

۴:- د تجويد د علم فضيلت: دې علم ته له دې امله د پوهنو غوره برخه ويل سوې ده، چي دا علم د قرآن کريم سره تړاو لري، د کوم علم تړاو چي د داسي غوره کتاب سره وي، هغه علم د غوره علومو څخه ګڼل کيږي، او يا هم دا علم افضل العلوم دی، ځکه چي ددې علم تعلق د افضل العلوم سره دی، د کوم علم تعلق چي د افضل الکتاب سره وي، هغه علم افضل العلوم دی.

۵:- د تجويد د علم فائده او ثمره: سعادت د دين او يا الهي رضاء ده.

ketabton.com - The Digital Library



۶:- د تجوید د علم ارکان څلور (۴) دي:- ۱: مخرجونه. ۲: صفتونه. ۳: ترکیبي قاعدې. ۴: ریاضة اللسان یعني په ژبه سره زیار ایستل.

۷:- د تجوید د علم حکم: عموماً ددې علم زده کړه فرض کفایي ده او عمل پرې کول د هر نارینه او ښځینه لپاره فرض عین دی، البته چي مکلف او مسلمان وي.

۸:- د تجوید د علم واضعین: اصلاً ددې علم مطابق الله سبحانه وتعالی قرآن کریم نازل کړی دی، دلته د واضح څخه په دې کتابي او مرتب شکل سره د قواعدو مُرتب کوونکي مراد دي. واضعین یې څلور (۴) دي:- ۱: خلیل احمد فراهیدي. ۲: عمرو بن عثمان. ۳: یحیی بن زیاد. ۴: محمد بن مستنیر (رحمة الله علیهم) دوی لومړني کسان وه، چي د تجوید د علم قواعد او اصول یې ترتیب او جوړ کړل.

ketabton.com - The Digital Library




## دوهمه (۲) روښنائي

## لحن جلي او لحن خفي

د تجويد خلاف د قرآن کريم غلط او بې قاعدې ويلو ته لحن ويل کيږي. لحن په لغت کې غلطۍ ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د قرآن کريم حروف د خپل آواز تابع کولو ته ويل کيږي، چي موخه ځيني په قرآن کريم کي ښکاره (لويه) غلطي او يا پټه (کوچنی) غلطي کول دي.

لحن (غلطي) پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: لحن جلي (غټه غلطي). ۲: لحن خفي (کوچنی غلطي).

۱:- د لحن جلي تعريف: په ښکاره سره غلطي کول. لحن جلي د هغه لحن څخه عبارت دی، چي د کلمې په ذات يا په صفت کي بدلون رامنځته کړي.




لحن جلي پر څلور (۴) ډوله دی:- ۱: تبديل الحرف بالحرف. ۲: حرکتونه، لکه: زور، زير او پيښ کشول. ۳: حرف مده غورځول. ۴: په حرکاتو او سکناتو کي غلطي کول.

**۱:-** د يوه حرف پر ځای بل حرف ويل يا بدلول: د يو حرف په بل حرف سره ويل، لکه: د (قُلْ هُوَ اللّٰهُ) پر ځای (کُلْ هُوَ اللّٰهُ) ووايي. يا يو حرف په بل حرف سره بدلول، کله د مخرج په بدليدو سره وي، لکه: د (حاء) پر ځای (هاء) ويل، لکه: د (اَلْحَمْدُ) پر ځای (اَلْهَمْدُ). يا د (ثا) پر ځای (سين) ويل. يا د (ذال) پر ځای (زاء) ويل. يا د (صاد) پر ځای (سين) ويل. يا د (ضاد) پر ځای (دال) يا (ظاء) ويل. يا د (ظاء) پر ځای (زاء) ويل. يا د (عين) پر ځای همزه ويل.

**۲:-** د حرکت په حرکت سره بدلون: يعني زور په زير سره يا زير په پيښ سره بدلول، لکه: د (اَنْعَمْتَ) پر (ميم) باندي دغه رقم حرکت ويل: (اَنْعَمَتَ). يا د (اِيَّاکَ) پر (کاف) باندي زير ويل. يا په (اِهْدِنَا) کي د (هاء) مخکي دغه رقم زور ويل: (اَهْدِنَا) او يا داسي نورو غلطيانو ته لحن ويل کيږي.

**۳:-** د حرف زیاتوالی: په یوه کلمه کي د حرف زیاتوالی چي په نوموړې کلمه کي نه وي، لکه: د (لَمْ يُولَدْ) پر ځای (لَمْ يُولِيْدْ) ویل. او یا هم د (اَلْحَمْدُ لِلهِ) د (دال) پيښ او د (هاء) زیر کش کړي، داسي ووايي: (اَلْحَمْدُوْ لِلهِیْ).

**۴:** نقصان الحرف (حرف کمول): یو حرف پريښوول سي، او یا ونه ویل سي، لکه: د (لَمْ يُولَدْ) (واو) ښکاره نه کړي داسي ووايي: (لَمْ يُلَدْ) وويل سي.

د لحن جلي حکم: که چا لحن جلي (ښکاره غلطي) تر سره کړه، دا کار په دنیا کي حرام دی او په آخرت کي يې حکم عقاب او عذاب دی، په بعضي ځایونو کي په دې سره د قرآن کریم معنا ته تغير ورکول کيږي، او لمونځ هم په فاسديږي.

۲: د لحن خفي تعریف: هغه پوشیده او پټه غلطي ده، چي هر څوک يې احساس نه سي کولای. د هغو قاعدو پريښوول چي د حروفو د ښایست سره اړه لري.

د مثال په ډول: ډک حرف باریک ویل او یا باریک حرف ډک ویل غُنه پريښوول او داسي نور... که څه هم د قرآن کریم ویوونکی غلطي ونه کړي، مګر د حروفو د ښایست لپاره چي کومي قاعدې مقرري سوي دي، د هغو خلاف يې ووايي، لکه: پر (راء) باندي چي زور يا پيښ وي، نو دغه (راء) ډکه ویل کيږي، لکه: (اَلصِّرَاط) (راء) چي په اتمه (۸) روښنائي کي به راسي، مګر دی يې باريکه ووايي، دې ته لحن خفي ویل کيږي، دا غلطي د مخکنی غلطي څخه سپکه يعني مکروه ده، مګر د داسي غلطي څخه هم ځان ساتل ډير ضروري دي.

د لحن خفي حکم: دنیوي حکم يې مکروه دی، او اخروي حکم يې په خوف عقاب یعني د عذاب ورکولو بيره سته.

حرف: په لغت کي طرف (لوري) یا کنارې (څنډي) ته ویل کيږي، او په اصطلاح کي یوه معلومه کلمه ده، چي د بلي کلمې د یو ځای والي څخه پرته پر معنا دلالت نه کوي، او نه په زمانې پوري اړه لري. او یا هم د حرف لغوي معنا ده، طرف او کنار. او اصطلاحي معنا يې ده: هغه آواز دی، چي پر ثابت یا پټ مخرج باندي اعتماد کوي.

حرکت: په لغت کي تحریک یا ښوریدو ته ویل کيږي، او په اصطلاح کي هغه علامه یا حرف دی، چي د لفظ د روان والي لپاره وضع سوی دی. حرکات شپږ (۶) دي، چي عبارت دي له: زور، زیر، پيښ، مده یاء، مده واو او مده الف.

ketabton.com - The Digital Library



## دریمه (۳) روښنائي

### (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَيْطٰنِ الرَّجِيْمِ) او (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ)

د قرآن کریم د شروع کولو څخه مخکي (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَيطٰنِ الرَّجِيْمِ) ویل ضروري [۱] دي، او د (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) په اړه که چیري د سورت د شروع څخه شروع وکړی، نو (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل ضروري دي.

همدارنګه که چیري د تلاوت کولو په وخت کي بل سورت د تلاوت کولو په منځ کي شروع سي، بیا هم (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل ضروري دي، مګر په دې دوهم صورت کي یعني د سورت توبې په شروع کي (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل ضروري نه دي، دا ځکه چي په دې سورت کي د الله سبحانه وتعالی قهر بیان سوی دی.

یادونه: د سورت توبې په شروع کي (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل ضروري نه دي، مګر په مابینځ کي یې ویل پروا نه لري. بعضي علماء کرام وایي: په اول صورت کي پر سورت توبې باندي باید (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ونه ویل سي، او که چیري یې د سورت د مابینځ څخه تلاوت شروع کړل سي، بیا نو (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ښه کار دی، مګر ضروري نه دی، او (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَيطٰنِ الرَّجِيْمِ) په دې وخت کي ویل ضروري دي.

د ابتداء یا شروع درې (۳) صورته دي:- ۱: ابتداء تلاوت او ابتداء سورت. ۲: ابتداء تلاوت په مابینځ کي د سورت. ۳: ابتداء سورت په مابینځ کي د تلاوت.

ددې حکم دا دی: په اول صورت کي (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَيطٰنِ الرَّجِيْمِ) او (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) دواړه ضروري دي. په دوهم صورت کي (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَيطٰنِ الرَّجِيْمِ) ده، په (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) کي اختیار دی. او په دریم صورت کي صرف (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ویل کیږي.

حاشیه...............................................................................!

(۱) تشریح: دلته مقصود محل د (اَعُوْذُ بِاللهِ)، الفاظ د (اَعُوْذُ بِاللهِ)، حکم د (اَعُوْذُ بِاللهِ)، محل د (اَعُوْذُ بِاللهِ) شروع د تلاوت ده مطلقاً، ځکه چي په قرآن کریم کي مطلقاً راغلې ده (فَاسْتَعِذْ)، او الفاظ په احادیثو کي زیات، کم او درمیانه راغلي دي. زیات لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيع العليم مِنَ الشَيطٰنِ الرَّجِيْمِ).

ketabton.com - The Digital Library



کم لکه: (اَللهُمَّ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ اِبلیسَ وَجُنوده). او درمیانه لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ)، ځکه چي دا درمیانه او بل د سورت نحل د آیت سره هم موافقه ده.

همدارنگه په (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) کي محل یې ابتداء د سورت دی، ځکه چي تعریف یې دا دی: (اٰیَةٌ فَاصِلَةٌ بَیْنَ السُّوْرَتَیْنِ) او الفاظ یې معروف دي.

د (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) او (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) حکم: د د واړو حکم وجوب یا استجاب دی، بناءً په اختلاف د اصولینو چي امر د وجوب یا استجاب لپاره دئ.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصلي تشريح

## د (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) او سورت تر منځ (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) ویل

**۱:** وصل کل (بشپړ وصل) یا یو ځای والی. **۲:** فصل کل (بشپړ فصل) یا بیلوالی. **۳:** وصل اول فصل ثاني (لومړی وصل ـ یو ځای والی. دوهم فصل ـ جلا والی). **۴:** فصل اول وصل ثاني (لومړی فصل ـ جلا والی. دوهم وصل ـ یو ځای والی).

۱:ـ وصل کل: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) او سورت په یوه ساه سره ویل، یعني په منځ کي وقف نه کول، لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ).

۲:ـ فصل کل: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) او سورت هر یو په جلا جلا ساه سره ویل، یعني پر هر یوه باندي وقف کول، یعني درېدل، لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ (۱) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ (۲) اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ).

۳:ـ وصل اول فصل ثاني: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) سره یو ځای کول او سورت په جلا ساه سره ویل، لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ (۲) اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ).

۴:ـ فصل اول وصل ثاني: پر (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) باندي وقف کول، او (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) د سورت سره یو ځای کول، یعني د نومړو دوو (۲) په منځ کښي وقف نه کول، لکه: (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ (۱) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ (۲) اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِینَ). دا څلور (۴) سره وجهي روا او سمي دي.

د (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ)، (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) او سورت په منځ کي په څلورو (۴) وجهو کښي فصل اول وصل ثاني غوره دی، ځکه چي په داسي کړنه سره د سورت (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ) برخه کیدل او د (اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَیطٰنِ الرَّجِیْمِ) جلا والی د قرآن کریم ویل ښه څرګندیږي، نوموړې وجه ځینو علماؤو مستحب بللې ده.

ketabton.com - The Digital Library



**د دوو (۲) سورتونو تر منځ د (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) ويل**

| | | | |
|---|---|---|---|
| وصل کل | فصل کل | وصل اول فصل ثاني | فصل اول وصل ثاني |

۱:ـ وصل کل: يعني اول سورت (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) او دوهم سورت په يوه ساه سره ويل، لکه: (فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَد بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ).

۲:ـ فصل کل: يعني اول سورت (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) او دوهم سورت په جلا جلا ساه سره ويل، لکه: (فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ (۱) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۲) قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ).

۳:ـ وصل اول فصل ثاني: يعني اول سورت او (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) په يوه ساه سره ويل، او دوهم سورت په جلا ساه سره شروع کول، لکه: (فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۱) قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ).

۴:ـ فصل اول وصل ثاني: يعني اول سورت په يوه ساه سره ويل، (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) او دوهم سورت په بله ساه سره شروع کول، لکه: (فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ (۱) بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ).

په پورتنيو څلورو (۴) وجهو کي دريم (۳) صورت ناجائز دی، چي د وصل اول فصل ثاني څخه عبارت دی او نوري درې (۳) وجهي جايز او روا دي.

دريم (۳) صورت له دې کبله ناجائز دی، چي که چيري وصل اول فصل ثاني راسي داسي فکر کيږي، چي (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) د اول سورت جز دی، او د دوهم سورت په سر کي (بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ) نه ده ويل سوي.

ketabton.com - The Digital Library





# څلورمه (۴) روښنائي


## ژبه، غاښونه، حلق او مخرجونه

### غاښونه

ثنايا | رباعي | انياب | ضواحک | طواحن | اضراس | نواجذ



ketabton.com - The Digital Library



## د غاښونو تشریح

څرنګه چي اکثره مخرجونه په غاښونو پوري اړه لري، نو له دې کبله باید لومړی غاښونه وپېژندل سي، د انسان په خوله کي (۳۲) غاښونه دي، د مخ څلور (۴) غاښونو ته ثنایا ویل کیږي، دوو (۲) پورته غاښونو ته ثنایا عُلیَا ویل کیږي، او دوو (۲) لاندي غاښونو ته ثنایا سفلی ویل کیږي. ددې ثنایاوو سره متصل څلور (۴) غاښونو ته رباعیات ویل کیږي. بیا ددې رباعیاتو سره یو ځای څلور (۴) څوکي لرونکي غاښونه دي، دې څلور (۴) غاښونو ته انیاب او کواسِر ویل کیږي.

بیا ددې انیابو او کواسِرو سره متصل څلور (۴) غاښونه دي، دې غاښونو ته ضَواحِک ویل کیږي. بیا د ضواحکو سره پیوست دولس (۱۲) غاښونه نور دي، درې (۳) پورته رسته طرف ته دي، درې (۳) پورته چپه طرف ته دي، درې (۳) لاندي راسته طرف ته دي، او درې (۳) لاندي چپه طرف ته دي، دې دولس (۱۲) غاښونو ته طواحن ویل کیږي. بیا ددې طواحنو سره پیوست په اخیر کي راسته او چپه طرف ته لاندي او لوړ یو یو غاښ بل دی، چي دغه غاښونه ټول څلور (۴) کیږي، دې غاښونو ته نواجذ ویل کیږي.

دې ټولو ضواحکو، طواحنو او نواجذو غاښونو ته اضراس (زامه) ویل کیږي. د دوو دیرشو (۳۲) غاښونو ټول نومونه شپږ (۶) سول، ثنایا، رَباعیات، انیاب، ضواحِک، طواحن او نواجذ، په دوی کي د طواحن څخه ماسیوا نور ټول څلور (۴) څلور (۴) دي، طواحن دولس (۱۲) دي، په دې کي اول درې (۳) نومونه د غاښونو دي، او پاته درې نومونه (۳) د زامو دي.

اضراس پر همزه باندي زور دی، او (ضاد) ساکن دی، ضِرس د (ضاد) په زیر سره په معنا د زامي دی، او اضراس جمع د ضِرس دی. او یا هم اضراس ضرس جمعه ده، ضرس د زامي په معنا ده.

د غاښونو نومان او معنا يې:- ۱: ثنایا (دوه). ۲: عُلیا (پورته).۳: سفلی (کښته) ۴: رباعی (څلور). ۵: انیاب (څیرونکي). ۶: ضواحک (د خندا غاښونه). ۷: طواحن (ماتونکي). ۸: نواجذ (پوره کونکي).

یادونه: د حروفو د ادا کیدو په خت کي یوازي لوړ غاښونه او د لوړي زامي غاښونه په کار راځي، لاندي غاښونه او د لاندي زامي غاښونو ته د حروفو د ادا کیدو په وخت کي هیڅ برخه نسته، البته د ثنایا سفلی غاښو څخه یوازي د (صاد، سین، زاء) د ادا کیدو په وخت کي کار اخیستل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



# مخرجونه

د كومو ځايونو څخه چي حروف ادا كيږي، هغو ته مخارج ويل كيږي، مخرجونه ټول (۱۷) دي.

مخرج: په لغت كي د وتلو ځاى ته ويل كيږي او په اصطلاح كي هغه ځاى ته ويل كيږي، چي د حروفو د تلفظ په وخت كي آواز ځيني راوځي. د مخرج لغوي معنا د وتلو ځاى، او اصطلاحي معنا يې ده: يو ځاى دى چي حرف ځيني پيدا كيږي.

د مخرج د پيژندلو لنډه طريقه: يو زور لرونكې همزه چي پر ساكن يا مشدد حرف باندي داخله سي، پر كوم ځاى چي آواز پاى ته ورسيږي، هغه د حرف مخرج دى، يا هم حرف ساكن كړه، همزه پر زياته كړه، په كوم ځاى كي چي آواز ختم سو، هغه د حرف مخرج دى، او يا هم هر حرف چي وي ساكن يې كړه، د دغه حرف څخه مخكي همزه متحركه (حركت كوونكې) راوړه، په كوم ځاى كي چي آواز ختم سي دغه ځاى مخرج دى، لكه: (اَبْ، اَتْ، اَثْ)

مخرج پر دوه (۲) ډوله دى:- ۱: مخرج محقق (ښكاره مخرج). ۲: مخرج مقدر (پټ مخرج).

۱:- مخرج محقق: د حلق، ژبي او شونډانو ومعلومي برخي ته مخرج محقق ويل كيږي.

۲: مخرج مقدر: د جوف او خيشوم ناټاكلي برخي ته مخرج مقدر ويل كيږي.

مخرجونه لږ دي، او حروف ډير دي، دا ځكه چي په بعضي حروفو كي سره مشترک وي او فرق يې په صفتونو كي سره دى.

۱:- **اول مخرج:** جوف دهن يعني د خولې دننه خالي ځاى دى، ددې څخه دا حروف ادا كيږي: ۱: (واو) چي ساكن وي، او د ده دمخه پر حرف باندي چي پيښ وي، لكه: (اَلْمَغْضُوْبِ). ۲: (ياء) چي ساكنه وي، او ددې تر مخه حرف باندي زير وي، لكه: (نَسْتَعِيْنُ). ۳: (الف) چي هر كله ساكن بې جټكې وي، او د ده تر مخه حرف باندي زور وي، لكه: (صِرَاط). ساكن بې جټكې ددې لپاره وويل سول چي زور، زير، پيښ والا او همدارنګه ساكن جټكې والا ته همزه [1] ويل كيږي، كه څه هم عام خلګ هغه ته هم (الف) وايي، لكه: (اَلْحَمْدُ). په اول كي چي كوم (الف) دى، يا د (بَاْسٌ) په منځ كي چي كوم (الف) دى، په واقعت كي دا هر يو همزه دى او په دې ټول كتاب كي به دې دواړو الفونو ته همزه ويل كيږي. پورته ذكر سوو، حروفو (الف، واو، ياء) ته درې (۳) سره وو ته حروف مده او حروف هوائيه هم ويل كيږي.

اول نوم ددې لپاره دى، چي پر دوى باندي كله مد هم كيږي، چي مخته به ددې بيان راسي، او دوهم نوم ددې لپاره دى، چي دا حروف په هوا كي ځي يعني په هوا كي نشر كوي.

ketabton.com - The Digital Library



د كوم (واو) ساكن څخه مخکي كه زور وي دې ته واولين ويل كيږي، لكه: (مِنْ خَوْفٍ) او د كومي (ياء) ساكني مخکي چي زور وي، هغې ته (ياء) لين ويل كيږي، لكه: (وَالصَّيْفِ)، نو د (واو) لين او (واو) متحرک مخرج مخته د شپاړسم (١۶) مخرج په بيان كي راځي، او د (ياء) لين او (ياء) متحرک مخرج به مخته د اووم (٧) مخرج په بيان كي راسي.

٢:- **دوهم مخرج:** اقصٰی حلق دی، يعني د حلق هغه آخرنی حصه كوم چي د ځيګر وخوا ته ده، ددې څخه دا حروف ادا كيږي، لكه: (همزه، هاء).

٣:- **دريم مخرج:** اوسط حلق دی، يعني دا مخرج د حلق د منځ حصه ده، ددې څخه دا حروف ادا كيږي، لكه: (عين، حاء).

۴:- **څلورم مخرج:** ادنیٰ حلق يعني د حلق هغه حصه ده، كوم چي د خولې وطرف ته نږدې ده، ددې څخه دا حروف ادا كيږي، لكه: (غين، خاء). دې شپږو (۶) حروف (همزه، هاء، عين، حاء، غين، خاء) ته حروف اظهار[٢] او حروف حلقي ويل كيږي.

۵:- **پنځم مخرج:** لهات يعني د تالو سره متصل د ژبي بيخ دی، هر كله چي د ژبي بيخ د لوړ تالو سره ولګيږي، يا ومښلي، د دغه ځای څخه د غټ (قاف) حرف ادا كيږي.

۶:- **شپږم مخرج:** د غټ (قاف) ومخرج ته نږدې د خولې وخواته لږ كښته ددې ځای څخه كوچنی (كاف) ادا كيږي، دې دواړو حروفو ته لهاتيه [٣] حروف ويل كيږي.

٧:- **اووم مخرج:** د ژبي منځ او د هغې مقابل پورته تالو دی، ددې څخه دا حروف ادا كيږي، لكه: (جيم، شين، ياء) هغه (ياء) چي مده نه وي، يعني (ياء) متحرک او (ياء) لين وي، د مده معنا په اول مخرج كي بيان سوې ده، دې حروفو ته حروف شجريه (د ژبي منځ) ويل كيږي.

٨: **اتم مخرج:** د (ضاد) دی، دا مخرج د ژبي د څنډي [۴] راسته يا چپه طرف ته ادا كيږي، هر كله چي د اضراس عُليا يعني د پورته زامو د غاښو د بيخو سره د ژبي څنډه ومښلي (ضاد) ادا كيږي، د چپه طرف څخه آسانه دی، د دواړو طرفو څخه په يوه وار ادا كول هم صحيح دي، مګر ډير مشكل كار دی، دې حرف ته حرف حافيه (د ژبي څنډه) ويل كيږي.

دا حرف ډک (دال) يا باريک (دال) يا د (دال) مشابه ويل، لكه نن سبا چي د اكثرو خلګو داسي ويل ګردسره عادت ګرځيدلی دی، داسي هيڅلكه ويل په كار نه دي، دا بالكل غلط كار دی، او همدارنګه خالص (ظاء) ويل هم غلط كار دی، البته كه چيري (ضاد) د صحيح مخرج څخه په صحيح ډول په نرمي سره آواز جاري وساتي، د ټولو صفاتو لحاظ وكړل سي، ادا كړل سي، نو آواز به يې په اوريدو كي د (ظاء) د آواز سره ډير زيات [۵] مشابه وي، د (دال) مشابه بلكل نه دی، د تجويد د علم او قرائت په كتابونو كي همدغه رقم ليكل سوی دی.

ketabton.com - The Digital Library



۹:- **نهم مخرج:** د (لام) دی، هر کله چي د ژبي کناره سره د یو څه حصې [۶] د حافې (د ژبي څنډه) چي د ثنایا، رباعي، ناب او ضواحکو د وریو سره مائل د تالو سره ټکر وخوري، هغه که راسته طرف ته وي او که چپه طرف ته وي فرق نه کوي، د راسته طرف څخه آسانه دی، او د دواړو طرفو څخه په یوه وار رایستل هم صحیح دی.

۱۰:- **لسم مخرج:** د (نون) مخرج دی، دا مخرج هم د ژبې کناره ده، مګر د (لام) د مخرج څخه کم یعني ضواحکو غاښونو لره په (نون) کي دخُل نسته.

۱۱:- **یوولسم مخرج:** د (راء) مخرج دی، دا مخرج د (نون) د مخرج سره نږدې دی، مګر په دې مخرج کي د ژبې شا (ظهرالسان) هم په کښي داخله ده. دې درو (۳) حروفو یعني (لام، نون او راء) ته طرفیه او ذلقیه [۷] حروف ویل کیږي.

۱۲:- **دولسم مخرج:** د (طاء، دال، تاء) دی، هر کله چي د ژبي څوکه د ثنایاعُلیا د بیخونو سره یو ځای سي، دا درې (۳) حروف ادا کیږي، دې درو (۳) حروفو ته نِطْعِیّه [۸] حروف ویل کیږي.

۱۳:- **دیارلسم مخرج:** د (ظاء، ذال، ثاء) دی، هر کله چي د ژبي څوکه د ثنایاعُلیا د سرو سره یو ځای سي، دا درې (۳) حروف ادا کیږي، دې درو (۳) حروفو ته لِثَوِیّه [۹] حروف ویل کیږي.

۱۴:- **څورلسم مخرج:** د (صاد، زاء، سین) دی، هر کله چي د ژبي سر د ثنایا سفلٰی کناره سره د یو څه یو [۱۰] ځایوالي د ثنایاعُلیا سره یو ځای سي، دا حروف ادا کیږي، دې درو (۳) حروفو ته صفیریه (شپیلکی) حروف ویل کیږي.

۱۵:- **پنځلسم مخرج:** د (فاء) دی، دا حرف د لاندي شونډي د نس [۱۱] او ثنایاعُلیا د کنارې د یو ځایوالي څخه ادا کیږي، یعني دواړه شونډان په کښي داخل دي.

۱۶:- **شپاړسم مخرج:** د (باء، میم، واو) دی، هغه (واو) چي مده نه وي، یعني (واو) متحرک او (واو) لین. دې درو (۳) حروفو ته شفوي (شونډان) حروف ویل کیږي. د (واو) مده او (واو) لین معنا په اول مخرج کي ذکر سوه، مګر په دې درو (۳) حروفو کي دا فرق دی، چي (باء) د شونډو د لانده ځایه څخه ادا کیږي، له دې سببه حروف بحري (د شونډانو لنده حصه) ورته ویل کیږي، او (میم) د شونډانو د وچي حصې څخه ادا کیږي، له دې سببه بري (د شونډانو وچه حصه) ورته ویل کیږي، د (واو، او فاء) حروف دواړه د شونډانو د ناتمام [۱۲] یو ځای کیدو څخه ادا کیږي.

۱۷:- **اووه لسم مخرج:** خیشوم یعني د پزي شپیلی ده، ددې ځایه څخه غُنه [۱۳] ادا کیږي، د غُني بیان به په راتلونکي نهمه (۹) او لسمه (۱۰) روښنائي کي د (نون) او (میم) په قاعدو کي راسي.

حاشیه.........................................................................!

ketabton.com - The Digital Library



(۱) تشريح: (اَ اِ اُ) همدارنګه (بَأ بِئ بُؤ) متحرک او ساکن داوړه همزه دي، که څه هم په ليکلو کي د (الف)، (واو) او (يا) په شکل باندي دي، مګر د مخرجونو تعلق د حروفو پر ليکلو باندي نه دی، بلکي د حرف پر آواز باندي دی.

د همزې او (الف) تر منځ فرق: همزه په جټکې سره ادا کيږي، هغه که متحرکه وي او که ساکنه وي، او (الف) هميشه په نرمي سره ادا کيږي، او هميشه ساکن ماقبل يې مفتوح وي، لکه: (با، تا، ثا) او داسي نور... ددې ټولو په آخر کي (الف) دی، په ليکلو سره يې هم فرق کيدای سي، چي پر (الف) باندي د سکون علامه نه وي، او همزه که ساکنه وي، د سکون علامه باندي وي، او که متحرکه وي، زور، زير او پيښ باندي وي.

د (واو) او (ياء) درې (۳) درې حالته دي: ـ ۱: (وَ وِ وُ، یَ یِ یُ). ۲: لين يعني دوی دواړه ساکن او ماقبل يې مفتوح (زور)، لکه: (اَوْ بَوْ تَوْ ثَوْ) او داسي نور... او (اَیْ بَیْ تَیْ ثَیْ جَیْ) او داسي نور... ۳: (واو) مده يعني (واو) ساکن ماقبل مضمُوم لکه: أُوْ بُوْ تُوْ ثُوْ او داسي نور... او (ياء) ساکن ماقبل مکسور (زير)، لکه: (اِیْ بِیْ تِیْ ثِیْ جِیْ) او داسي نور...

د (واو) او (ياء) درې (۳) حالتونه سول، او همدارنګه د هر يوه مخرجونه دوه (۲) دوه (۲) دي. د مديت په حالت کي يې مخرج جوف دهن ښوول سوی دی. د متحرک او لين په حالت کي د دواړو لپاره جلا جلا مخرج دی. د (ياء) لين مخرج اووم (۷) دی او د (واو) لين مخرج شپاړسم (۱۶) دی.

(۲) تشريح: دې شپږو (۶) حروفو (همزه، هاء، عين، حاء، غين، خاء) ته حروف اظهار او حروف حلقي ويل کيږي. دا شپږ (۶) حروف چي په ۲، ۳، او ۴ مخرج کي ذکر سوه، دې حروفو ته حلقي حروف ځکه ويل کيږي، چي دا حروف د حلق څخه ادا کيږي، او حروف اظهار بيا ځکه ورته ويل کيږي، چي هر کله د (نون) ساکن او تنوين (اً اٍ اٌ) وروسته يو ددې شپږو (۶) حروفو څخه راسي هلته اظهار کيږي، يعني (نون) ساکن او تنوين (اً اٍ اٌ) له خپله مخرجه بيله اخفاء او غنې ادا کيږي.

(۳) تشريح: لهاتيه د (لام) په زور سره دا هغه نرمه بې هډوکي غوښه ده، چي د هډوکي لرونکي تالو په اخيره حصه کي د ژبي پورته زړيږي، دې ته په پښتو کي حلقي ژبه يا ژبۍ ورته ويل کيږي.

(۴) تشريح:ـ حافه: د ژبي خاص هغي غاړي يا څنډي ته ويل کيږي، کوم چي د ژبي راسته او چپه طرف ته په خوله کي د حلق وخوا ته نږدې ده.

طرف لسان: د ژبي مخامخ کومه څنډه چي د مخاخ غاښونو سره ومښلي، دې ته طرف لسان يعني د ژبي کناره ويل کيږي. د (ضاد) په مخرج کي دې طرف ته هيڅ دخُل نسته.

خلاصه: لکه څرنګه چي عملاً د ژبي غاړه يا څنډه په مقابله د حافه لسان د زامو سره مښلول آسانه کار دی، ددې لپاره عموماً خلګ د طرف لسان او تالو څخه (ضاد) ادا کوي.

ketabton.com - The Digital Library



(۵) تشریح: حافه لسان او لوړي زامي د (ضاد) مخرج دی، رخاوت یعني په نرمي سره ادا کیدل یې په کار دي، د (دال) په رقم شدت یعني سختي باید نه وي د (ضاد) په ادا کیدلو کي، د مشدد یا ساکن کیدلو په حالت کي ددې حالت ښه معلومیږي، چي (ضاد) په نرمي سره ادا سو، که په سختۍ سره ادا سو. د نرم ادا کیدو علامه یې دا ده چي آواز به جاري وي، دا هم صحیح ده، او په داسي سخته ادا سره چي د (دال) په رقم سره آواز بند سي غلطه ده، مګر (ضاد) دي د (ظاء) د مخرج څخه هیڅلکه نه ادا کیږي، ځکه چي بیا به یو حرف په بل حرف سره بدل سي، لحن جلي به ځیني جوړه سي، لکه څرنګه چي د (دال) او داسي نورو ویل هم لحن جلي دی، نور وضاحت به د صفت استطالت په بیان کي راسي.

(۶) تشریح: همدغه ځای ته په اصطلاح کي ادنٰی حافه هم ویل کیږي، زموږ په فکر حافه هغه حصه ده، کوم چي د اضراسو سره ومښلیږي، که څه هم بعضي مصنفینو تَوَسُّعاً یا د مجاز لغوي په ډول باندي د حافه لسان په مفهوم کي د ژبي د راسته یا چپه اړخ وتولي کنارې یا غاړي ته حافه ویلې ده.

الف: د (ضاد) په مخرج کي حافه لسان او اضراس عُلیا دي. با: په صفت استطالت کي حافه لسان د ادا په وخت کي د مخرج د شروع څخه د مخرج تر اخیره پوري یعني د حافه زبان د اوله څخه تر اخیره پوري امتداد او اوږدوالی وي. جیم: حافه لسان اخیر هغه حصه سوه، کومه چي د اخیري زامي د غاښ یعني ضواحک سره مښلي، ځکه چي اضراس پر ضواحک باندي ختمیږي، له دې سببه حافه هم د ضواحک پر مقابل باندي ختمیدل په کار دي، ځکه که داسي نه وي، نو د صفت استطالت په تعریف کي د مخرج د شروع څخه تر اخیره پوري به بې معنا خبره سي، نو هر کله چي دا ثابته سوه، چي حافه صرف د اضراس د مقابل حصې نوم دی، نو خامخا د ثنایا، رباعی او انیاب مقابل طرف لسان یعني د ژبي کناره ګرځي.

علامه شاطبي (رحمة الله علیه) فرمایي: یو حرف د (لام) د ادنٰی حافې څخه تر مُنهتی لسان پوري دی.

(۷) تشریح: ذَلَق د (ذال) او (لام) په زور سره د ژبي طرف یا کنارې ته ویل کیږي.

(۸) تشریح: نِطع د (نون) په زیر سره او د (طاء) په زور سره د تالو ګونجو ګونجو ځایونو ته ویل کیږي، د قرب او نږدیوالي په خاطر دې حروفو ته نطعیه حروف ویل کیږي.

(۹) تشریح: لِـثَـةٌ د (لام) په زیر سره او د (ثاء) په زور سره وری ته ویل کیږي، د قرب او نږدوالي په خاطر دا نوم پر ایښوول سوی دی.

(۱۰) تشریح: د ثنایاعُلیا او ثنایا سُفلٰی غاړي یو ځای کیږي، له همدې امله صفیر یعني شپیلکی پیدا کیږي.

(۱۱) تشریح: د لاندي شونډي نس کوم چي د شونډو د بندوالي په وخت کي دننه پټ سي.

ketabton.com - The Digital Library



(۱۲) تشريح: د (واو) درې (۳) حالتونه او دوه (۲) مخرجونه سوه:- ۱: (أُوْ) (واو) مده دی، ددې مخرج جوف دهن دی. ۲: (آوْ) (واو) لين دی. ۳: (وَوِوُ) (واو) متحرک دی. د (واو) لين او متحرک مخرج انضمام شفتين (شونډان)، د (باء) او (ميم) مخرج اطباق شفتين دئ.

(۱۳) تشريح: غُنه د پزي په بيخ کي د هډوکي حصه ده، او يا هم د خيشوم څخه وتونکي غونې غنې آواز ته ويل کيږي، دا يو حرف نه دی، بلکي په (نون) او (ميم) کي د پيدا کيدو د يو حالت نوم دی، مګر بيا هم دا يو داسي حالت دی، چي په دې کي د حرف رقم يو مستقل شان پيدا کيږي، بيله څه حرف پيدا کيدو، که چيري يو څوک په پزه کي د غونې غنې آواز پيدا کيدل وغواړي کولای يې سي، له همدې سببه ددې آواز مخرج په مخرجو کي په مستقل ډول سره بيان سو، مګر بيا هم دا يو حقيقت دی، چي نه دا غونهاری مستقل وجود لري، نه دا حالت (نون) او (ميم) څخه جلا په بل حرف کي پيدا کيدای سي.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

## د ټولو مخارجو د ادا کيدو پنځه (۵) خاص ځايونه

**۱: حلق. ۲: لسان (ژبه). ۳: شفتين (شونډان). ۴: خيشوم (د پزي شپيلۍ). ۵: جوف دهن (د خولې خاليګاه).**

**اول ځای:** جوف (د خولې منځ) په نوموړي ځای پوري يو مخرج (۱) او درې (۳) حروف اړه لري.

۱:- مخرج : اول مخرج د جوف دهن دی، ددې مخرج څخه درې (۳) حروف ادا کيږي، چي د (واو، الف او ياء) څخه عبارت دي، البته چي مده وي، يعني دا چي دوی خپله وړغندی لرونکي وي او د مخکني حرف حرکت يې د خپله جنسه څخه وي، د (الف) جنس زور دی، د (واو) جنس پيښ دی او د (ياء) جنس زير دی، لکه: (نُوْحِيْهَا).

**دوهم ځای:-** حلق: په دې ځای پوري درې (۳) مخرجونه او شپږ (۶) حروف اړه لري. حلق پر درو (۳) برخو ويشل سوی دی:- الف: انتهاء حلق (د حلق اخرنۍ برخه). ب: وسط حلق (د حلق منځنۍ برخه). ج: ادناء حلق (د حلق اولنۍ برخه). د حلق حروف شپږ (۶) دي، (همزه، هاء، حاء، خاء، عين، غين).

۲:- مخرج: دغه مخرج د حلق هغه برخه ده، چي د سينې ولوري ته ده، ددې مخرج څخه دوه (۲) حروف ادا کيږي، چي د (همزه او هاء) څخه عبارت دي.

۳:- مخرج: دغه مخرج د حلق د منځ په برخه کي دی، ددې مخرج څخه هم دوه (۲) حروف ادا کيږي، چي د (عين او حاء) څخه عبارت دي.

۴:- مخرج: دغه مخرج د حلق په اولنۍ برخه کي دی، چي د خولې وخوا ته ده، ددې مخرج څخه هم دوه (۲) حروف ادا کيږي، چي د (غين او خاء) څخه عبارت دي.

**دريم ځای:** ژبه (لسان): په دې ځای پوري لس (۱۰) مخرجونه او اتلس (۱۸) حروف اړه لري.

ژبه: ژبه پر درو (۳) برخو ويشل سوې ده:- الف: د ژبي د پای برخه (انتهاء لسان) يا (اقطی لسان). ب: د ژبي منځ (وسط لسان) يا (شجراللسان). ج: د ژبي لومړنۍ برخه (ادنلی لسان) يا (راءس اللسان).

۵:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په آخرنۍ برخه کي دی، چي حلق ته نژدې دی، ددې مخرج څخه يوازي غبّ (قاف) ادا کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



۶:- مخرج: دغه مخرج د غټ (قاف) د مخرج څخه لږ لاندي د خولې خواته دی، د دغه مخرج څخه کوچنی (کاف) ادا کيږي.

۷:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په منځ کي دی، چي د پورتني تالو سره يو ځای سي، ددې مخرج څخه درې (۳) حروف ادا کيږي، چي د (جيم، شين، او ياء) څخه عبارت دي، البته چي (ياء) غيري مده وي.

۸:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په راسته يا چپه حافه يعني څنډه کي دی، چي د پورتنيو اضراسو غاښونو سره ولګيږي، ددې مخرج څخه (ضاد) ادا کيږي.

۹:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په څنډه کي دی، چي د ژبي اړخ (څنګ) سره د يو څه برخي چي د ثنايا، رباعی، انياب او ضواحکو غاښونو سره ولګيږي، ددې مخرج څخه (لام) ادا کيږي.

۱۰:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په طرف کي دی، البته د (لام) د مخرج څخه لږ لاندي دی، چي (نون) ځيني ادا کيږي.

۱۱:- مخرج: دغه مخرج د (نون) مخرج ته نژدې يو بل مخرج د (راء) دی، چي د ژبي د شا طرف هم په کښي لګيږي، ددې مخرج څخه (راء) ادا کيږي.

۱۲:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په څوکه کي دی، چي د ثناياعُليا د دننه طرف د وروسنتی برخي سره ولګيږي، ددې مخرج څخه دغه درې (۳) حروف ادا کيږي، چي د (طاء، دال او تاء) څخه عبارت دي.

۱۳:- مخرج: دغه مخرج د ژبي په څوکه کي دی، چي د ثناياعُليا د څوکو دننه لوري سره ولګيږی، ددې مخرج څخه درې (۳) حروف ادا کيږي، چي د (ظاء، ذال او ثاء) څخه عبارت دي.

۱۴:- مخرج: دغه مخرج هم د ژبي په څوکه کي دی، چي د ثنايا سفلی او ثناياعُليا د دواړو د څوکو دننه طرف سره ولګيږي، ددې مخرج څخه لاندي درې (۳) حروف ادا کيږي، چي د (صاد، سين، زاء) څخه عبارت دي.

**څلورم ځای:** شونډان (شفتين) دي، په دې ځای پوري دوه (۲) مخرجونه او څلور (۴) حروف اړه لري.

۱۵:- مخرج: دغه مخرج د لاندي شونډي منځ دی، چي د ثناياعُليا د څوکو سره ولګيږي، ددې مخرج څخه د (فاء) حرف ادا کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۶:- مخرج: دغه مخرج په دواړو شونډانو کي دی، ددې مخرج څخه (باء، ميم، واو) ادا کيږي، چي (واو) غير مده وي، البته (باء) او (ميم) د شونډو د اتصال (يو ځای کيدو) په وخت کي ادا کيږي، او (واو) په داسي ډول ادا کيږي، چي شونډان د غنچې (غوټۍ) په شان وي.

**پنځم ځای:** خيشوم (د پزي شپيلۍ) دی، د پزي بيخ دی، په دې ځای پوري يو مخرج اړه لري.

۱۷:- مخرج: دغه مخرج د پزي په آخرنی برخه کي دی، ددې مخرج څخه غُنه ادا کيږي، لکه د (ميم) او (نون) غُنه چي مشدد وي او داسي نوري غُنې چي پر ځينو حروفو باندي کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## د حروفو لقبونه

۱: جوفيه او هوائيه. ۲: حلقيه. ۳: لهاتيه. ۴: شجريه. ۵: نطعيه. ۶: لثويه. ۷: اسليه. ۸: ذلقيه. ۹: شفويه.

۱:- جوفيه: د مده درو (۳) حروفو ته جوفيه حروف ويل کيږي، ځکه دغه درې (۳) حروف د جوف څخه ادا کيږي، جوفيه حروف لکه: (واو، الف او ياء). هوائيه: پورتنيو درو (۳) حروفو ته هوائيه حروف هم ويل کيږي، ځکه چي په هوا کي ادا کيږي او پر دوی مد هم کيږي، ځکه مده حروف ورته ويل کيږي، يا په بل عبارت لکه څرنګه چي د دوی په ادا ينه کي آواز د جوفه راوځي، جوفيه حروف ورته ويل کيږي او بيا چي آواز په هوا کي تماميږي، هوائيه حروف ورته ويل کيږي.

۲:- حلقيه: شپږو (۶) حلقي حروفو ته حلقيه حروف ويل کيږي، ځکه چي دوی د حلق څخه ادا کيږي، او دې حروفو ته د اظهار حروف هم ويل کيږي، حلقيه حروف لکه: (همزه، هاء، حاء، خاء، عين، غين).

۳:- لهاتيه: لهاتيه حروف دوه (۲) دي، چي د (قاف) او (کاف) څخه عبارت دي، ځکه لهاتيه حروف ورته ويل کيږي، چي دا حروف د لهات څخه ادا کيږي. د يادوني وړ ده: لهات د غوښو يوه ټوټه ده، په لوړ تالو پوري ځړيږي، چي په دوديزه اصطلاح کي حلقۍ ژبه ورته وايي. حلقۍ ژبه: حلق ته نژدې د را ځړيدونکي غوښي څخه عبارت ده، چي (قاف) او (کاف) ځيني ادا کيږي.

۴:- شجريه: شجريه حروف درې (۳) دي، چي د (جيم، شين، ياء) څخه عبارت دي، البته هغه (ياء) چي مده نه وي، دې حروفو ته ځکه شجريه حروف ويل کيږي، چي دوی د خولې د شجر څخه ادا کيږي، يعني د خولې په دننه حصه کښي، د ژبي او لوړ تالو په منځ کي چي کومه خالي حصه ده، هغې ته په عربي ژبه کي شجر ويل کيږي.

۵:- نطعيه: نطعيه حروف درې (۳) دي، چي د (طاء، دال، تاء) څخه عبارت دي، ځکه نطعيه حروف ورته ويل کيږي، چي نطع په عربي ژبه کي د تالو څنډو ته ويل کيږي، څرنګه چي دا حروف د تالو د منځنۍ حصې څخه ادا کيږي، چي نطعې ته نژدې دي، له دې امله نطعيه حروف ورته ويل کيږي.

۶:- لثويه: لثويه حروف درې (۳) دي، چي د (ظاء، ذال، ثاء) څخه عبارت دي، دې حروفو ته ځکه لثويه حروف وايي، چي لثوه د ورۍ په معنا ده، دا حروف د ژبي او د ثناياعُليا غاښونو د سرنو د يو ځای والي په وخت کي ادا کيږي، لثويه د نژدې والي له امله ورته ويل کيږي.

۷:- اسليه: اسليه حروف درې (۳) دي، چي د (صاد، زاء، سين) څخه عبارت دي، دې حروفو ته ځکه اسليه حروف ويل کيږي، چي اسل د ژبي لاندي حصې ته ويل کيږي، دا حروف د ژبي د لاندي حصې څخه ادا کيږي، دې حروفو ته صفيريه حروف هم ويل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



۸:- ذلقیه: ذلقیه حروف شپږ (۶) دي، چې د (فاء، راء، میم، نون، لام، باء) څخه عبارت دي، ځکه ذلقیه حروف ورته ویل کیږي، چې ذلق په عربي ژبه کې طرف ته ویل کیږي، دا حروف هم د ژبې د سر او طرف څخه ادا کیږي، ځکه ذلقیه او طرفیه حروف دواړه ورته ویل کیږي.

۹:- شفویه: شفویه حروف څلور (۴) دي، چې د (فاء، باء، میم، واو) څخه عبارت دي، البته متحرک او د لین (واو) مطلوب دی، ځکه شفویه حروف ورته ویل کیږي، چې شفت معنا شونډان او دا حروف د شونډانو څخه ادا کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



# پنځمه (۵) روښنائي

## صفتونه

صفت په لغت کي هغه شی دي، چي په بل شي پوري تړلی وي، او په اصطلاح کي يو کيفيت دی، چي حروف ته ورپيښيږي هغه وخت چي په خپل مخرج کي ادا سي. او يا هم په کومو کيفيتو سره چي حروف ادا کيږي، دې کيفيتو ته صفتونه ويل کيږي.

صفات پر دوه (۲) ډوله دي:- ۱: ذاتيه، لازمه، مميزه او مقومه صفتونه. ۲: مُحَسّنَه، مُزيّنَه، مُحليَّه او عارضه صفتونه.

۱:- ذاتيه، لازمه، مميزه او مقومه صفتونه: وهغه صفتونو ته ويل کيږي، چي که چيري دغه صفتونه و حروفو ته ورنه کړل سي، حروف به اداء نه سي يا به نيمګړي اداء سي.

۲:- مُحَسّنَه، مُزيّنَه، مُحليَّه او عارضه صفتونه: وهغه صفتونو ته ويل کيږي، چي که چيري دغه صفات و حروفو ته ورنه کړل سي، حروف خو به اداء سي، مګر ښائست به يې له منځه ولاړ سي، لکه: د (راء) ډک والی او داسي نور....

ټول صفتونه اوولس (۱۷) دي، چي په هغه کي لس (۱۰) متضاد صفتونه دي، او اووه (۷) غير متضاد صفتونه دي.

د مخرج څخه د وتلو په وخت کي د حرف په آواز کي چي کوم کيفيت يا حالت پيدا کيږي، لکه: د ساه جاري کيدل، پورته والی د آواز او داسي نورو ته صفت ويل کيږي.

د کيفيت په لحاظ لازمه صفتونه پر دوه (۲) ډوله دي:

الف:- قوي صفات: قوي صفات يوولس (۱۱) دي، چي د (جهر، شدت، استعلاء، اطباق، اصمات، قلقله، صفير، انحراف، تکرير، تفشي او استطالت) څخه عبارت دي.

با:- ضعيف صفات: ضعيف صفات شپږ (۶) دي، چي د (همس، رخوت، استفال، انفتاح، اذلاق، او لين) څخه عبارت دي.

يادونه: توسط نه په قوي صفتونو کي دی، او نه په ضعيف صفتونو کي دی.

په حروفو کي د صفاتو اغيز: د صفاتو اغيز په حروفو کي د ساه جاري کيدل، بنديدل، د حروفو ډک والی، باريک والی او داسي نور... دي.

ketabton.com - The Digital Library



په هر حرف کي د صفاتو شمیر: په هر حرف کي پنځه (۵) صفته د متضاد صفتونو څخه راځي، او په غیر متضاد صفتونو کي کله یو کله دوه او کله نه وي، او زیاته اندازه یې چي په یوه حرف کي د متضاد صفتونو څخه راځي، اووه (۷) صفتونه دي، چي یوازي په (راء) کي راتلای سي، په پاته حروفو کي په ځینو کي شپږ (۶) صفتونه او په ځینو کي پنځه (۵) صفتونه وي، البته تر پنځو (۵) کم نه سي راتلای، ځکه چي متضاد صفتونه پنځه (۵) دي او پنځه (۵) یې ضد دي.

متضاد صفتونه: متضاد صفتونه وهغه صفتونو ته ویل کیږي، چي د هغو لپاره ضد وي. متضاد صفتونه پنځه (۵) دي او پنځه (۵) یې ضد دي، چي ټول لس (۱۰) صفتونه کیږي، یعني کوم وخت چي د متضاد صفتونو څخه یو صفت په یوه حرف کي راسي، نوموړي حرف ته د دغه صفت ضد عارضیدل شونی نه وي، متضاد صفتونه د لاندینیو صفتونو څخه عبارت دي:

۱: همس چي ضد یې جهر دی. ۲: شدت چي ضد یې رخوت او توسط د دواړو په منځ کي دی. ۳: استعلاء چي ضد یې استفال دی. ۴: اطباق چي ضد یې انفتاح دی. ۵: اذلاق چي ضد یې اصمات دی.

په حرف کي د صفت معلومولو طریقه: د حروفو مجموعې ته ګورو، که چیري هغه مطلوب حرف په کښي وو، نو هدف ته به رسیدلي یو، که نه وو نو په ضد کي یې حتماً سته.

د لازمه صفت تعریف: دا هغه صفت دی، چي په حرف کي همیشه پیدا کیږي، که چیري هغه صفت ادا نه سي، نو حرف به پاته نه سي، یا به ناقص ادا سي، که څه هم دوی ته صفات ممیزه (هغه حرف چي په مخرج کي ګډون لري) او مقومه (د حروفو قِوام او ثبوت) ته ویل کیږي، مګر ډیر د علم خاوندان صفات لازمه ورته وایي.

د صفت عارضه تعریف: دا هغه صفت دی، چي په حرف کي کله وي او کله نه وي، که چیري دا صفت په حرف کي پیدا نه سي، نو حرف خو به هغه حرف وي، مګر د هغه حرف حُسن او ښایسته والی به پاته نه سي، که څه هم دې صفتونو ته مُزینه (ښایست ورکوونکی) او مُحلیَّه (ګینه ورکوونکی) صفتونه هم ویل کیږي، مګر اکثره خلګ صفات عارضه ورته وایي.

اوس چي کوم صفتونه شروع کیږي، هغه متضاده یعني یو د بل سره ضد دي، دا صفتونه ټول لس (۱۰) دي، ۱: همس. ۲. جهر. ۳: شدت. ۴: رخوت. ۵: استعلاء. ۶: استفال. ۷: اطباق. ۸: انفتاح. ۹: اذلاق. ۱۰: اصمات.

۱:- **هَمس**[1]**:** په لغت کي پټولو ته وایي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي، هغو حروفو ته مهموسه حروف ویل کیږي، مهموسه حروف هغه حروف دي چي د دوی د ادایني په وخت

ketabton.com - The Digital Library



کي په مخرج کي آواز په داسي کمزوری سره ودریږي، چي ساه جاري وي او په آواز کي يو ډول کښته والی راسي، مهموسه حروف لس (۱۰) دي، چي مجموعه يې دا ده: (فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَکَتَ).

۲:- **جَهْر**[۲]**:** په لغت کي ښکاره کولو ته وايي، په کومو حروف کي چي دا صفت پيدا سي، هغو ته مجهوره حروف ويل کيږي، مجهوره حروف هغه حروف دي، چي ددې حروفو د اداينې په وخت کي په مخرج کي آواز په داسي قوت سره ودريږي، چي ساه بنده وي، او په آواز کي يو ډول لوړوالی راسي، د مهموسه وو څخه ماسيوا نور ټول حروف مجهوره دي، جهر او همس صفتونه يو د بل ضد دي، مجهوره حروف (۱۸) دي، چي مجموعه يې دا ده: (عظم وزن قاری ذی غض جذ طلب).

۳:- **شِدت**[۳]**:** په لغت کي سختي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** حروفو ته شديده حروف ويل کيږي، شديده **هغه** حروف دي چي د اداينې په وخت کي په مخرج کي آواز په سختي سره ودريږي، او د آرامتيا په وخت کي آواز پرې بند سي، نوموړي حروف اته (۸) دي، چي مجموعه يې دا ده: (اَجِدُکَ قَطَبْتَ).

۴:- **رِخوت**[۴]**:** په لغت کي سستوالي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** ته رخوه حروف ويل کيږي، د رخوه حروفو د اداء کيدو په وخت کي آواز په مخرج کي په داسي کمزوری سره ودريږي، چي آواز جاري وي، او په آواز کي يو قسم نرمي وي، د شدت او توسط څخه ماسيوا نور ټول حروف رخوه دي، د متوسطه وو بيان به وروسته راسي، د همس او جهريه په رقم شدت او رخوت هم دواړه يو د بل ضد دي، ددې دواړو صفتوتو په منځ کي يو صفت بل دی، رخوه حروف شپاړس (۱۶) دي، مجموعه يې دا ده: (خُذْ غَثَّ حَظِّ فَصَّ شَوْصٍ زَیَّ سَاهٍ).

**توسط:** په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** حروفو ته متوسطه او بينيه حروف ويل کيږي، په دې حروفو کي آواز نه پوره بند وي او نه پوره جاري وي، نوموړي حروف پنځه (۵) دي، چي مجموعه يې دا ده: (لِنْ عُمَرَ) ژباړه: نرم سه ای عمره. او توسط جلا صفت نه دی، ځکه چي د رخوت او شدت په منځ کي يو حالت دی.

يادونه: په دې ځای کي يوه شبه پيدا کيږي، هغه دا چي حرف (تاء) او حرف (کاف) يې په مهموسه وو کي هم حساب کړي دي، حالانکي په دې کي آواز بنديږي او ددې سببه يې په شديده وو کي هم حساب کړی دی، ددې جوب دا دی: په دې دواړو حرفو کي همس کمزوری او شدت زورور دی، نو د شدت د قوي کيدو له سببه خو آواز بند سي، مګر د لږ همس کولو وروسته يو څه لږ اندازه ساه هم جاري وي، مګر په دې ساه جاري کيدو کي دا احتياط ساتل په کار دی، چي آواز جاري نه سي، ځکه که چيري آواز جاري سي، نو (کاف) او (تاء) به شديده نه سي، بلکي رخوه به سي، او دوهم دا چي په دې کي به د (هاء) آواز پيدا سي، غلط به سي.

ketabton.com - The Digital Library



۵: **اِسْتِعْلاء**[۵]**:** په لغت کي لوړوالي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** حروفو ته مستعليه حروف ويل کيږي، د مستعليه حروفو د ادا کيدو په وخت کي هميشه د ژبي پای (بيخ) پورته تالو ته لوړيږي، چي د لوړيدو له امله دا حروف ډک ويل کيږي، حروف يې اووه (۷) دي، مجموعه يې دا ده: (خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ). ژباړه: خاص سوی دی قبر لپاره د تنګي ته ورته بيداره سه.

۶:- **اِستِفالْ:** په لغت کي ټيټوالي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** حروفو ته مستفله حروف ويل کيږي، د مستفله حروفو د ادا کيدو پر مهال د ژبي بيخ لوړ تالو ته نه پورته کيږي، د نه پورته کيدو له کبله باريک ويل کيږي، دا داوړه صفتونه استعلاء او استفال هم داوړه د يو بل ضد دي، د مستعليه حروفو څخه ماسيوا نور ټول دوويشت (۲۲) حروف مستفله دي، چي مجموعه يې دا ده: (ثَبَتَ عِزُّ مَنْ يَجُوِّ دُ حَرْفَهُ اِذْ سَلَّ شَكاًّ).

۷:- **اِطْبَاق** [۶]**:** په لغت کي نښليدو (منطبيقيدو) ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، هغو حروفو ته مطبقه حروف ويل کيږي، د مطبقه حروفو د ادا کيدو په وخت کي د ژبي منځ د پورته تالو سره مښلي يعني (مُلصَق) سي، دا حروف څلور (۴) دي، چي مجموعه يې دا ده: (ص، ض، ط، ظ).

۸:- **اِنفتَاحْ:** په لغت کي خلاصوالي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو** حروفو ته منفتحه حروف ويل کيږي، د منفتحه حروفو د ادا کيدو په وخت کي د ژبي منځ د پورته تالو څخه جلا وي، که د ژبي بيخ د پورته تالو سره ومښلي، لکه څرنګه چي په (قاف) کي لګيږي، او که ونه لګيږي، هغو ته منفتحه حروف ويل کيږي، دا دواړه صفتونه اطباق او انفتاح هم يو د بل سره ضد دي، د مطبقه حروفو څخه ماسيوا پاته پنځويشت (۲۵) حروف منفتحه دي، چي مجموعه يې دا ده: (مَنْ اَخَذَ وَجَدَ سِعَةً فَزَ كاًّ حَقٌّ لَهُ شِرْبُ غَيْثٍ).

۹:- **اِذْلاقْ:** په لغت کي تيزي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، **هغو حروفو** ته مذلقه حروف ويل کيږي، مذلقه حروف د ژبي او شونډانو د اړخ څخه ډير ژر او په آسانۍ سره ادا کيږي، حروف يې شپږ (۶) دي، چي مجموعه يې دا ده: (فَرَّ مِنْ لُبِّ). يعني په دې کي چي کوم حروف (فاء، ميم، باء) شفوي دي، هغه د شونډو د کنارې څخه ادا کيږي، د شفويه مطلب په شپاړسم (۱۶) مخرج کي تير سوی دی، او کوم حروف چي يعني (لام، نون، راء) شفويه نه دي، هغه د ژبي د کنارې څخه ادا کيږي.

۱۰:- **اِصْمات**[۷]**:** په لغت کي چوپ والي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، هغو حروف ته مصمته حروف ويل کيږي، مصمته حروف د خپل مخرج څخه په سختۍ سره ادا کيږي، په آسانۍ سره نه ادا کيږي، د مذلقه حروفو څخه ماسيوا پاته درويشت (۲۳) حروف

ketabton.com - The Digital Library



مصمته حروف دي، چي له (جُزْ غَشَّ سَاخِطٍ صِدْ ثِقَةً اِذْ وَعْظُهُ يَحَضّكَ) څخه عبارت دي، دا دواړه صفتونه اذلاق او اصمات یو د بل ضد دي.

د لسو (۱۰) متضاده صفاتو څخه چي نويشت (۲۹) حروف په کښي ذکر سوي دي، په هر حرف کښي پنځه (۵) پنځه (۵) صفتونه پيدا کيدل ضروري دي، دا صفتونه پنځه (۵) جوړې دي، هيڅ يو حرف د دوی څخه خالي نه سي پاته کيدای، د هري جوړې څخه به یو صفت په کښي کي وي، او د مقابل يعني ضد صفت به کښي نه وي.

پورته لسو (۱۰) ذکر سوو صفتونو ته لازمه متضاده صفات ويل کيږي، ځکه چي لس (۱۰) سره يو د بل ضد دي، او مخکي چي کوم (۷) صفتونه راتلونکي دي، هغوی غير متضاده يعني يو د بل ضد نه دي، د متضاده صفاتو څخه هيڅ حرف خالي نه پاته کيږي، بلکي څومره حروف چي دي، پر هر حرف باندي د مقابل يعني ضد صفتونو څخه څه نا څه صفت صادقيږي، او صفات غيري متضاده به په بعضو حروفو کي وي، او په بعضو کي به نه وي. اوس چي کوم صفتونه شروع کيږي، هغه غير متضاده يعني يو د بل سره ضد نه دي، دا صفتونه ټول اووه (۷) دي.

غيري متضاد صفتونه: وهغه صفتونو ته ويل کيږي، چي د هغو لپاره ضد نه وي، يعني د دغه صفتونو په لړ کي که يو حرف په يو صفت موصوف سي، په بل صفت هم موصوفيږي، غيري متضاد صفتونه اووه (۷) دي، چي ددې صفتونو څخه عبارت دي:- ۱: صفير. ۲: قلقله. ۳: لين. ۴: انحراف. ۵: تکرير. ۶: تفشي. ۷: استطالت.

۱۱:- **صَفِيْر**[۸]**:** په لغت کي شپيلکي ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، هغو حروفو ته صفيريه حروف ويل کيږي، صفير هغه ږغ دی چي د ثنايا غاښونو او ژبي څخه راوځي، دا درې (۳) حروف دي، چي د (صاد، سين، زاء) څخه عبارت دي، ددې حروفو د ادا کيدو په وخت کي يو تيز ږغ د شپيلکي په شان د مخرج څخه راوځي.

۱۲:- **قلقله:** په لغت کي خوځښت او ښوريدو ته وايي، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، هغو ته حروف قلقله ويل کيږي، او په اصطلاح کي تکان ورکول دي، ساکن حرف ته په خپل مخرج کي، او يا هم د سکون په حالت کي ددې حروفو د ادا کيدو په وخت کي په مخرج کي [۹] حرکت پيدا کيږي، د قلقله صفت حروف پنځه (۵) دي، چي مجموعه يې دا ده: (قُطْبُ جَدٍّ).

۱۳: **لين:** په لغت کي د نرمۍ په معنا دی، په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي، هغو حروفو ته حروف لين ويل کيږي، د لين حروف د خپل مخرج څخه په داسي نرمۍ سره ادا کيږي، چي که چيري څوک وغواړي مد پرې وکړي، پرې کولای يې سي[۱۰]، او د مد حروف يې دوه (۲) حروف دي (واو) او (ياء) په داسي حال کي چي دوی خپله ساکن وي، او د مخکنۍ حرف حرکت يې زور وي، لکه: (مِنْ خَوْفٍ، وَالصَّيْفِ).

ketabton.com - The Digital Library



۱۴:- **اِنحَرافْ:** په لغت کې کوږوالي ته وايي، په کومو حروفو کې چې دا صفت پيدا سي، هغو حروفو ته منحرفه حروف ویل کیږي، حروف يې دوه (۲) دي، (لام، راء) چې د ادا کولو په وخت کې ژبه د تالو خواته نژدې کوي، په انحراف کې د (راء) د ادا کیدو په وخت کې آواز د ژبې د شا وخواته ګرځي، او د (لام) د ادا کیدو په وخت کې آواز د ژبې د سر وخواته [11] ګرځي.

۱۵:- **تکریر**[12]**:** په لغت کې ریږدیدلو ته وايي، دا صفت یوازې په (راء) کې پيدا کیږي، ددې صفت د ادا کیدو په وخت کې په ژبه کې یوه لړزه یعني ریږدیدل وي، له دې سببه په دغه حرف کې د تکرير مشابهت وي، مطلب دا نه چې په دې حرف کې تکرار ښکاره کړل سي، بلکې ددې څخه ځان ساتل په کار دي، که څه هم پر دې (راء) باندې تشدید وي، ځکه چې دا بيا هم یو حرف دی، زيات حرفونه نه دي.

۱۶:- **تفشّي:** په لغت کې شيندلي او پاشلي ته وايي، دا صفت یوازې په (شين) کې پيدا کیږي، مطلب دا چې د (شين) د ادا کولو په وخت کې آواز دننه په خوله کې پاشل کیږي.

۱۷:- **اِستَطالتّ:** په لغت کې اوږدوالي ته وايي، دا صفت یوازې په (ضاد) کې پيدا کیږي، مطلب دا چې د (ضاد) په ادا کولو کې د مخرج د شروع څخه بيا د مخرج تر اخیره پورې، یعني د ژبې د حافې [13] د اول څخه تر اخره پورې آواز جاري کيدل وي، او يا ټول لوړ اضراس غاښونه د راسته زامي يا د چپه زامي نيسي، یعني د (ضاد) د مخرج چې څومره اوږد دی، نو په پوره مخرج کې د آواز د جاري کیدو له سببه به آواز هم اوږد سي.

ځيني مهمي يادوني:

۱:- یادونه: که چيري د يو چا شک وي، چې دا اووه (۷) صفتونه چې په اخير کې ذکر سوه، په کومو حروفو کې چې دا صفتونه نه وي، نو په هغو کې به ددې صفتونو ضد ضروري وي.

مثلاً: په (ضاد) کې صفت د استطالت دی، نو په پاته ټولو حروفو کې به عدم استطالت وي، دا دواړه ضد صفتونه چې سره یو ځای سوه، نو ټولو حروفو ته شامل سوه، بيا د صفات لازمه متضاده او غیر متضاده وو څه فرق سو؟

جواب: دا خو صحيح ده، مګر په صفاتو متضاده وو کې د هر صفت د ضد يو څه نه يو څه نوم وو، او د دواړو نومو څخه به پر هر حرف باندې يو څه نه يو څه نوم صادق کیدی، دلته څرنګه چې د ضد نوم نسته، له دې وجهي د ضد د صادق کيدلو اعتبار ونه کړل سو، په دې دواړو صفتو کې دا فرق سو.

۲:- یادونه: صرف د مخارجو او صفاتو د کتلو په وجه په صحيح ادا کیدو باور مه کوی، بلکې د مخرجو او صفتو د صحيح ادا کيدلو لپاره د یو تکړه اُستاد څخه استفاده کول ډیر

ketabton.com - The Digital Library



ضروري دي، البته که چيري داسي يو أُستاد پيدا نه سو، نو د مطلق بې خبره پاته کيدو پر ځای د کتابونو څخه د تجويد زده کول هم يو غنيمت دئ.

۳:- يادونه: ددې روښنائي په اول کي د صفت لازمه ذاتيه په تعريف کي ليکل سوي دي، چي که چيري هغه صفت ادا نه سي، نو هغه حرف به پاته نه سي، د حرف نه پاته کيدل پر څو ډوله دي:- ۱: په بل حرف بايد بدل نه سي[۱۴]. ۲: هغه حرف خو به وي، مګر په دې حرف کي بايد څه کمي او نقصان [۱۵] راسي. ۳: حرف بايد عربي حرف پاته سي، د ځانه جوړ سوی حرف بايد نه سي. همدا خبره ده چي د صحيح مخارجو څخه د حروفو د نه ادا کولو په وخت کي کله يو حرف سي او کله بل حرف سي، کله په حرف کي کمي راسي او کله بلکل د ځانه جوړ سوی حرف سي، په داسي غلطيو سره بعضي وخت لمونځ فاسديږي، له دې سببه که چيري داسي غلطي وسي، نو د يو معتبر عالم څخه ددې مسئلې پوښتنه کول ضروري ده، همدارنګه د زور، زير او پيښ کمول يا اضافه کولو غلطيو حکم همدا دی، چي مثالونه يې په دوهمه (۲) روښنائي کي ذکر سوي دي، که چيري د زور، زير، پيښ او يا داسي نورو غلطي در څخه وسي، نو د يو معتبر عالم څخه ددې مسئلې پوښتنه کول هم ضروري ده.

۴:- يادونه: د حروفو په مخرجو او صفات لازمه وو کي چي کومي کوتاهی کيږي، د هغو کوتاهيو لکبله غلطۍ کيږي، د تجويد د علم مقصد د غلطيو څخه ځان ساتل دي، له همدې سببه مي د مخرجو او صفاتو بيان د ټولو قواعدو څخه دمخه ذکر کړی، اوس د صفات [۱۶] محسنه اړوند قاعدې راځي، هغه ددې ذکر سوي مقصد څخه په دوهمه درجه کي دي، مګر اوس په عامه توګه ددې دوهمي درجې د قواعدو لحاظ تر هغه اصلي مقصد زياتيږي، د هغه وجه دا ده: په دې قواعدو سره آواز ښايسته کيږي، عام خلګ د آواز ډير خيال ساتي، د مخارجو او صفات لازمه وو په آواز کي هيڅ دخُل نسته، له همدې سببه دې ته توجه کمه کوي.

۵: يادونه: د قرآن کريم د تلاوت کولو په وخت کي تجويد په نظر کي نه نيول دا يوه لويه بې پرواهي ده، همدارنګه ځيني اشخاص لږ قاعدې زده کړي، بيا نو خپل ځان کامل قاري بولي، نور خلګ حقير، خوار او د هغو لمونځونه فاسد ګڼي، يا په چا پسي لمونځ نه کوي، محقق علماء کرامو د عامو مسلمانانو د ګناه کاره کيدو او د هغوی د لمونځونو د نه صحيح کيدو حکم نه دی کړی، په دې کي د اعتدال درجه غوره کول د هغو علماء کرامو کار دی، کوم چي د قرائت ضروري ګڼلو سره سره په احاديثو او فقه کي هم علم ولري، ددې مسئلې تحقيق په دوهمه (۲) روښنائي کي کتلای سی.

حاشيه..........................................................................!

(۱) تشريح:- د هَمس (جاري آواز چي کښته والی ولري) صفت تعريف: په مخرج کي آواز په داسي کمزورۍ سره ودريږي، چي ساه جاري وي، او په آواز کي کښته والی وي، دا مفهوم

ketabton.com - The Digital Library



د لغت په مرسته سره د هَمس د لفظ څخه نه معلومیږي، او ساه جاري کیدل په تعریف کي داخل ګڼل په کار نه دي، بلکي ساه جاري کیدل یې علامه ده، چي مهموسَه حرف ساکن ادا کړل سي. مثلاً: (اَثْ) نو په کمزوره آواز سره د ساه هوا راځي، ځکه چي د ساه څخه یو څه آواز جوړ سي، او یو څه پر خپل تنفسي حالت باندي قائمه سي.

(۲) تشریح:- د جَهْر (لوړ آواز) تعریف: په مخرج کي چي آواز په داسي قوت سره ودریږي، چي ساه جاري وي، او په آواز کي یو رقم لوړوالی وي. مطلب یې دا دی: هر کله چي مجهوره حرف ساکن ادا کړل سي. مثلاً: (اِذ) نو په دې کي به ټول آواز لوړ سي، ځکه چي ټوله ساه آواز جوړه سي.

(۳) تشریح:- د شدت تعریف: سختوالی یعني په مخرج کي په داسي سختي سره آواز ودریږي، چي که چیري په ساکن حالت کي د حرف آواز جاري ساتل وغواړې، نو دا ممکن نه وي، خلاصه دا چي حرف په سختوالي سره ادا سي، او آواز بند سي په حالت د سکون کښي، لکه: (اَقْ) دا درې (۳) علامي سوې.

(۴) تشریح:- د توسط تعریف: په مخرج کي آواز په داسي ضعف سره ودریږي، چي په آواز کي نرمي وي، او د نرمي علامه دا ده، چي د سکون په حالت کي د رِخوه حرف آواز جاري سي، لکه: (اَسْ) یعني نه د شدیده په رقم سختي وي، او نه د رخوه په رقم نرمي وي، بلکي د دواړو په منځ کي یو منځنی حالت وي، خلاصه دا چي په دې صفت کي شدت ناقصه او رِخوت ناقصه پیدا کیږي.

دا اعتراض داسي مفروضي واردیږي، چي آواز او ساه یو د بل سره لازم او ملزوم دي، په (کاف) او (تاء) کي چي د شدت له سببه آواز بند سي، نو د همس په وجه ولي ساه جاري کیږي؟

جواب: ساه بندیدل هم په کار دي، او همدارنګه دا دواړه حرفونه په مجهوره وو حروفو کي حسابل په کار دي، نه په مهموسه وو حروفو کي، لکه څرنګه چي د (کاف) او (تاء) څخه ماسیوا پاته شپږ (۶) حرفونه شدیده او مجهوره دي.

د (کاف) او (تاء) د سکون په حالت کي باید آواز بند سي، په داسي طریقه چي په (کاف) کي د ژبي بیخ پر لوړ تالو باندي په ټینګه سره مښلي، او په (تاء) کي د ژبي څوکه پر ثنایاعُلیا باندي په ټینګه سره مښلي، او هر کله چي آواز بند سي، د ژبي څوکه یا بیخ جلا سي، نو ساه لږ په خپله جاري سي، دغه همس دی، دا د موضوع اړوند تحقیقي جواب سو.

د موضوع دوهم جواب داسي کیدای سي: صفت د شدت او همس یو د بل سره هیڅ تضاد نه لري، ځکه چي مسموع کیږي، مګر آواز او ساه نه اوریدل کیږي، د آواز د بندولو سره د ساه

ketabton.com - The Digital Library



د بندولو هيڅ لزوم نسته، بلکي دا دواړي خبري په يو وخت کي ممکن دي، که چيري يو سړی خاموش وي، يعني د هغه آواز بند وي، نو آيا د هغه د ساه بندول هم ضروري دي، ښکاره خبره ده، چي داسي نه ده، نو بيا تضاد هم نسته.

(۵) تشريح: د استعلاء مرتبې: د استعلاء پنځه (۵) مرتبې دي:
۱:- استعلاء اعلیٰ: کله چي د استعلاء حرف مفتوح يعني زور ولري او وروسته يې (الف) هم وي، نو دا درجه د اعلیٰ استعلاء ده، يعني ډيره لويه استعلاء ده، لکه: (قَالَ، مِرْصَادِ).

۲:- استعلاء عالی: کله چي د استعلاء حرف مفتوح وي او وروسته يې (الف) نه وي راغلی، نو دا استعلاء تر اول ډول کمه ده، لکه: (لَقَدْ، بِالصَّبْرِ).

۳:- استعلاء اوسط: کله چي د استعلاء حرف پيښ ولري، لکه: (فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ، بَعْضُكُم، وَقُتِلُواْ) دا استعلاء اوسطه ده، يعني ميانه درجه لرونکې ده.

۴:- اسعلاء وسطیٰ: کله چي د استعلاء حرف وړغندی لرونکی وي، او مخکنی حرف يې زور يا پيښ ولري، لکه: (مَافَرَضْتُمْ، عُقْدَةُ، أَقْرَبُ، وَلَا تَنسَوُاْ الْفَضْلَ) نوموړې مرتبه د استعلاء وسطیٰ په نامه نومول سوې ده، تر ميانه درجې يو څه ټيټه او تر ادنیٰ درجې يو څه لوړه درجه ده.

۵: استعلاء ادنیٰ: کله چي د استعلاء حرف زير ولري، لکه: (وَبَـٰطِلٌ، قِيلَ) دا استعلاء د ادنیٰ په نامه ياديږي، يعني ټيټه استعلاء.

(۶) تشريح: د اطباق تعريف: په عربي کي راچاپيره کيدل او بندول دي، يعني د حروف مطبقه د ادا کيدولو په وخت کي ژبه د تالو د غار سره راچاپيره سي، چي له دې سببه دا حروف ښه ډک ويل کيږي.

(۷) تشريح:- ۱: د اصمات څخه اسم مفعول مراد دی.

(۸) تشريح: د طرف لسان او ټولو څلورو (۴) ثنايا وو غاښونو د اتصال او يو ځای والي څخه حروف صفير راوځي، ددې درو (۳) سره حروفو قدرتي مخرج داسي دی، چي آواز په خپل مخرج کي محدود سي، او د شپيلکي د آواز سره مشابه سي.

(۹) تشريح: دا قاعده ده چي د دوو (۲) اندامو د جنګيدو سره يو د بله په مخرج کي حرکت پيدا کيږي، ددې اصولو مطابق د حروفو قلقله څخه ماسيوا په نورو ټولو حروفو کي د سکون په حالت کي داسي ادا کيږي، چي د دوو (۲) اندامو ټکر سره پيدا سي، آواز ختم سي، په مخرج کي يو رقم حرکت نه پيدا کيږي، او د قلقله حروفو په بحث کي صرف دا خبره نه ده، بلکي په مخرج کي د آواز پيدا کولو څخه وروسته يو نوی تحرک پيدا کولو سره دوهم وار

ketabton.com - The Digital Library



آواز پیدا کول وي، خلاصه دا چي دا هم یو قول دی، چي ومخرج ته حرکت وي، او دا هم ویل سوي دي، چي آواز ته حرکت وي، ځکه چي د یو قوي یو ځای والي ښخه وروسته دفتعاً انفکا او جلاوالی راسي آواز بند سي، د قلقلې مصداق هم دا دوهم وار پیدا کیدونکی آواز دی، په هر صورت قلقله د دوو (۲) قوي صفتونو ښخه یعني د جهر او شدت د جمع کیدلو په وجه سره کیږي، او قلقله په داسي لوړ آواز سره کول په کار دي، چي بل ښوک یې هم واوري، صرف په خپل ځان اوریدل په کار نه دي.

قلقله پر دوه (۲) ډوله ده:- ۱: قلقله کُبرٰی. ۲: قلقله صغرٰی

۱:- قلقله کُبرٰی (غټه قلقله): که چیري د قلقلې د حرف سکون عارضي وو، یعني د وقف له کبله ساکن وو، نو قلقله کُبرٰی پرې کیږي، یعني هغه وخت قلقله کُبرٰی پرې کیږي، چي وقف باندي وکړل سي او په حالت د وصل کي قلقله کُبرٰی په هیڅ ځای کي نه کیږي، لکه: (عَذَابٌ، مِنْ وَاقٍ، رَّشِیدٌ، خَلَـٰقٍ، مُحِیطٌ).

۲:- قلقله صغرٰی (کوچنی قلقله): که چیري د قلقلې د حرف سکون اصلي وو، یعني د وقف له کبله نه وو ساکن، نو قلقله صغرٰی پرې کیږي، لکه: (خَرَجْتَ، لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ) کوچنی قلقله د وقف او وصل په دواړو حالتونو کي کیږي.

د قلقلې مرتبې: د قلقلې پنځه (۵) مرتبې دي:

۱:- قلقله اعلیٰ: دا هغه قلقله ده، چي د قلقلې حرف مشدد وي، او وقفورباندي وسي، لکه: (حَآجَّ).

۲:- قلقله عالي: دا هغه قلقله ده، چي د قلقلې حرف د وقف په حالت کي ساکن سي، مشدد نه وي، لکه: (أَحَدٌ، لَقَدْ) یعني د وصل په حالت کي متحرک وي، مګر د وقف په حالت کي ساکن سي.

۳:- قلقله اوسط: دا هغه قلقله ده، چي د قلقلې حرف مشدد وي، مګر د وقف په حالت کي مشدد نه وي، لکه: (الْحَقُّ مِنْ رَّبِّکَ) یعني د وصل په حالت کي وي.

۴:- قلقله وسطی: هغه قلقله ده، چي د قلقلې حرف ساکن وي او د کلمې په منځ کي راغلی وي، لکه: (لَقَدْ خَلَقْنَا، ثُمَّ رَدَدْنٰهُ، اقْرَأْ بِاسْمِ).

۵:- قلقله ادنیٰ: هغه قلقله ده، چي د وصل په حالت کي د قلقلې حرف متحرک (خوځنده) وي، لکه: (وَجَعَلْنَا نَوْمَکُمْ سُبَاتًا).

یادونه: د قلقلې او د صفیر آوازونه زائد او قوي آوازونه دي.

ketabton.com - The Digital Library



(۱۰) تشريح: يعني د حروف مده وو آواز د جوف دهن څخه ووځي، په دوی کي د آواز اوږدولو او نرموالي پوره وسعت او ګنجائش موجود دی، مګر حروف لين چي د دوی مخرج معين او محقق دی، په دوی کي د آواز اوږدولو هيڅ امکان نه وو، حالانکي د مد فرعي په احوالو کي به معلوم سي، چي د مد بعضي صورتونه داسي دي، چي په هغو کي محل مد حرف لين وي، او هغه راکښيږي، يعني مد باندي کيږي، ددې اعتراض د ختمولو لپاره د تجويد عالمانو په حروف لين کي داسي نرمي تسليم کړه، چي پر دوی باندي مد کيدای سي، همدغه نرمي ده، چي د لين صفت ورته ويل کيږي.

(۱۱) تشريح: په (لام) او (راء) کي د انحراف صفت دا سو، چي په دې دواړو کي د خپل مخرج څخه د متجاوز کيدو، يو او بل ته د مائل کيدو او ګرځيدو حالت پيدا کيږي، همدارنګه په (لام) کي د ادنیٰ حافه څخه ابتداء کيږي او بيا د طرف لسان څخه ابتداء کيږي، او په (راء) کي ظهر لسان او يو څه اندازه د (لام) وطرف ته مائل کيدل محسوس کيږي.

(۱۲) تشريح:- د تکرير تعريف: د حرف د تلفظ په وخت کي په ژبه کي ارتعاش کيدل، يعني ژبه رپيدل، دا صفت يوازي په (راء) کي پيدا کيږي، مګر دا صفت په داسي لطافت او نرمي سره ادا کيدل په کار دي، چي (راء) مکرره نه سي، او دا هلته کيږي چي په ويلو کي ددې صفت د ښکاره کيدلو ښه کوښښ وکړل سي، حال دا چي دا صفت پټول په کار دی، ځکه چي د ارتعاش د آواز سره څه تعلق دی، که څه هم مشدده وي، لکه: (كَرَّةً، مَرَّةً) او په (راء) کي د اذلاق تقاضا همدا ده.

سوال: کله چي د تکرير صفت د صفات لازمه وو څخه سو، نو په صفات لازمه وو کي خو نور هم کوښښ په کار دی، چي ښه ادا سي. جواب: په (راء) کي دوه (۲) شيان دي، يو عين تکرار او بل مشابهت تکرار، کوم چي د صفات لازمه وو څخه دی، هغه مشابهت تکرار دی، او په دې کي کوښښ په کار دی، د کوم شي څخه چي ځان ساتل په کار دي، هغه عين تکرار دی، دا رښتيا ده، که چيري په (راء) کي عين تکرار راسي، نو بيا زياتوالی د حرف راځي، او زياتوالی د حرف لحن جلي دی، ځکه نو ددې څخه ځان ساتل په کار دي.

(۱۳) تشريح: ددي عبارت څخه دا واضحه کيږي، چي د ژبي د حافې ابتداء د نواجذو د مقابل څخه کيږي، دا اقصٰی حافه ده، انتها يې پر هغه حصه باندي کيږي، کوم چي د ضواحکو مقابل دي، همدغه ادنیٰ حافه ده، له کوم څخه چي د (لام) د مخرج ابتدا کيږي، مګر د مخرج د اوږدوالي په وجه په آواز کي هم يو څه اندازه اوږدوالی راځي.

ketabton.com - The Digital Library



په (ضاد) او (ظاء) كي لوى فرق د مخرج دى، ځكه چي د دواړو مخرجونه جلا دي، مګر دوهم فرق هم په دغه صفت په استطالت سره كيږي، چي دا صفت صرف په (ضاد) كي دى، او په پاته ټولو صفتو كي چي متضاده دى، دواړه مشترک دي، ددې صفاتو د اشتراک په وجه ويل سوي دي، چي (ضاد) مشابه باالظاء دى، دا تشابه او مشابهت قائمول د (عين) او (ظاء) څخه د ساتلو مسئله ددې علم يوه نازكه مسئله ده، ددې فرق د ساتلو لپاره د تکړه أُستادانو څخه استفاده كول ډيره ضروري ده، په ياد مو وي، چي د آواز په اوږدولو كي به مبالغه نه كوى، ځكه چي دا اوږدوالى يو معموالي اندازه دى، د يوه (الف) د مقدار څخه هم كمه اندازه دى.

(۱۴) تشريح: په (طاء) كي چي د استعلاء او اطباق صفت ادا نه سي، نو (تاء) به سي، همدارنګه كه په (صاد) كي د استعلاء او اطباق صفت نه وي، نو (سين) به سي.

(۱۵) تشريح:- مثلاً: د (خَلَقْ) په (كاف) كي د وقف په حالت كي قلقله ونه كړل سي، يا د (اَشْتَاتًا) په (شين) تفشي ادا نه كړل سي.

(۱۶) تشريح: حرفونه ښايسته كوونكي صفتونه، محليه، حروفو ته زينت وركوونكي صفتونه دې صفتونو ته ډير كله عارضه صفات ويل كيږي، مطلب دا چي دا په حروفو كي هيمشه نه وي، كله وي كله نه وي، كه چيري دا صفات عارضه ادا نه سي، نو د حروفو و ذات او حقيقت ته څه تاوان نه رسيږي، بلكي يوازي يې په ښايست كي فرق راځي.

ketabton.com - The Digital Library



## شپږمه (۶) روښنائي

## مُحسّنه او محليَّه صفتونه

دا صفتونه په ټولو حروفو کي نسته، صرف په اتو (۸) حروفو [۱] کي سته، چي هغه په مختلفو حالاتو کي د مختلفو صفتونو څخه رعایت کيږي، حروف يې دا ده: (لام، راء، میم ساکن او مشدد، نون ساکن او مشدد) په نون ساکن کي تنوین ( ًٍ ٌ ) هم شامل دی، که څه هم په لیکلو کي نون دی، مګر په ویلو کي نون نه دی، لکه هر کله چي پر (بًا) باندي دوه (۲) زوره وي، نو داسي به سي لکه: (بَنْ) [۲]. (الف) چي د هغه څخه مخکي همیشه زور وي. (واو) ساکن چي د هغه څخه مخکي پیښ یا زور وي. (یاء) ساکنه چي هر کله د هغې څخه مخکي زیر یا زبَر وي. د (الف) او همزه فرق او حقیقت په اول مخرج کي بیان سوی دی.

په دې حروفو کي چي دا صفات وي، په دې کي بعضي صفتونه بيله د اُستاذه د ښوولو څخه ادا کيږي، د هغو صفتو د بیانولو ضرورت نسته، مثلاً: (الف، واو، یاء) که چیري ثابت پاته کیدل او یا په بعضي ځایو کي حذف کیدل یعني د منځه تلل.

اوس دلته هغه صفتونه صرف او صرف بیانیږي، کوم چي صرف په ویلو سره په فکر او ذهن کي [۳] نه راځي، په خپله اراده ورته کول غواړي، لکه: ډک ویل، باریک ویل، غُنه کول یا نه کول او مد کول یا نه کول، اوس ددې اتو (۸) حروفو قاعدې جلا جلا ذکر کيږي.

حاشیه.........................................................................!

(۱) تشریح: مګر ددې خبري دا مطلب نه دی، چي د تجوید په علم کي صرف او صرف اته (۸) حروف صفات عارضه دي، ځکه چي د تجوید د علم په کتابو کي د ادغام صغیر او کبیر ذکر هم سته، چي هغه صفات عارضه دي، او په ډیرو حروفو کي پیدا کيږي، بلکي مطلب دا دی چي په دې کتاب کي صرف د اتو (۸) حروفو صفات عارضه وو ذکر کيږي، د کومو مجموعه چي ده: (اَوْ يَرْمَلَان) او یا په ترتیبي مجموعې سره: (لَرْمَنْ اوِىْ).

(۲) تشریح: (نون) ساکن هغه (نون) دی، چي مرسوم (لیکل سوی وي) او پر هغه باندي حرکت نه ویل کيږي، تنوین (نون) هغه ساکن دی، کوم چي د اسم په اخیر کي لاحق کيږي، او مرسوم نه وي، د ساکن (نون) او تنوین تر منځ فرق دا دی:- ۱: ساکن (نون) په وقف او وصل دواړو حالتو کي ویل کيږي، مګر (نون) تنوین صرف په وصل کي ویل کيږي، په وقف کي نه ویل کيږي. ۲: ساکن (نون) لیکل سوی وي، ماسیوا ددې یوه لفظ څخه (لَيَكُوْنًا)

ketabton.com - The Digital Library



په سورت يوسف كي (لَنَسْفَعًۢ) سورت علق او ماسيوا د (كَأَيِّنْ) د لفظ څخه، هر چيري چي وي.۳: ساكن (نون) د كلمې په منځ او اخير ځاى كي راتلاى سي، مګر تنوين هميشه د كلمې په اخير كي راځي. ۴: ساكن (نون) په اسم، فعل او حرف كي راځي، مګر تنوين هميشه د اسم په اخير كي راځي.

(۳) تشريح:- مثلاً: د التقاء ساكنين په وجهي سره اول ساكن حرف مده حذف كول يعني د منځه وړل، لكه: (اَقِيْمُوا الصَّلوٰةَ). يا اول ساكن ته كسره (زير) وركول، لكه: (قُلِ ادْعُوا اللّٰهَ). يا اول ساكن ته پيښ وركول، لكه: (عَلَيْكُمُ الصِّيَامَ). يا اول ساكن ته زور وركول، لكه: (مِنَ اللّٰهِ). او داسي نور صرف د اُستاذ څخه په اوريدلو په ذهن كي نه پاته كيږي، بلكي ډير تمرين پرې كول په كار دي.

خلاصه: دا هغه صفتونه دي، چي غير مميزه، لازمه او متضاده ورته ويل كيږي، ددې صفتونو تعلق صرف د حروفو د تحسين او ښايست سره دئ، دې صفتونو ته صفات محسينه، محليه، مزينه او عارضه ويل كيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## اوومه (۷) روښنائي

### د (لام) ادا کول د تجوید په قاعدو کښي

د الله د لفظ چي کوم (لام) دی، ددې څخه مخکي که چیري زور یا پیښ والا څه حرف وي، هغه (لام) به ډک ویل کیږي، لکه: (اَرَادَ اللّٰهُ، رَفَعَهُ الله) دې ډک ویلو ته تفخیم [1] ویل کیږي، او که چیري ددې څخه مخکي زیر والا حرف وي، نو هغه (لام) به باریک ویل کیږي، لکه: (بِسْمِ اللهِ) دې باریک ویلو ته ترقیق ویل کیږي، او د الله د لفظ څخه ماسیوا چي نور څومره لامونه دي هغه ټول باریک دي، لکه (مَاوَلّٰهُمْ، كُلَّهُ).

پاملرنه: د (اَللّٰهُمَّ) په لفظ کي هم دا قاعده ده، کوم چي د (اللّٰهُ) په لفظ کي ده، ځکه چي ددې په اول کي هم د الله [2] لفظ دی.

د (لام) تعریف: (لام) چي مخکي د هجاء تر حروفو راسي، دوه (۲) حکمونه لري:- ۱: قمریه (لام). ۲: شمسیه (لام).

قمریه (لام): هغه (لام) ته ویل کیږي چي تر ده وروسته قمریه حروف راسي، چي لاندي څوارلس (۱۴) حروف یې دي، او مجموعه یې په دې ډول ده: (اَبْغِ حَجَّكَ وَخَفَّ عَقِيمَهْ) (لام) ښکاره ویل کیږي او په وروستي حروف کي نه مدغمیږي، لکه: (اَلانْعَامُ، اَلْبِرُّ، اَلْغمَامُ، اَلْحمِيْمُ، اَلْكَوْثَرُ، اَلْوِلْدَانُ، اَلْخيْرُ، اَلْفِتْنَةُ، اَلْعْآمَةُ، اَلْقَمَرُ، اَلْيَوْمَ، اَلْمَالَ، اَلْهُدَى) او داسي نور...

شمسیه (لام): هغه (لام) ته ویل کیږي چي تر ده وروسته شمسیه حروف راسي، یعني پاته څوارلس (۱۴) حروف راسي چي په لاندني بیت کي جمع سوي دي.

البته د شعر په سر کي دي:

طِبْ ثُمَّ صِلْ رَحماً تَفُزْ ضِفْ ذَا نَعَمْ

دَعْ سُـوْ ءَ زُرْ شَرِيْفاً تِلْـــكَرْمِ

داسي (لام) په وروسته کي مدغمیږي او نه ویل کیږي، لکه: (الرَّحْمٰنُ، تِلْكَ الرُّسُلُ).

د قمریه (لام) علامه جزم (وړغندی) دی، لکه: (اَلْقمَرْ) او د شمسیه (لام) علامه شد دی، لکه: (اَلشَّمْسُ).

ketabton.com - The Digital Library



په فعل کي (لام): هغه (لام) چي په فعل کي راسي، د هغه (لام) حکم واجب دی، چي اظهار په کښي وسي، که فعل ماضي وي او که په امر کي وي، (لام) د ماضي په آخر او منځ دواړو کي راځي، او (لام) په امر کي يوازي په اخير کي راځي، لکه: (وِإذْ قُلْنَا، فَقُلْنَا، فَجَعَلْنٰهَا) په ماضي کي، لکه: (قُلْ) په امر کي راځي. يادونه: پورتني ټول حالتونه عارضي صفتونه دي.

د تفخيم (ډک والي) ډولونه:- تفخيم پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: خپلواک يا اصلي تفخيم. ۲: ناخپلواک يا عارضي تفخيم.

۱:- خپلواک يا اصلي تفخيم: د حروفو هغه ډکوالی دی، چي تل هغه حروف ډک ويل کيږي، لکه: مستعليه حروف چي تل ډک ويل کيږي، يعني په هيڅ حالت کي باريک نه ويل کيږي.

۲: ناخپلواک يا عارضی تفخيم:- لکه: د (راء) تفخيم د الله (جل جلاله) د لفظ د لام، د (اَللّٰهُمَّ) د لفظ د (لام) او (الف) تفخيم چي کله ډک ويل کيږي او کله باريک ويل کيږي، يعني په خپلو شرطو پوري اړه لري، اول ډول تفخيم پر حرکت باندي تړلی نه دی، او دوهم ډول تفخيم پر حرکاتو باندي تړلی دی.

حاشيه..............................................................................!

(۱) تشريح: د تفخيم معنا ده ډک ويل لکه څرنګه چي په حروف مستعليه او مطبقه وو کي شونډي راټولول په کار نه دي، همدارنګه په (لام) کي مفخم يعني په ډک (لام) کي هم ددې خبري خيال ساتل په کار دي، چي د (لام) د ادا کيدو او ډک ويلو په وخت کي شونډي ګول نه سي، او په (لام) د اسم جلاله کي هم بايد کامل تفخيم وسي.

(۲) تشريح: نو ددې قاعدې مطابق به (سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ) او (قَالُوا اللّٰهُمَّ) کي (لام) ډک وي، او په (قُلِ اللّٰهُمَّ، مٰلِکَ الْمُلْکِ) لفظ کي به (لام) باريک وي.

خلاصه: که څه هم (لام) د حروف مستعليه يا مطبقه وو څخه نه دی، چي استعلاء يې ذاتي وي، بلکي استعلاء يې عارضي ده، دا (لام) ځکه په تفخيم او تجسيم سره ويل کيږي، چي لفظي تعظيم يې دلالت پر حقيقي تعظيم او معنوي تعظيم باندي دلالت وکړي، د زير په حالت کي ځکه باريک ويل کيږي، چي د زير طبيعت او ذات باريک دئ.

ketabton.com - The Digital Library



# اتمه (۸) روښنائي

## د (راء) ادا کول د تجوید په قاعدو کښي

۱:- **قاعده:** که پر (راء) باندي زور یا پیښ وي، نو هغه (راء) به په تفخیم سره (ډکه) وایو، لکه: (رَبَّکَ، رُبَمَا) او که چیري پر (راء) باندي زیر [1] وي، نو هغه به په ترقیق سره (باریکه) وایو، لکه: (رِجَالٌ).

یادونه: (راء) مشدده هم یوه (راء) ده، نو په خپله د هغې حرکت ته اعتبار ورکول کیږي، هغه دي ډکه یا باریکه وویل سي، لکه: (سِرًّا) (راء) به ډکه وویل سي، د (دُرِّیٌّ) (راء) به باریکه وویل سي، دا به په راتوتلونکي دوهمه (۲) قاعده کي نه داخلوی، لکه بعضي کسان چي دا دوې (راء) بولي، اوله ساکنه (راء) او دوهمه متحرکه (راء) بولي، دا صحیح نه ده.

۲:- **قاعده:** که چیري (راء) [2] ساکنه وي، نو د هغې څخه مخکي حرف ته کتل کیږي، چي پر هغه باندي کوم حرکت دی، که چیري زور یا پیښ وي، نو هغه (راء) ډکه ویل کیږي، لکه: (بَرْقٌ، یُرْزَقُوْنَ) او که چیري مخکي تر (راء) زیر وي، نو هغه (راء) باریکه ویل کیږي، لکه: (اَنْذِرْهُمْ) مګر ددې (راء) د باریک کیدو درې (۳) شرطونه دي.

۱:- اول شرط: دا زیر به اصلي وي، عارضي به نه وي، ځکه که چیري دا زیر عارضي وي، بیا دغه (راء) باریکه نه ویل کیږي، بلکي ډکه ویل کیږي، لکه: (اِرْجِعُوْا) [3] وګوره (راء) ساکنه هم ده، او د هغې څخه مخکي حرف باندي زیر هم دی، مګر څرنګه چي دا زیر عارضي دی، له دې سببه دغه (راء) ډکه ویل کیږي، بیله د عربي کتابو ویلو څخه ددې پیژندنه نه سي کیدای، چي اصلي کسره (زیر) په کوم ځای کي دی، او عارضي زیر په کوم ځای کي دی، تاسو ته چي پر کوم ځای باندي شک وي، د یو عربي پوه څخه پوښتنه وکړی، بیا پر دې قاعده باندي عمل وکړی.

۲:- دوهم شرط: دا زیر او (راء) دواړه به په یوه کلمه کي وي، که چیري په دوو [4] کلمو کي وي، نو بیا همدغه (راء) باریکه نه وي، بلکي ډکه ویل کیږي، لکه: (رَبِّ ارْجِعُوْنَ [5]، اَمِ ارْتَابُوْا) [6] ددې شرط پیژندل د اول شرط په نسبت آسانه دی، ځکه چي د کلمې یوالی او د کلمې دوه والی اکثره هر چا ته معلومیږي.

ketabton.com - The Digital Library



۳:- دریم شرط: د هغې (راء) څخه وروسته به په هغه کلمه کي د حروفو مستعلیه وو څخه ځه حرف نه وي، که چیري داسي وي، بیا به دغه (راء) ډکه ویل کیږي، داسي حروف اووه (۷) دي، چي د هغو یادونه په پنځمه (۵) روښنائي په پنځم (۵) صفت کي وسوه، لکه: (قِرْطَاسٍ، اِرْصَاد، فِرْقَةٍ، لَبِالْمِرْصَادِ) په دې ټولو کي به (راء) ډکه ویل کیږي، په ټول قرآن کریم کي ددې قاعدې دا څلور (۴) لفظونه پیدا سوي دي، او ددې شرط پیژندل آسانه دي.

۱:- یادونه: د دریم شرط موافق د (كُلُّ فِرْقٍ) په لفظ کي چي کومه (راء) ده، دغه (راء) به تفخیم (ډک) سره ویل په کار دي، مگر څرنگه چي پر (قاف) باندي هم (۷) زیر دی، نو له دې سببه د بعضي قاریانو په نزد ترقیق (باریک) دی، او دواړه امره جائز دي.

۲:- یادونه: په دریم شرط کي یې دا لیکلي دي، چي که چیري د داسي (راء) څخه وروسته په هغه کلمه کي د حروف مستعلیه وو څخه ځه حرف نه وي، ددې کلمې قید یې ځکه ووایه چي که چیري حروف مستعلیه په بله کلمه کي وي، بیا د هغو حروف مستعلیه وو اعتبار نه کیږي، لکه: (اَنْذِرْقَوْمَکَ، فَاصْبِرْ صَبْرًا) په دې مثالو کي به (راء) ډکه ویل کیږي.

۳:- **قاعده:** که چیري د (راء) ساکنه څخه مخکي حرف باندي حرکت نه وي، بلکي هغه هم ساکن وي، چي داسي د وقف په حالت کي کیږي، نو بیا د هغې (راء) د مخکني حرف څخه مخته یعني دریم حرف ته کتل کیږي، که چیري پر هغه باندي زور یا پیښ وي، نو دغه (راء) به ډکه وویل سي، لکه: (لَيْلَةُ الْقَدْرْ، بِكُمُ الْعُسْرْ) چي په دې کي (راء) هم ساکنه ده، (دال) او (سین) هم ساکن دي، پر (کاف) باندي زور او پر (عین) باندي پیښ دی، له دې سببه به ددې دواړو کلمو (راء) باید ډکه وویل سي، او که چیري پر هغه (راء) باندي زیر وي، نو هغه (راء) به باریکه وویل سي، لکه: (ذِی الذِّکْرْ) چي دلته (راء) هم ساکنه ده، (کاف) هم ساکن دی، او پر (ذال) باندي زیر دی، له دې سببه به دغه (راء) باریکه ویل کیږي.

۱:- یادونه: مگر ددې (راء) ساکنه څخه مخکي چي کوم حرف ساکن وي، که چیري دا حرف ساکنه (یاء) وي، نو بیا د (یاء) څخه مخکي حرف ته نه گورو، بلکي (راء) په هر حالت کي باریکه وایو، مگر که د (یاء) څخه مخکي هر یو حرکت وي، لکه: (خَيْرٌ، قَدِيْرٌ) چي ددې دواړو (راء) باریکه ویل کیږي.

۲:- یادونه: د دریمي (۳) قاعدې موافق د (مِصْر) او (عَيْنَ ٱلقِطْرْ) پر لفظ باندي چي هر کله وقف وکړل سي، نو ددې (راء) باریک ویل په کار دي، مگر قاریانو ددې دواړو لفظونو (راء) په باریکه او ډکه طریقه سره ویلې ده، ښه خبر دا ده، پخپله پر (راء) باندي چي کوم

ketabton.com - The Digital Library



حرکت وي، هغه ته باید اعتبار ورکړل سي، نو د (مِصْر) په لفظ کي تفخیم اولیٰ دی، او د (اْلقِطْرْ) په لفظ کي ترقیق اولیٰ دئ.

۳:- یادونه: ددې دریمي (۳) قاعدې پر بناء باندي په سورت الفجر کي (اِذَا یَسْرِ) باندي چي هر کله وقف وسي، نو دغه (راء) ډکه ویل په کار ده، مګر بعضي قاریانو ددې (راء) باریک ویل اولی لیکلې ده، دا روایت ضعیف [۸] دی، له دې سببه دغه (راء) ددې مذکوره قاعدې موافق ډک ویل په کار ده.

۴:- **قاعده:** د (راء) وروسته په قرآن کریم کي یو ځای اماله ده، نو د (راء) دغه حرکت به زیر وګڼو، او (راء) به باریکه ووایو، په قرآن کریم کي هغه ځای دا دی: (بِسْمِ اللهِ مَجْرِیـهَا) [۹] دغه (راء) باریکه ویل کیږي، لکه څرنګه چي د (قطرَی) لفظ (راء) چي ویل کیږي.

۵:- **قاعده:** هغه (راء) چي د وقف په سبب سره ساکنه وي، نو معلومه خبره ده، چي په هغه کي د دوهمي (۲) او دریمي (۳) قاعدې موافق د هغې څخه مخکي حرف ته کتل کیږي، او کله بیا د هغه څخه هم مخکي حرف ته کتل کیږي، بیا نو دغه (راء) باریکه یا ډکه ویل په کار دي، په دې قاعده کي په دې باندي هم ځان پوهه کړی، چي دې اولني حرف ته هغه وخت کتل کیږي، چي د وقف په حالت کي دغه (راء) بلکل ساکنه کړل سي، لکه د وقف کولو چي عامه طریقه همدا ده، مګر د وقف کولو یوه بله طریقه هم ده، هغه دا چي په هغه کي موقوف علیه حرف بلکل ساکن کیږي نه، بلکي پر هغه باندي چي کوم حرکت وي، هغه هم ډیر خفیف ادا کیږي، دې ته روم ویل کیږي، دغه روم صرف په زیر او پیښ کي وي، ددې مفصله یادونه به په دیارلسمه (۱۳) روښنائي کي راسي.

دلته دا خبره یادول ډیر ضروري ده، که چیري پر داسي (راء) باندي په روم سره وقف وکړل سي، نو بیا د (راء) څخه ومخکي حرف ته نه ګورو، بلکي پخپله چي پر هغه (راء) باندي کوم حرکت وي، د هغه موافق به ډکه یا باریکه ویل کیږی، لکه د (وَاْلفَجْرِ) پر (راء) چي په دې طریقه سره وقف وکړل سي، نو (راء) به باریکه وویل سي، او د (مُنْتَصِرٌ) پر (راء) باندي چي دغه رقم وقف وکړل سي، نو دغه (راء) بیا ډکه ویل کیږي.

حاشیه..........................................................................!

(۱) تشریح: (راء) مکسُوره باالاتفاق باریکه وي، که پر دې (راء) مکسُوره باندي کسره لازمه وي، لکه: (رِجَالٌ) یا عارضه وي، لکه: (وَاَنْذِرِالنَّاسَ، وَاَنْذِرِالَّذِیْنَ) که کسره کامله وي، لکه

ketabton.com - The Digital Library



مثالونه چي يې تير سول، يا ناقصه وي، لکه پر (وَٱلۡفَجۡرِ) باندي چي وقف بالروم وکړل سي، يا لکه: (مَجۡرِىهَا) کي چي (راء) مماله او عامه ده، که د کلمې منځ وي، لکه: (تُحَرِّمُ) يا په طرف کي وي، لکه: (وَٱلۡقَمَرِ) په حالت د وصل کي تنوين والی وي، لکه: (مُّقۡتَدِرٌ) يا غير تنوين والا وي، چي مثالونه يې تير سوه، که يې ماقبل ساکن وي، لکه: (ٱلدَّارِ) يا متحرکه وي، لکه: (أَرِنَا) معلومه خبره ده، که چيري ددې وروسته مستعليه حرف واقع وي، مثلاً: (ٱلرِّقَابْ) يا مستفليه حرف وي، لکه: (رِزۡقًا) که مشدده وي، او که مخففه وي، څنګه چي يې مثالونه تير سول.

(۲) تشريح: (راء) ساکنه چي مخکنی حرف يې مسکور وي، باريکه ويل کيږي، مګر دغه ساکن والی بايد اصلي وي، لکه: (فَانْتَصِرْ) يا عارضي وي، د وقف له سببه، لکه: (حَتّٰى زُرْتُمُ المَقَابِرْ).

(۳) تشريح: ځکه چي په (اِرْجِعُوْا) کي همزه وصلي ده، او همزه وصلي خپله بالذات عارضي وي، له دې سببه چي دا همزه په درج کي د کلام حذفيږي، نو ځکه يې حرکت هم عارض سو، او د همزې وجود ددې لپاره دی، چي ابتداء په ساکن (راء) نه سي.

(۴) تشريح: دې زير ته کسره منفصله ويل کيږي، ځکه چي زير او (راء) په جلا جلا کلمو کي دي.

(۵) تشريح: په (رَبِّ ارْجِعُوْنَ، اَمِ ارْتَابُوْا) کي د (راء) ساکنه څخه که څه هم زير دی، مګر څرنګه چي دا کسره منفصله هم ده، او عارضي هم ده، ځکه نو دغه (راء) ډکه ويل کيږ ي.

(۶) تشريح: (اَمِ ارْتَابُوْا) په اصل کي (اَمْ رْتَابُوْا) وو، د (راء) ساکنه مخکي کسره متصله وه، مګر څرنګه چي همزه د کلام په درج کي حذف يعني له منځه ولاړه، او د التقاء ساکنين له وجهي (ميم) ته حرکت د کسرې ورکړل سو، (لِاَن السَّاكِنَ اِذَا حُرِّکَ حُرِّکَ بِاْلِکسْرِ) نو مخکي تر (راء) څرنګه چي زير په بله کلمه کي دی، د هغه منفصل زير ته اعتبار نه کول کيږي.

(۷) تشريح: دلته څرنګه چي د (راء) ساکني څخه وروسته (قاف) دی، د (راء) د تفخيم سبب دی، مګر څرنګه چي پر (قاف) باندي هم زير دی، نو د (قاف) تفخيم ضعيف سو، لکه څرنګه چي معلومه سوې ده، د زير په وجه سره عارضي التفخيم حروف باريک کيږي، او لازمي التفخيم حروفو کي په تفخيم کي ضعيف راځي.

(۸) تشريح: (فَاَسْرِ، اَنْ اَسْرِ، اِذَا يَسْرِ، وَنُذُرِ، الجَوَارِ) سورت الشوریٰ او سورت الرحمن، په دې کلماتو کي چي هر کله پر (راء) باندي وقف باالاسکان وسي، نو په (راء) کي تفخيم او

ketabton.com - The Digital Library



ترقيق دواړه جائز دي، دا كلمې په اصل كي په (ياء) سره وي، دوې اولنى كلمې په اصل كي (اَسْرِىْ) وي، د اخيره څخه (ياء) مده د حالت بنائي په وجه سره حذف يعني د منځه ولاړه. همدارنګه (يَسْرِ) هم په اصل كي (يَسْرِىْ) دى، د فواصل د رعايت لپاره، يعني د آياتو د اخيرو كلماتو د مطابقت په خاطر (ياء) حذف يعني د منځه ولاړه. همدارنګه په (نُذُرِىْ) كي (ياء) اضافت د رعايت فواصل په خاطر حذف يعني د منځه ولاړه، نو دلته پر (راء) باندي د سكون عارض كيدلو او ماقبل مفتوح يا مضموم كيدلو په خاطر پر (راء) باندي تفخيم په كار دى، د كلمې د اصل باندي د دلالت كولو لپاره او په دې وجه چي د اخير څخه د (ياء) د منځه تلل عارضي دى، او عارضي د منځه تلل بايد معتبر ونه ګڼل سي، بلكي (ياء) په مثل د باقي وګڼل سي، نو دغه (راء) به باريكه وويل سي.

(۹) تشريح: د (راء) څخه وروسته په (الف) كي يو ځاى اماله ده، دغه اماله لغوي معنا يې راكږول دي او اصطلاحي معنا يې ده، د (الف) ميلان د (ياء) وطرف ته دى، او د زور ميلان د زير وطرف ته دى، د (مَجْرِيهْٰا) لفظ په اصل كي (مَجْرِاهَا) وو، په (الف) سره بيا اماله په كښي وسوه.

ددې ټولي قاعدې خلاصه: په وقف كي بالروم كي چي كوم په زير او پيښ كښي كيږي، (راء) موقوفه مكسوره (زير) بالروم به باريكه او مضمُومه (پيښ) موقوفه بالروم به ډكه وي، لكه څرنګه چي د وصل په حالت كي (راء) مكسوره باريكه او مضمُومه ډكه وي، له همدې سببه ويل كيږي، چي په روم كي (راء) په مثل د وصل ده. د (راء) ډک والى هم صفت عارض دى، ځكه چي ذاتي ډک والى د حروف مستعليه وو او مطبقه وو صفت دى، او د فتح يعني زور په حالت كي روم نه سي كيدلاى، ځكه چي زور يو خفيف بلكي اخف الحركات دى، نو ذي اجزاء نه سي كيدلاى، برعكس زير او پيښ چي هغه حركات ثقيله دي، او ذي اجزاء كيدلاى سي، يعني د روم معنا ده (د حركت دريمه حصه) ښكاره كول، دوې حصې نه ښكاره كول او داسي مفهوم په زور كي محال دى. اختلاس بيا دا دى، چي دوې حصې د حركت ښكاره كول او يوه نه ښكاره كول دي.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

د (راء) احکام:- (راء) دوه (۲) حکمونه لري:

۱:- تفخيم يعني ډک ويل: که چيري (راء) زور يا پيښ ولري، ډکه ويل کيږي، لکه: (رَبّی، رُزِقُواْ).

۲:- ترقيق يعني نرم ويل: که چيري (راء) زير ولري، نو نرمه ويل کيږي، لکه: (رِجَال، وَاَرِنَا).

که چيري (راء) وړغندی لرونکي وه، او مخکنۍ حرف يې زور يا پيښ ولري، نو (راء) ډکه ويل کيږي، لکه: (مَرْيَم، تُرْهِبُوْنَ).

که چيري (راء) وړغندی لرونکي وه، او مخکنۍ حرف يې زير ولري، بيا نو باريکه ويل کيږي، لکه: (قِرْطَاسٍ، فِرْقَةٍ).

که چيري (راء) ساکنه وه، مخکنۍ حرف يې هم وړغندی لرونکی وو، د مخکني حرف د مخه حرف ته يې کتل کيږي، که يې د مخکني حرف دمخه حرف زور يا پيښ درلودی، ډکه ويل کيږي، لکه: (الْعُسْرِ، وَالْفَجْرِ) د وقف په حال کي، او که يې د مخکني حرف دمخه زير درلودی، (راء) نرمه ويل کيږي، لکه: (حِجْرٍ).

يادونه: دا حالتونه يوازي په وقف کي راځي، چي (راء) ساکنه او مخکنۍ حرف يې هم ساکن وي.

تفخيم او ترقيق: که چيري (راء) ساکنه وه او مخکي حرف يې زير درلودی، نو (راء) باريکه ويل کيږي، مگر په درو (۳) حالتونو کي باريکه نه ويل کيږي.

۱: که چيري (راء) ساکنه وه، مخکني حرف يې زير درلودی او د مخکنۍ حرف زير يې عارضي وو، نو (راء) ډکه ويل کيږي، لکه: (ارْجِعُواْ اِلَیَ أَبِيكُمْ).

۲: که چيري (راء) ساکنه وه، مخکني حرف يې زير درلودی او تر ساکني (راء) وروسته مستعليه حرف راغلی وو، بيا هم (راء) ډکه ويل کيږي، لکه: (لَبِالْمِرْصَاد).

۳: که چيري (راء) ساکنه وي او مخکنۍ حرف يې زير ولري، مگر دغه (راء) او دغه زير به په يوه کلمه کي نه وي، بلکي سره جلا به وي، بيا هم (راء) ډکه ويل کيږي، لکه: (قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنَ، اَمِ ارْتَابُوْا).

ketabton.com - The Digital Library



باريکه (نرمه) (راء): هغه وخت نرمه ویل کیږي چې پر (راء) باندې زیر وي، که (راء) د کلمې په اول کې وي، که په منځ کې وي او که په آخیر کې وي، آن که په اسم کې وي او که په فعل کې وي، نو (راء) باریکه ویل کیږي، لکه: (رِجَالٌ).

که راء ساکنه او مخکنۍ حرف یې اصلی کسره ولري او وروسته یې حرف مستعلیه نه وي، باریکه ویل کیږي لکه: (الرِّجَالُ قَوَّامُونَ).

که (راء) ساکنه وي او مخکنی حرف یې زیر ولري او وروسته یې حرف استعلاء زیر ولري لکه: (فِرْقٍ) په دې کې دواړه وجهې یعنې هم باریکوالی هم ډکوالی جائز دی، او که چیرې (راء) ساکنه او مخکنی حرف د لین (یاء) وي، نو د وقف په حالت کې بیا هم باریکه ویل کیږي لکه: (خَيْر).

مشدده (راء): مشدده (راء) په حکم کې د یوې (راء) په څیر ده، څه ډول چې یې حرکت وي، د هغه موافق به ویل کیږي، یعنې لومړی ساکنه (راء) د دوهمې متحرکې (راء) تابع ده، لکه: په (الرَّحْمٰنِ) کې چې دواړې (راء) وي ډکې ویل کیږي، ځکه لومړی (راء) که څه هم ساکنه ده د مخکني حرف حرکت ته یې باید وکتل سي، مګر د تشدید په صورت کې د دوهمې (راء) تابع ده، ځکه د اولې (راء) د اداء کیدو څخه وروسته ژبه د تالو څخه نه جلا کیږي، له دې کبله دې اولې (راء) ته د مستقل حرف حکم نه ورکول کیږي، بلکې دغه (راء) د دوهمې (راء) یعنې د متحرکې (راء) تابع ګڼل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



## نهمه (۹) روښنائي

### د (ميم) ساکن او (ميم) مُشَدَّد ادا کول د تجويد په قاعدو کښي

۱:- **قاعده:** (ميم) که چيري مشدد وي، نو په هغه کي غُنه ضروري ده، غُنه پزي ته د آواز ننوتلو ته ويل کيږي، لکه: (لَمَّا) په داسي حالت کي دې حرف ته حرف [۱] غُنه ويل کيږي.

۲:- **قاعده:** (ميم) که چيري ساکن وي، نو د هغه وروسته ته کتل په کار دي، چي څه رقم حرف دی، که چيري د هغه څخه وروسته هم بل (ميم) وي، نو هلته به ادغام وي، يعني داوړه ميمونه به يو سي، د يوه (ميم) مشدد په مثل به په هغه کي غُنه وي، لکه: (اِلَيْکُمْ مُّرْسَلُوْنَ) دې ته ادغام صغير [۳] مثلين ويل کيږي. او که چيري د (ميم) ساکن څخه وروسته د (باء) حرف وي، نو هلته به د غُني سره اخفاء هم وي، ددې اخفاء مطلب [۴] دا دی: د (ميم) د ادا کولو په وخت کي د دواړو وچه شونډو حصه ډيره په نرمي سره يو ځای کړی، او د غني اندازه به د يوه (الف) پر زياته کړی، دغه به د خيشوم څخه ادا کړل سي، بيا د هغه وروسته د شونډو د خلاصيدو مخکي د دواړو شونډو لنده حصه په سختئ سره يو ځای کړي (باء) حرف دي ادا کړل سي، لکه: (وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللهِ) دې ته اخفاء شفوي ويل کيږي. او که چيري د (ميم) ساکن وروسته د (باء) او (ميم) حرف څخه ماسيوا بل حرف وي، نو هلته په (ميم) کي اظهار کيږي، يعني (ميم) به د خپل مخرج څخه بيله غُني ښکاره کيږي، لکه: (اَنْعَمَتَ) دې ته اظهار شفوي ويل کيږي.

يادونه: بعضي حافظان په دې اخفاء او اظهاري کي د (باء، واو، فاء) حروفو قاعده يوه قاعده ګڼي، ددې قاعدې نوم يې (بَوْفْ) قاعده ايښي ده، بعضي په دې درو (۳) سره وو حروفو کي اخفاء کوي، بعضي په دې درو (۳) سره وو حروفو کي اظهار کوي، بعضي په دې درو (۳) سره وو حروفو کي په (ميم) ساکن کي يو رقم حرکت پيدا کوي، لکه: (عَلَيْهِمْ وَلَاالضَّآلِّيْنَ، يَمُدُّهُمْ فِىْ) دا ټولي خبري د قاعدې څخه خلاف دي، اول او دوهم قول خو بلکل غلط دی، او دريم قول ضعيف دی.

حاشيه..........................................................................!

(۱) تشريح: ځکه چي د حروف غُنه په شان په (ميم) مشدد کي هم غُنه ظاهرول ضروري دي.

(۲) تشريح: د طبعي مد په شان غُنه د دوو (۲) حرکتو د اندازې څخه زياتول او کمول په کار نه دي، د غُني د ظاهرولو لپاره د وخت ځنډ په کار دی، مګر په دې ځنډولو کي د مبالغې څخه ځان ساتل هم په کار دي.

ketabton.com - The Digital Library



(۳) تشریح: د (میم) ساکن څخه وروسته چي (میم) راسي، او دوی دواړه یو ځای وي، مشدد سي، نو دې ته صرف ادغام صغیر مثلین ویل کیږي، بلکي په هر هغه ځای کي به دغه لفظ ته ادغام صغیر ویل صحیح وي، په کوم ځای کي چي یو حرف ساکن وي، او د هغه وروسته بیا هم هغه حرف متحرک راسي، نو هغه به یو ځای کي ویل کیږي، لکه: (مَنْ نَشَاءُ، اِذْ ذَّهَبَ، فَمَارَبِحَتْ، تِّجَارَتُهُمْ) او داسي نور... دې ټولو ته به ادغام صغیر مثلین ویل کیږي.

(۴) تشریح: په (میم) کي د اخفاء کولو طریقه واضح کول مقصد دی، د مفهوم په لحاظ سره دومره پوهیدل کافي دي، چي (میم) په ټینګوالي سره د اطباق شفتین څخه نه ادا کیږي، بلکي شونډي دي په نرمي سره یو ځای کړي ادا دي یې کړي، په دې وخت کي د خیشوم څخه د غُنې ښکاره کولو باندي ښه کوښښ وکړی، ځکه چي د اخفاء معنا ده د حرف ذات د واضح کولو پر ځای پټ ادا کول.

اخفاء په (میم) کي هم کیږي، مګر هغه د (میم) اخفاء دومره قوي نه ده، څومره چي په (نون) کي قوي ده، نو معنا دا سوه چي اخفاء په اصلي او حقیقي توګه سره یوازي په (نون) کي وي، ځکه چي خیشوم (د پزي بیخ) ته طرف السان او تالو ته د (نون) مخفاة مخرج دی، د شونډو په مقابله کي ډیر نږدې دی، له همدې سببه د (میم) په مقابله کي په (نون) کي اخفاء او غُنه ډیره پوره ده.

تفصیل: د (میم) څلور (۴) حالتونه لري:- ۱: غُنه. ۲: ادغام. ۳: اخفاء شفوي. ۴: اظهار. که چیري د (میم) وروسته بل (میم) یا (باء) نه وه، هلته په (میم) کي مطلقاً اظهار دی، که چیري د (میم) ساکن وروسته (باء) راسي، هلته اخفاء شفوي ده، که د (میم) ساکن وروسته بل (میم) راسي، هلته ادغام دی، او که (میم) مشدد وي، هلته غُنه ضروري ده.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

د (ميم) ساكن حكمونه: د ساكن (ميم) درې (۳) حكمونه دي:- ۱: ادغام. ۲: اخفاء. ۳: اظهار.

د ساكن (ميم) ادغام: كه چيري تر ساكن (ميم) وروسته بل (ميم) راغلى وي، هلته له غُنې سره ادغام كيږي، چي د دواړو حروف څخه يو مشدد (ميم) جوړ سي، دې ادغام ته متماثلين ادغام ويل كيږي، لكه: (فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ).

د ساكن (ميم) اخفاء: كه چيري تر ساكن (ميم) وروسته (باء) حرف راغلى وو، هلته اخفاء مع الغنه كيږي، چي دې اخفاء ته اخفاء شفوي ويل كيږي، لكه: (وَمَاهُم بِمُؤْمِنِينَ).

د (ميم) ساكن اظهار پر دوه (۲) ډوله دى:- ۱: قوي اظهار. ۲: ضعيف اظهار.
۱:- قوي اظهار: وهغه اظهار ته ويل كيږي، چي په اظهار كي يې مبالغه وي، نوموړى اظهار هغه وخت صورت نيسي، چي تر ساكن (ميم) وروسته (واو) يا (فاء) راسي هلته نو قوي يا اشد اظهار كيږي، لكه: (عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّين، أَصَٰبِعَهُمْ فِى ءَاذَانِهِم).

۲:- ضعيف اظهار: وهغه اظهار ته ويل كيږي، چي په اظهار كي يې مبالغه نه وي، يعني مطلق اظهار وي، نوموړى اظهار هغه وخت صورت نيسي، چي تر ساكن (ميم) وروسته د (واو) يا (فاء) څخه پرته نور پاته حروف راسي، نو هلته ضعيف اظهار كيږي، لكه: (عَلَيْهِمْ غَيْرِ).

يادونه: د ساكن (ميم) په ادغام او اخفاء كي غُنه شرط ده. غُنه: د هغه آواز څخه عبارت ده، چي د خيشوم څخه راوځي، او پر دوه (۲) ډوله ده:- ۱: زماني غُنه. ۲: ذاتي غُنه.

۱:- زماني غُنه: هغه غُنه ده چي كله وي او كله نه وي، لكه: د (نون) ساكن غُنه يا د تنوين غُنه چي وروسته يې د حلق حرف وي، پر يوه لا هم غُنه نه كيږي او كه ځيني نور حروف وي، غُنه پر كيږي.

۲:- ذاتي غُنه: هغه غُنه ده چي تل وي، لكه: (نون) او (ميم) چي مشدد وي، لكه: (الٓمٓ (۱) وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ، اِنَّ الَّذِينَ) او داسي نور چي هر وخت غُنه پر كيږي.

د خيشوم څخه د غُنې ټول حروف تلفظ كيږي، يعني هر وخت چي د غُنې پر حروفو غُنه وسي، د دوى آواز د خيشوم څخه راوځي.

ketabton.com - The Digital Library



د غُني حروف: (نون) او (میم) چي مشدد وي، د تشدید غُنه پرې کیږي، ساکن (نون) او تنوین چي وروسته یې د حلق د حروفو او د تام ادغام د حروفو یعني (لر) څخه پرته کوم بل حروف راسي غُنه پرې کیږي.

د غُنُي اندازه او د معلوموولو طریقه یې: د غُني اندازه یو (الف) ده، چي دوه (۲) حرکته کیږي، البته (نون) او (میم) چي مشدد وي، غُنه یې تر یو نیم (الف) پوري هم زیاتیدای سي، چي درې (۳) حرکته کیږي، او د معلوموولو طریقه یې دا ده: چي خلاصي گوتي بندي او یا بندي گوتي خلاصي کړې.

ketabton.com - The Digital Library



## لسمه (۱۰) روښنائي

## د (نون) ساكن او (نون) مُشدَّد ادا كول د تجويد په قاعدو كښي

۱:- **قاعده:** كه چيري (نون) مشدد وي، نو په هغه كي غُنه ضروري ده، او د (ميم) مشدد په مثل ده ته هم په دې حال كي حرف غُنه [۱] ويل كيږي. بيا كتنه نهمه (۹) روښنائي اوله قاعده

۲:- **قاعده:** د ساكن (نون) او تنوين وروسته كه چيري د حروف حلقي څخه يو حرف راسي، نو هلته به د (نون) اظهار كوو، يعني په پزه كي به آواز نه دننه كوو، او غُنه به هم نه كوو، لكه: (اَنْعَمْتَ، سَواءٌ عَلَيْهِمْ) او داسي نور... دې اظهار ته اظهار حلقي ويل كيږي، او حروف حلقي شپږ (۶) دي، چي مجموعه دا ده [۲]: (همزه، هاء، حاء، خاء، عين، غين).

۳:- **قاعده:** د (نون) ساكن او تنوين وروسته كه چيري ددې شپږو (۶) حروفو څخه يو حرف راسي، چي د هغو مجموعه (يَرْمَلُوْن) ده، نو هلته به ادغام وي، يعني (نون) به د هغه وروسته والا حرف سره بدل سي، او دواړه به يو سي، لكه: (مِنْ لَّدُنْهُ) د (نون) څخه (لام) جوړ سو، او دواړه لامونه يې يو كړل، ځكه نو په ويلو كي صرف (لام) راځي، كه څه هم په ليكلو كي (نون) پاته دی، مګر په دې شپږو (۶) حروفو كي دومره فرق دی، چي په څلور (۴) كي غُنه هم وي، او دغه غُنه به په مثل د (نون) مشدد زياتيږي، د هغو څلور (۴) حروفو مجموعه دا ده: (يَنْمُوْ) لكه: (مَنْ يُّؤمِنُ، بَرْقٌ يَّجْعَلُوْنَ) او داسي نور... [۳] دې ته ادغام مع الغُنه ويل كيږي، او كوم دوه (۲) چي پاته سوه، يعني (لام) او (ميم) په دې كي به غُنه نه وي، لكه: (مَنْ يُّؤمِنُ، بَرْقٌ يَّجْعَلُوْنَ).

په دې دوو (۲) حروفو كي لږ آواز هم پزي ته نه ځي، خاص د (لام) په مثل ويل كيږي، دې ته ادغام بلا غُنه ويل كيږي، مګر ددې ادغام [۴] يو شرط دا دی، چي دغه (نون) او دغه حروف د (يَرْمَلُوْن) به په يوه كلمه كي نه وي، كه وي بيا ادغام نه كيږي، بلكي اظهار كيږي، لكه: (صِنْوَانٌ، قِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ، دُنْيَا) په ټول قرآن كريم كي ددې قاعدې دغه څلور (۴) لفظونه دي، په دې كي چي كوم اظهار كيږي، دغه اظهار ته اظهار مطلق ويل كيږي.

۴:- **قاعده:** [۵] د (نون) ساكن او تنوين وروسته كه چيري د (باء) حرف راسي، نو هلته هغه (نون) ساكن او تنوين په (ميم) سره بدليږي، په غُنه او اخفاء سره بايد وويل سي، لكه: (مِنۢ بعْدِ، سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ) او په بعضي قرآن كريمونو كي د آسانۍ لپاره د داسي (نون) او تنوين

ketabton.com - The Digital Library



وروسته يو كوچنى (ميم) هم ليكل سوى وي، دې بدليدو ته اقلاب او قلب ويل كيږي، ددې (نون) مطلب او د ادا كيدلو طريقه همهغه ده، كوم چي د اخفاء شفوي د ادا كيدلو طريقه وه.

۵:- **قاعده:** (۶) د (نون) ساكن او تنوين وروسته كه چيري ددې ديارلسو (۱۳) حروفو څخه ماسيوا چي په (۲، ۳، ۴) قاعدو كي ذكر سوه، بل حرف راسي، نو هلته به (نون) او تنوين په اخفاء او غُنه سره ويل كيږي، داسي حروف پنځلس (۱۵) دي، ددې حروفو مجموعه دا ده: (ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک) او (الف) يې له دې وجهي څخه په كښني حساب نه كړى، چي هغه د (نون) ساكن وروسته نه سي راتلاى.

ددې اخفاء مطلب: (نون) ساكن او تنوين د هغه د اصلي مخرج څخه د ژبي د كنارې او لوړ تالو څخه جلاوالى ولري، او د هغه آواز په خيشوم كي پټ كړى، داسي بايد وويل سي، چي نه ادغام ځيني جوړ سي، او نه اظهار، بلكي د دواړو په منځ كي يو حالت سي، يعني نه د اظهار په رقم د ژبي سر د لوړ تالو سره ومښلي او نه د ادغام په رقم د وروسته حرف د مخرج څخه ووځي، بلكي ماسيوا د ژبي او بيله (۷) د تشديده (۸) دي صرف د خيشوم څخه د غُني صفت د يوه (الف) په اندازه باقي والى ولري او ادا دي سي، مګر تر څو چي د ماهر اُستاد څخه يې نه وي ياد كړى، تر هغو پوري دي يې صرف په غُني سره وايي، ځكه چي په اوريد كي غُنه او اخفاء يو د بل سره مشابه دي، د (نون) مخفي مثال: (ءَاَنْذَرْتَهُمْ) او د تنوين مخفي مثال: (قَوْمًا ظَلَمُوْا) او داسي نور... ددې (نون) اخفاء ته اخفاء حقيقي ويل كيږي، او د (نون) اظهار ته چي د هغه بيان په دوهمه (۲) قاعده كي سوى دى، دې اظهار ته اظهار حلقي ويل كيږي، او د كوم بيان چي په دريمه (۳) قاعده كي سوى دى، هغه اظهار ته اظهار مطلق ويل كيږي، لكه څرنګه چي د (ميم) اظهار او اخفاء ته شفوي ويل كيږي، چي د هغه بيان په نهمه (۹) روښنائي دوهمه (۲) قاعده كي تير سوى دى.

حاشيه.............................................................................!

(۱) تشريح: په (نون) مشدد كي غُنه ښكاره كول ضروري ده، د غُني د ښه ښكاره كولو لپاره په كار دي، چي په ځنډ سره ادا سي، مګر دغه ځنډ دي د مد (طبعي) اصلي د اندازې څخه دي زيات نه وي. او بل د (نون) د ادا كولو څخه مخكي د حروف مده وو د پيدا كولو څخه ځان ساتل ضروري دى، يعني (اِنَّ) در څخه (اِيْنَّ) نه سي.

د (نون) ساكن وروسته چي حروف حلقي راسي، دلته ځكه اظهار كيږي، چي په دې صورت كي د (نون) ساكن يا تنوين او حروف حلقيه وو تر منځ مخرجونه سره ليري دي.

ketabton.com - The Digital Library



(۲) تشريح: د (نون) د حروفو حلقي وو سره مثالونه: (مَنْ اٰمَنَ، مِنْهَا، مَنْ حَرَّمَ، مِنْ خَوْفٍ، مِن عِلْمِه، مِنْ غِلٍّ).
د تنوين مثالونه: (حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ، جُرُفٍ هَا، عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ، حَسَراتٍ عَلَيْهِمٌ، عَلِيمٌ خَبيرٌ، حَلِيْمٌ غَفُور).

(۳) تشريح: مثالونه: (مِنْ وَّالٍ، يَوْمئِذٍ وَّاهِيَهْ، مِنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ، مَنْ نَّشّآءُ، اَمَنَةً نُّعَاسًا) او داسي نور... دې ادغام ته ادغام ناقص، ادغام تام او ادغام غير كامل هم ويل كيږي، ځكه چي دلته غُنه په اصل كي صفت اصليه د (نون) دى، هغه د ادغام كولو وروسته هم پاته ده، په (لام) او په (راء) كي ځرنګه چي صرف ادغام دى بيله غُني، د (نون) غُنه نه ده پاته ځكه ادغام بلاغُنه، ادغام كامل، ادغام تام هم ورته ويل كيږي.

(۴) تشريح: د ادغام لغوي معنا ده، يو شى په بل شي كي داخلول او په اصطلاح كي حرف ساكن په حرف متحرک كي داسي يو ځاى كول چي دواړه پر يوه ځاى مشدد ادا سي، اول حرف ته مدغم او دوهم حرف ته مدغم فيه ويل كيږي.

(۵) تشريح: د (نون) ساكن وروسته چي د (يَرْمَلُوْن) حروف راسي، ځكه ادغام كيږي، چي د (نون) ساكن، تنوين او د (يَرْمَلُوْن) حروف قرب مخرج دى، لكه بالمقابل چي په حروف حلقي وو كي د مخرجونو ليري والى وو، ددې ځلور (۴) الفاظو استثناء ځكه وسوه، چي بيا كه ادغام وسي، نو التباس يې د مضاف سره راځي، يعني بيا دا نه معلوميږي، چي دلته دوه (واوه) يا دوې (ياء) ګاني د اصل دي، كه په قاعده د (يَرْمَلُوْن) كي ادغام سوې.

(۶) تشريح: د ديارلسو (۱۳) حروفو څخه ماسيوا يعني شپږ (۶) حروف حلقي شپږ (۶) حروف (يَرْمَلُوْن) او يوه (باء) ددې ديارلسو (۱۳) حروفو څخه ماسيوا په نورو ټولو پنځلسو (۱۵) حروفو كي اخفاء ده، ځكه چي اخفاء د اظهار او ادغام په منځ كي يو حالت دى، چي نه دومره ځاى په منځ كي ستنه لكه د حروف حلقي او نه دومره قرب ستنه لكه د حروف (يَرْمَلُوْن) ځكه يې نو حال هم د دوى دوو (۲) په منځ كي دى.

(۷) تشريح: د ژبي وطرف او پورته تالو لره دي د (نون) مخفاة په ادا كي دخُل نه وركوي، او كه چيري په كمه اندازه سره طرف السان د پورته تالو سره ومبنلوي، نو دا د اخفاء د حقيقت سره منافي نه ده، بلكي دا په ياد ساتل په كار دي، چي طرف السان او تالو كي كه چيري فاصله او جلاوالى پيدا سي، نو د خولې په هغه خالي ځاى كي به آواز وغوړيږي، او د مد پيدا كولو بيره ده، يعني د (ءَاَنْذَرْتَهُمْ) پر ځاى به (ءَآنْذَرْتَهُمْ) جوړ سي، چي داسي كول غلط دي.

ketabton.com - The Digital Library



(۸) تشريح: ځکه چي د (نون) وروسته والا حرف کي که چيري د هغه په مخرج کي د (نون) غُنه ادا کړل سوه، نو دا به ادغام مع الغنه سي، او د (نون) وروسته حرف به صفا يا يو څه لږ اندازه مشدد سي، مثلاً: (اَنْ تَکُوْنَ) به (اَنْ تَّکُوْنَ) سي، کوم چي داسي بلکل غلط دي، او همدارنګه که د (اَنْفُسَهُمْ) د (نون) مخفاة د ادا کولو په وخت کي که چيري د ثناياعُليا طرفونه د لاندي شونډي د دننه حصې سره ومښلي، نو دا اخفاء صحيح نه ده.

خلاصه: د (نون) ساکن او تنوين څلور (۴) حالته دي:ـ ۱: اظهار. ۲: ادغام. ۳: اقلاب. ۴: اخفاء.

تفصيل: هر کله چي د (نون) ساکن او تنوين وروسته د شپږو (۶) حروف حلقي وو څخه يو حرف راسي، هلته اظهار دی، هر کله چي د (نون) ساکن او تنوين وروسته شپږ (۶) د (يَرْمَلُوْن) حروف راسي هلته ادغام دی، هر کله چي د (نون) ساکن او تنوين وروسته د (باء) حرف راسي، هلته اقلاب دی، او هر کله چي د (نون) ساکن او تنوين وروسته دغه ديارلس (۱۳) (ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک) حروفو څخه ماسيوا پاته پنځلس (۱۵) حروفه راسي، هلته اخفاء کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

ساکن (نون): هغه (نون) ته ویل کیږي، چي حرکت یعني زور، زیر، پیښ ونه لري، په اول یا آخیر کي د اسم، فعل او حرف راځي، لکه: (إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ، وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ).

تنوین: هغه ساکن (نون) ته ویل کیږي، چي یوازي د اسم په آخیر کي په تلفظ کي راځي او په لیکلو کي تنوین په دغه علامو (ًٌٍ) سره پیژندل کیږي، لکه: (خَلَقْتَ طِينًا، وَاللهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ).

د ساکن (نون) او تنوین حکمونه:- د ساکن (نون) او تنوین څلور (۴) حکمونه دي:- ۱: ادغام. ۲: اظهار.۳: اقلاب. ۴: اخفاء.

## ادغام

۱:- ادغام: په لغت کي پټولو ته ویل کیږي او په اصطلاح کي د یوه حرف پټول دي په بل حرف کي چي اول حرف یې ساکن وي او دوهم حرف یې متحرک وي، چي د دواړو څخه یو شد لرونکی حرف جوړ سي، اول حرف ته یې مدغم او دوهم حرف ته یې مدغم فیه ویل کیږي.

په پورتني حکم کي د ادغام حروف: د ادغام حروف شپږ (۶) دي، چي د (يَرْمَلُوْن) په لفظ کي جمع سوي دي، تر ساکن (نون) یا تنوین وروسته چي د (يَرْمَلُوْن) د حروفو څخه یو حرف راسي، هلته ادغام کیږي لکه: (مَن يُؤْمِنُ، مِن وَاقٍ، هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ).

یادونه: په قرآن عظیم الشان کي اووه (۷) ځایونه داسي راغلي دي، چي تر (نون) ساکن وروسته د (يَرْمَلُوْن) حرف راغلی دی، مګر ادغام نه دی پرې سوی، هغه اووه (۷) ځایه له (صِنْوَانٌ، قِنْوَانٌ، بُنْيَٰنٌ، الدُّنْيَا، يسٓ (۱) وَالْقُرْءَانِ الْحَكِيمِ، نٓ وَالْقَلَمِ، كَلَّا بَلْ رَانَ) څخه عبارت دي.

په لومړیو څلورو (۴) کلمو کي چي له (صِنْوَانٌ، قِنْوَانٌ، بُنْيَٰنٌ، الدُّنْيَا) څخه عبارت دي، ځکه ادغام ونه سو، که ادغام وسي بیا التباس د مضاعف سره راځي، یعني وروسته تر ادغام نه معلومیږي، چي دوې (یاء) ګاني، یا دوه (واو) د اصلي کلمې څخه دي او که پر قاعده د (يَرْمَلُوْن) ادغام سوی دی. یا په بل عبارت که چیري (نون) ساکن او د (يَرْمَلُوْن) حرف په یوه کلمه کي راسي هلته ادغام نه کیږي، بلکي اظهار واجب دی.

ketabton.com - The Digital Library



په پنځمه (۵) او شپږمه (۶) کلمه کي چي له (يسٓ ﴿١﴾ وَالْقُرْءَانِ الْحَكِيمِ، نٓ وَالْقَلَمِ) څخه عبارت دي، ځکه ادغام ونه سو، چي دا مقطعات حروف دي، په پريکوڼ سره ويل کيږي او د حروفو مقطعات تر ادغام وروسته پريکوڼ له منځه ځي، په داسي حال کي چي ادغام يو ځايوالي ته اړتيا لري، چي قاعده د (يَرْمَلُوْن) يې غواړي، نو ځکه ادغام نه کوو، او په آخيره يعني په اوومه (۷) کلمه کي چي د (كَلَّا بَلْ رَانَ) څخه عبارت ده، ځکه ادغام ونه سو، چي دلته سکته کيږي، د سکتې له سببه يو ځای والي پاته نه سو.

يادونه: مضاعف د اسم او فعل د اوو (۷) قسمونو څخه يو قسم دی، چي له هغه کلمې څخه عبارت دی، چي حرف په کښي تکرار سوی وي، لکه: مد او زلزل.

د ادغام عام ډولونه:- ادغام عموماً درې (۳) ډولونه لري:- ۱: متماثلين ادغام. ۲: متجانسين ادغام. ۳: متقاربين ادغام.

۱:- متماثلين ادغام: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي يو حرف په يوه ځای کي مکرر سي، اول حرف يې وړغندی لرونکی او دوهم حرف يې متحرک وي، اول حرف په دوهم حرف کي مدغميږي او د دواړو څخه يو شد لرونکی حرف جوړيږي، لکه: (مِّن نَّذِيرٍ، أَم مَّن).

۲: متجانسين ادغام: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي په يوه ځای کي دوه (۲) داسي حرفه راسي، چي د يوه مخرج څخه ادا کيږي، اول حرف وړغندی لرونکی او دوهم حرف متحرک وي، اول حرف په دوهم حرف کي مدغميږي، او د دواړو حروفو څخه يو شد لرونکی حرف جوړيږي، لکه: (وَدَّت طَّآئِفَةٌ، أَحَطتُ).

د متجانسينو د ادغام ډولونه:- د متجانسينو ادغام پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: تام متجانسين. ۲: ناقص متجانسين.

۱:- تام متجانسين: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي په يوه ځای کي مدغم او مدغم فيه د يوه مخرج څخه وي او تر ادغام وروسته د لومړي حرف هيڅ آواز پاته نه سي، لکه: (قَد تَّبَيَّنَ).

۲:- ناقص متجانسين: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي په يوه ځای کي مدغم او مدغم فيه د يوه مخرج څخه وي او تر ادغام وروسته د اول حرف آواز پاته سي، لکه: (أَحَطتُ، بَسَطتَ) چي د اول حرف يعني (طاء) د استعلاء صفت پاته دی.

۳:- متقاربين ادغام: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي په يوه ځای کي دوه (۲) داسي حروف راسي چي مخرجونه يې سره نژدې وي اول حرف وړغندی لرونکی او دوهم حرف يې

ketabton.com - The Digital Library



متحرک (خوځنده) وي، اول حرف په دوهم حرف کي مدغمیږي او د دواړو څخه یو شد لرونکی حرف جوړیږي، لکه: (عَن رَّبِّهِمْ، مِنَّ لَّدُنْهُ).

د متقاربینو د ادغام ډولونه:- د متقاربینو ادغام پر دوه ډوله دي:- ۱: تام متقاربین. ۲: ناقص متقاربین.

۱:- تام متقاربین: وهغه ادغام ته ویل کیږي، چي په یوه ځای کي دوه (۲) داسي حروف راسي چي مخرجونه او یا یې صفتونه سره نژدې وي، لومړی حرف وړغندی لرونکی او دوهم حرف متحرک وي، او تر ادغام وروسته د لومړي حرف هیڅ اثر پاته نه سي، لکه: (عَن رَّبِّهِمْ، أَن لَّا يَقُولُواْ).

۲:- ناقص متقاربین: وهغه ادغام ته ویل کیږي، چي په یوه ځای کي دوه (۲) داسي حروف راسي چي مخرجونه یې سره نژدې وي، لومړی حرف وړغندی لرونکی او دوهم حرف متحرک وي او تر ادغام وروسته د لومړي حرف آواز پاته سي، لکه: (أَلَمْ نَخْلُقكُّم).

ادغام د حکم په لحاظ:- ادغام د حکم په لحاظ پر دري (۳) ډوله دی:

الف: واجب ادغام: که چیري د متماثلینو په ادغام کي اول حرف ساکن او دوهم حرف متحرک وي، نو هلته ادغام واجب دی، لکه: (مَنْ نَّشَآءُ).

با:- جائز ادغام: که چیري د متماثلینو په ادغام کي اول او دوهم حرف دواړه متحرک وي، نو هلته ادغام جائز دی، لکه: (مَدَّ الْأَرْضَ).

جیم:- ممتنع ادغام: که چیري د متماثلینو په ادغام کي اول حرف متحرک او دوهم حرف ساکن وي، نو هلته ادغام ممتنع دی، لکه: (فَاِنِ انتَهَواْ فَلَا عُدْوَانَ).

ادغام د کیفیت په لحاظ:- ادغام د کیفیت په لحاظ پر دوه (۲) ډوله دي:

الف:- تام ادغام: که چیري تر ساکن (نون) یا تنوین وروسته د (يَرْمَلُوْن) له حروفو څخه (لام) یا (راء) راغلې وي چي (لر) ورته ویل کیږي، هلته ادغام بلا غُنه کیږي، دې ادغام ته تام ادغام ویل کیږي لکه: (مِّن رَّبِّهِمْ).

با:- ناقص ادغام: که چیري تر ساکن (نون) یا تنوین وروسته د (يَرْمَلُوْن) له حروفو څخه پاته څلور (۴) حروف (یاء، میم، نون، واو) راسي چي (يَمْنُوْ) ورته ویل کیږي، هلته ادغام مع الغنه

ketabton.com - The Digital Library



کيږي، چي دې ادغام ته ناقص ادغام ويل کيږي، لکه: (مِّن مَّسَدٍ) ځکه ناقص ادغام ورته ويل کيږي، چي غُنه يې عارضي کيفيت دی.

۱:ـ قاعده: که چيري د متماثلينو په ادغام کي اول حرف مده حرف وي، هلته د متماثلينو ادغام نه کيږي، لکه: (كُلُواْ وَاشْرَبُواْ) ځکه دلته ادغام ونه سو، چي د مده حروفو مديت (کشيدل) له منځه ځي، په داسي حال کي چي د ټولو علماؤو په اتفاق سره د مده حروفو مديت لازمي دی.

۲:ـ قاعده: په حلقيه حروفو کي د متماثلينو ادغام کيږي، لکه: (تَسْتَطِع عَّلَيْهِ) مګر په حلقيه حروفو کي د متجانسينو او د متقاريبينو ادغام نه کيږي، لکه: (فَاصْفَحْ عَنْهُمْ، وَسَبِّحْهُ لَيْلاً طَوِيلاً) ځکه د حلقيه حروفو پخپل متماثل کي بيله ادغامه بله چاره نسته ځکه قاعده ورته متوجه ده او په حلقيه حروفو کي د متجانسينو او متقاريبينو ادغام نه کيږي، چي ادغام د سپکوالي لپاره دی، دلته په ادغام کولو سره دروندوالی منځته راځي.

د ادغام ډولونه د مدغم حرف د حرکت په لحاظ:- د ادغام د مدغم حرف د حرکت په لحاظ پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: کبير ادغام. ۲: صغير ادغام.

۱:- کبير ادغام: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي اول حرف يعني مدغم او دوهم حرف يعني مدغم فيه دواړه متحرک وي. ځکه کبير ادغام ورته ويل کيږي، چي د ادغام لپاره شرط دا دی چي لومړی به اول حرف ساکنه وو بيا به يې په دوهم حرف کي مدغموو، نو څرنګه چي دلته کار ډير غواړي، ځکه نو کبير ادغام ورته ويل کيږي.

۲:- صغير ادغام: وهغه ادغام ته ويل کيږي، چي اول حرف ساکن وي او دوهم حرف متحرک وي، ځکه صغير ادغام ورته ويل کيږي، چي لومړی کار سوی دی، يوازي ادغام غواړي، نو کار يې لږ دی، ځکه نو صغير ادغام ورته ويل کيږي.

## اظهار

۲:- اظهار: په لغت کي ښکاره کولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د دوو (۲) حروفو جلا کول دي، په داسي ډول سره چي هر حرف جلا او ښکاره ولوستل سي.

د اظهار حروف شپږ (۶) دي: نوموړو حروفو ته حلقيه حروف هم ويل کيږي، چي د (همزه، هاء، حاء، خاء، عين، غين) څخه عبارت دي. تر ساکن (نون) يا تنوين وروسته چي د حروفو حلقيه څخه يو حرف راسي هلته اظهار کيږي، لکه: (مَنْ ءَامَنَ، مِّنْ عَمَلٍ، عَلِيمٌ حَكِيمٌ).

ketabton.com - The Digital Library



## اقلاب

۳:- اقلاب: په لغت کي اړولو ته ویل کیږي او په اصطلاح کي د ساکن (نون) یا تنوین بدلول دي په (میم) سره هغه وخت چي د دوی څخه وروسته حرف (باء) راغلي وي، اقلاب د غُنی سره پرې کیږي، لکه: (سَمِيعُۢ بَصِيرٌ، يَعْتَصِمَ بِاللهِ).

د اقلاب حرف: د اقلاب حرف یوازي (باء) ده، تر (نون) ساکن یا تنوین وروسته چي (باء) راغلې وي، هلته اقلاب کیږي، یعني ساکن (نون) یا تنوین پر (میم) باندي اوړي، لکه: (أَنۢبِئۡهُم بِأَسۡمَآئِهِمۡ، فَلَمَّآ أَنۢبَأَهُم).

## اخفاء

۴:- اخفاء: په لغت کي پټولو ته ویل کیږي او په اصطلاح کي د اظهار او ادغام تر منځ په (نون) ساکن یا تنوین سره تلفظ کولو ته ویل کیږي.

د اخفاء حروف: د اخفاء حروف پنځلس (۱۵) دي، چي په دې قول کي یو ځای سوي دي، (صِفْ ذَا ثَنَاَ كَمْ جَادَ شَخْصٌ قَدْ سَمَاَ دُمْ طَيْبازِدْ فِيْ تُقَى ضَعْ ظَا لِمَا) که چیري تر ساکن (نون) یا تنوین وروسته د حلق، یرملون او اقلاب حروف نه وه راغلي، هلته اخفاء مع الغنه کیږي، لکه: (مِن ثَمَرَةٍ، يَنصُرُكُم، جَنَّتٍ تَجْرِى) یعني د اخفاء مع الغنه حقیقت دا دی چي د (نون) او (میم) آوازونه بیله تشدیده داسي را ووځي، چي د خپل مخرج څخه صاف نه راوځي، بلکي یو څه نیم ډوله ښکاره سي.

د ساکن (نون) او تنوین توپیرونه:

۱: (نون) ساکن د وصل او وقف په دواړو حالتونو کي ویل کیږي او تنوین په وقف کي حذف کیږي یعني له منځه ځي، یا بدلیږي، یعني نصبي (دوو زورو) تنوین په (الف) سره بدلیږي، لکه: (صُبْحًا) چي (صُبْحا) ویل کیږي او د دوو (۲) پیښو او دوو (۲) زیرو تنوین حذف کیږي یعني له منځه ځي.

۲: ساکن (نون) مرسوم او لیکلی وي، پرته د دوو (۲) ځایو څخه چي (وَلَيَكُوْناً) په سورة یوسف کي دي او (لنسْفعَاً) په سورة علق کي دی، دلته هم په اصل کي دغه تنوین نه دی، بلکي خفیفه

ketabton.com - The Digital Library



(نون) دی، ځکه چي پر فعل باندي تنوين نه راځي، او تنوين داسي نه دی، بلکي تنوين تل غير مرسوم وي، پرته د يوه ځای څخه چي د (كَأَيِّنْ) څخه عبارت دی.

۳: ساکن (نون) د کلمې په اول، منځ او اخير کي راځي، مګر تنوين يوازي او يوازي په پای کي راځي.

۴: ساکن (نون) د کلمې په ټولو اقسامو يعني اسم، فعل او حرف کي راځي، مګر تنوين يوازي په اسم کي راځي.

۵: ساکن (نون) اصلي او زائد دواړه راځي، مګر تنوين تل زائد وي.

۶: ساکن (نون) د تاکيد لپاره هم راځي، مګر تنوين د تاکيد لپاره نه راځي.

قاعده: په قرآن کريم کي څلور (۴) ځايه داسي راځي چي د (صاد) پر سر کوچنی (سين) ليکل سوی وي، نوموړي څلور (۴) ځايونه د لاندينيو ځايونو څخه عبارت دي:

۱: (وَيَبْصُۜطُ) دوهمه سپاره پنځلسمه (۱۵) رکوع. ۲: (بَصْۜطَةً) اتمه سپاره (۱۶) رکوع. ۳: (الْمُصَۜيْطِرُونَ) اوويشتمه سپاره (۴) رکوع. ۴: (بِمُصَۜيْطِرٍ) سورت الغاشيه (۳۰) سپاره.

په دوو (۲) اولو کلمو کي (سين) ويل کيږي او په دريمه (۳) کلمه کي دواړه يعني د (سين) او (صاد) ويل جائز دي او په څلورمه (۴) کلمه کي (صاد) ويل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



# يوولسمه (۱۱) روښنائي

## د (الف، واو، ياء) ادا كول د تجويد په قاعدو كښي

هر كله چي دا درې (۳) حروف ساكن وي، د (الف) (۱) څخه مخكي حرف باندي زور وي، د (واو) ساكن څخه مخكي حرف باندي پيښ وي، او د (ياء) ساكني څخه مخكي حرف باندي زير وي، په داسي حالت كي د دوى نوم مده دى، ولاړ زور، ولاړ زير او خنجري پيښ هم په حروف مده وو كي داخل دي، ځكه چي ولاړ زور د (الف) آواز وركوي، ولاړ زير د (ياء) مده آواز وركوي، او خنجري پيښ د (واو) مده آواز وركوي.

۱:- **قاعده:** كه چيري د حرف مده څخه وروسته همزه وي، دغه حرف مده او همزه دواړه په يوه كلمه كي وي، نو هلته موږ دغه مده كشوو، دې كشولو ته مد ويل كيږي، لكه: (سَوَآءٌ، سُوْٓءً، سِيّٓـئَتْ) ددې مد نوم مد متصل دى، او دې مد ته واجب (۲) مد هم ويل كيږي، ددې مد د كشولو مقدار درې (۳) الفه قدر دى، مګر دغه مقدار د هغه مقدار څخه جلا دى، كوم چي د حروف مده وو اصلي مقدار دى، مثلاً: په (جآءَ) كي كه همزه نه وي، مګر بيا هم د (الف) يو څه مقدار دى، نو ددې اصلي مقدار څخه ماسيوا (۳) د مد كولو مقدار دى.

۲:- **قاعده:** كه چيري د حروف مده وو څخه وروسته همزه وي، دغه حروف او همزه په يوه كلمه كي نه وي، بلكي د يوې كلمې په اخير كي حرف مده وي، او د دوهمي (۲) كلمې په شروع كي همزه وي، هلته دي هم دغه حرف مد كشوي يعني په مد سره دي يې وايي، لكه: (اِنَّـآ اَعْطَيْنٰكَ، اَلَّذِىٓ اَطْعَمَهُمْ، قَالُـوْٓا اٰمَنَّا) مګر دغه مد هغه وخت كيږي، چي دواړي كلمې يو ځاى سره وويل سي، او كه چيري د يو عذر له سببه پر اولنۍ كلمه باندي وقف وكړل سي، بيا نو دغه مد نه كيږي، دې مد ته مد مُنفصل او مد جائز (۴) هم ويل كيږي، ددې مد مقدار هم درې (۳) يا څلور (۴) الفه دى.

۳:- **قاعده:** كه چيري په يوه كلمه كي د حرف مد وروسته يو حرف ساكن وي، چي د هغه سكون اصلي وي، يعني پر هغه باندي د وقف كولو له سببه سكون نه وي، لكه: (آٰلْئٰنَ) په دې كي اول حرف (همزه) دى، دوهم حرف (الف) او هغه مد دى، دريم حرف (لام) ساكن دى، ددې (لام) ساكن كيدل ښكاره معلومه خبره ده، چي د وقف په سبب سره نه دى، كه چيري پر دې كلمه باندي وقف ونه كړل سي، بيا هم موږ (لام) ساكن وايو(۵)، او پر دې باندي هم مد كيږي، ددې مد نوم لازم مد دى، او ددې مد مقدار درې الفه (۶) دى، دې مده ته كلمي مخفف (۷) هم ويل كيږي.

ketabton.com - The Digital Library



۴:- **قاعده:** که چیري په یوه کلمه کي د حرف مد څخه وروسته حرف مشدد وي، لکه: (ضَآلِّیْنَ) په دې کي خو (الف) مده دی، او د هغه وروسته پر (لام) باندي تشدید دی، پر دې مده باندي هم مد کیږي، ددې نوم [۸] مد لازم دی، او ددې مقدار درې (۳) الفه ده، داسي مد ته کلمي مثقل ویل کیږي.

۵:- **قاعده:** د بعضو سورتونو په اول کي چي کوم بعضي حروف جلا جلا ویل کیږي، لکه د سورت البقرة په اول کي (آلٓمٓ) (الف، لام، میم) دې حروفو ته حروف مقطعه ویل کیږي، په دې کي یو خو پخپله (الف) دی، د هغه اړوند دلته هیڅ قاعده نسته، او د (الف) څخه ماسیوا چي کوم حروف پاته سوه، هغه پر دوه (۲) ډوله دي، یو هغه حروف دي، چي د هغو په تلفظ کي درې (۳) حرفه دي، لکه: (لام، میم، قاف، نون) او بل هغه حروف دي، چي په هغو کي دوه (۲) حرفه دي، لکه: (طٰهٰ) نو هغه حروف چي په تلفظ کي دوه (۲) حرفه وي، د هغو اړوند هیڅ قاعده [۹] نسته، او کوم حروف چي په تلفظ کي درې حرفه [۱۰] دي، پر هغو باندي مد کیږي، هغه ته مد لازم ویل کیږي، او د هغه مقدار هم درې الفه [۱۱] دی، دې مد ته مد حرفي ویل کیږي، ددې درې (۳) حرفي مقطعاتو پر اخیر حرف باندي چي د ویلو په وخت کي تشدید راځي هغه مد ته مد حرفي مثقل [۱۲] ویل کیږي، لکه په (آلٓمٓ) کي چي هر کله (لام) د (میم) سره ووایو، نو د هغه په اخیر کي شد [۱۳] پیدا کیږي، او په کوم کي چي شد نسته هغه مد ته مد حرفي مخفف ویل کیږي، لکه په (آلٓمٓ) کي چي د (میم) په اخر کي شد نسته [۱۴].

۱:- یادونه: په درې (۳) حرفي مقطعاتو کي چي مد ښوول سوی دی، په هغو اکثرو کي د منځ حرف مده دی، چي د هغه حرف مد وروسته په بعضي ځایو کي ساکن حرف وي، لکه په (میم) کي (یاء) مده ده او د هغې څخه وروسته (میم) ساکن دی، په بعضي نورو ځایو کي بیا د حرف مده وروسته مشدد حرف وي، لکه په (لام) کي (الف) مده دی، او د هغه وروسته (میم) مشدد دی، پر داسي مده باندي همیشه په داسي ځایو کي مد کیږي، نو په داسي ځایو کي خو مد کول د عامي قاعدې موافق دی، البته په کومو حروف مقطعاتو کي چي د منځ حرف مده نه وي، لکه په (کٓهیٰعٓصٓ) کي چي (عین) [۱۵] دی، دلته مد کول د عامي قاعدې موافق نه دی، نو له همدې سببه که چیري مد ونه کړل سي، بیا هم صحیح ده، مګر ښه خبره دا ده چي [۱۶] مد وکړل سي او ددې مد ته مد لازم لین ویل کیږي.

۲:- یادونه: کوم حروف مقطعات چي په اخیر کي دي پر دوی باند مد هغه وخت کیږي، چي هر کله پر دوی باندي وقف وکړل سي، او که چیري د وروسته سره یو ځای کړل سي، نو بیا مد کول او نه کول دواړه جائز دي، بلکي د سورت العمران په شروع کي چي (آلٓمٓ) دی، که چیري د (اللّٰهُ) د لفظ سره چي تر ده وروسته دی، یو ځای کړل سي، نو په مد کولو او نه کولو کي اختیار دی [۱۷].

ketabton.com - The Digital Library



۶:- **قاعده:** که چیري د حرف مده وروسته حرف ساکن وي، چي د هغه سکون اصلي نه وي، یعني پر هغه باندي د وقف له سببه سکون راغلی وي، دغه سکون مقابل یعني ضد دی، د هغه سکون کوم چي د دریمي (۳) قاعدې په اول کي بیان سوی دی، نو پر داسي ساکن باندي مد کول جائز دي او نه کول هم صحیح دي، مګر کول یې ښه کار دی، لکه په (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ) باندي، دې مد ته مد وقفي او مد عارض هم ویل کیږي، دغه مد د درو (۳) الفو برابر دی، دې مد ته طول [۱۸] ویل کیږي. دا هم جائز ده چي د دوو (۲) الفو برابر مد وکړل سي، دې ته توسط ویل کیږي. او دا هم جائز دي چي بلکل مد ونه کړل سي، یعني د یو (الف) برابر وویل سي، چي که چیري تر دې کم سي، نو حرف به پاته نه سي، دې مقدار ته قصر ویل کیږي، په دې کي افضل طول دی، بیا توسط دی، بیا قصر دی.

په یاد ولرئ! ددې درو (۳) طریقو څخه چي کومه طریقه اختیار کړی، د تلاوت تر ختمیدو پوري د هغې طریقې موافق روان سی، یعني تلاوت په دغه یوه طریقه کوی، داسي مه کوئ، چي یو ځای طول بل ځای قصر طریقه استعمال کړی، ځکه چي دا ښه کار نه دی، دا هم د مد جائز یو ډول دی، کوم ځای کي چي پخپله پر مده باندي وقف وي، هلته دا مد نه کیږي، لکه تلاوت کوونکي پر (غَفُوْرًا، شَكُوْرًا) باندي وقف وکړي او مد هم کوي، دا کار بلکل غلط دی [۱۹].

۱:- یادونه: مد عارض لکه څرنګه چي پر مده باندي جائز دی، همدارنګه پر لین باندي جائز دی، یعني (واو) ساکن چي د هغه څخه مخکي زور وی، او (یاء) ساکنه چي د هغې څخه مخکي زور وي، لکه: (وَالصَّيْفِ) یا (مِنْ خَوْفٍ) باندي چي وقف وکړل سي، او څرنګه چي طول جائز دی، همدارنګه توسط او قصر هم جائز دي، مګر په دې کي افضل قصر دی، بیا توسط، بیا طول دی، دې مد ته مد عارض لین ویل کیږي.

۲:- یادونه: د حرف لین اړوند یوه قاعده د یوولسمي (۱۱) روښنائي په پنځمي (۵) قاعده اوله یادونه کي هم تیره سوي ده، هغه وګورئ، ځکه چي په هغو حروفو مقطعه وو کي چي (عین) دی، د هغه (یاء) حرف لین ده.

۳:- یادونه: تر دې ځایه پوري چي څومره د مد ډولونه بیان سوي دي، دې ټولو ته مد فرعي [۱۹] ویل کیږي، ځکه چي اصل مد زائد دی، او یو مد اصلي دی، چي دې ته ذاتي او طبعي مد هم ویل کیږي، یعني د (الف، واو، یاء) دومره مقدار چي که چیري د هغه مقدار څخه کم وویل سي، نو هغه حرف به پاته نه سي، بلکي زور، زیر یا پیښ به پاته سي، ددې لپاره یوه خاص قاعده نسته.

۷:- **قاعده:** دا قاعده په حروف مده وو کي یوازي د (الف) اړوند ده، هغه دا چي (الف) پخپله باریک ویل کیږي، مګر که چیري د (الف) څخه مخکي ډک حرف وي، یعني د حروف مستعلیه

ketabton.com - The Digital Library



وو ښځه یو حرف وي، یا د (راء) حرف وي، چي د فتحي (زور) په حالت کي ډکه ویل کیږي، یا ډک (لام) وي، لکه د (اللهُ) د لفظ (لام) چي دی، که ددې (لام) مخکي زور یا پیښ وي، نو په دې صورت کي به (الف) هم ډک ویل کیږي.

په یاد ولری! [۲۰] ددې حروفو په ډک والي کي هم فرق سته، نو همدغه رقم فرق به د (الف) په ډک والي کي هم وي، کوم چي ددې حروفو وروسته راسي، نو تر ټولو ډیر ډک خو د (اللهُ) د لفظ (لام) دی، د هغه وروسته (طاء) ده، تر (طاء) وروسته (صاد) او (ضاد) دی، تر (صاد) او (ضاد) وروسته (ظاء) ده، تر (ظاء) وروسته (قاف) دی، تر (قاف) وروسته (غین) او (خاء) ده، تر (غین) او (خاء) وروسته (راء) ده.

حاشیه.....................................................................................!

(۱) تشریح: د (الف) همیشه دغه یو حالت وي، یعني ساکن بې حرکته او ماقبل یې مفتوح وي.

(۲) تشریح: دې مد ته مد واجب مد ځکه ویل کیږي، ځکه چي په هیڅ قرائت کي قصر وربانديي نه دی. حضرت جابر ابن مسعود (رضي الله عنهم) یو سړی ولیدی چي تلاوت یې کوی: (لِلْفُقَرَاءِ) بیله مد کولو ښځه وایه، ده دغه سړی منع کړی، او ورته ویې ویل: موږ ته حضرت محمد (صلى الله علیه وسلم) داسي نه دي ویلي، بلکي ویلي یې دي: (لِلْفُقَرَآءِ) په مد سره.

(۳) تشریح: د مد متصل مقدار کي دوه (۲) قوله دي:- ۱: د مد متصل مقدار څلور (۴) الفه دی. ۲: د مد متصل مقدار پنځه (۵) الفه دی. تر دې مقدار زیاته مقدار نسته.

د حفص (رحمة الله علیه) په نزد: دلته په مد متصل کي توسط کیږي، د توسط ډیر مقدار پنځه (۵) الفه دی، که چیري یو (الف) مقدار بل زیاته سي، یعني شپږ (۶) الفه سي، نو توسط به نه سي، بلکي طول به سي، یعني دې ته بیا طول ویل کیږي، د حفص (رحمة الله علیه) په روایت کي طول جائز نه دی.

خلاصه: د حفص (رحمة الله علیه) په روایت کي په مد متصل کي طول نسته، بلکي توسط دی، توسط تر پنځه (۵) الفه زیات نه وي، یعني په مد کي به توسط کیږي، د څلور (۴) یا پنځو (۵) حرکتو په اندازه. په یاد ولری! دلته د (الف) ښځه مراد حرکت دی.

(۴) تشریح: دې مد ته مد جائز د حفص په یوه طریقه (طریق جزري) مطابق ویل کیږي، په دې طریقه کي مد کول او مد نه کول دواړه جائز دي، مګر د شاطبي د طریقې په شان په مد متصل کي مد کول ضروري بولي، د مد متصل د مقدار په شان د مد منفصل مقدار هم زیات تر زیاته څلور (۴) یا پنځه (۵) حرکته دی.

ketabton.com - The Digital Library



د مد متصل او مد منفصل كه څوک ظاهراً فرق نه سي كولاى، مگر يو څو علامې سته چي د هغو په رڼا كي يو د بل څخه جلا كيدل يې آسانه دي:- ۱: په مد منفصل كي د مد علامه باريكه ليكل سوې وي. ۲: همزه يې لكه (الف) داسي ليكل سوې وي، لكه: (بِمَآ أُنْزِلَ، يَدَآ اَبِىْ) برعكس متصل چي په هغه كي د مد علامه پنډه او د مد علامه د (عين) د سر په شان ليكلې وي، لكه: (جَآءَ، شَآءَ) او داسي نور...

د قرائت كوم اختلاف چي د قرائت ولسو (۱۰) امامانو ته منسوبه وي، هغه ته قرائت ويل كيږي، او كوم اختلاف چي د دوی و راويانو ته منسوبه وي، هغه ته روايت ويل كيږي، او كوم اختلاف چي د وروستيو علماؤو په منځ كي دی، لكه: جزري او شاطبي، دې ته طريق ويل كيږي.

(۵) تشريح: كه چيري وقف ونه كړو هم (لام) ساكن دی، دا د سكون اصلي او سكون عارضي د فرق لپاره دی، مگر پر (لام) باندي وقف نه سي كيدلاى، ځكه چي د يوې كلمې پر مابينځ باندي وقف جائز نه دی، بلكي وقف هميشه د كلمې پر اخر باندي وي.

(۶) تشريح: دلته مراد د يوه (الف) څخه مقدار د دوو (۲) حركتو دی، نو گويا د شپږو (۶) حركتو په قدر به وي، ځكه چي د طول مقدار هم شپږ (۶) حركته دی، ددې څخه طول كم نه وي.

(۷) تشريح: د مد لازم كلمي مخفف تعريف: د حرف مده وروسته چي كوم حرف باندي اصلي سكون وي، او دا حرف مد په قرآني كلمه كي وي. بلكي دا خبره دي واضح وي چي په ټول قرآن كريم كي د حفص په روايت كي د مد لازم كلمي مخفف مثال صرف دغه يو لفظ (آلْئٰنَ) دی، كوم چي په سورت يونس كي دوه (۲) ځايه دی.

(۸) تشريح: د مد لازم كلمي مثقل تعريف: د حرف مد څخه وروسته حرف باندي تشديد وي، چي په اسم او يا فعل كي واقع وي، هغه مد لازم كلمي مثقل ويل كيږي، لكه: (اَتُحَآجُّوْنِىْ) او داسي نور.

(۹) تشريح: د (الف) په تلفظ كي درې (۳) حروفونه دي، (همزه، لام، فاء) په دې درو (۳) سره وو كي يو هم حرف مد نه دی، لهذا د مد د بحث څخه وتلی دی، ځكه چي محل مد (واو، الف، ياء) موجود نه دي.

(۱۰) تشريح: داسي حروف چي په تلفظ كي درې (۳) حرفه دي، ټول اووه (۷) دي، لكه: (نٓ، قٓ، سٓ، لآم، كآف، مٓيم) مگر دغه حروف نور حروف هم كيدای سي، لكه: (جٓيم، دآل، ذآل، شين، صآد، ضآد، عٓين، غٓين، وآو) او داسي نور...

ketabton.com - The Digital Library



(۱۱) تشریح: کوم حروف چي په تلفظ کي دوه (۲) حرفي وي، هغه ټول پنځه (۵) دي، لکه: (حا، خا، یا، ها، را) په دې پنځو (۵) سره وو کي مد اصلي مد دی، ځکه چي محل مد (الف) دی هغه سته او سبب مد (همزه او سکون) دي، یا تشدید دی هغه نسته، لهذا دلته به مد فرعي نه کیږي، مګر دا دوه (۲) حرفي حروف دغه پنځه (۵) حروف او نور حروف هم کیدای سي، لکه: (با، تا، ثا، زا، طا، ظا، فا).

(۱۲) تشریح: د مد لازم حرفي مثقل تعریف: د حرف مد څخه وروسته حرف که چیري مشدد وي، او دا حرف مد په حروف مقطعاتو کي وي، نو دې ته مد لازم حرفي مثقل ویل کیږي.

(۱۳) تشریح: د (میم) ساکن په قواعدو کي ویل سوي دي: که چیري د (میم) ساکن وروسته (میم) وي، نو هلته ادغام کیږي، د ادغام په وجه به (میم) مشدد سي، ددې قاعدې مطابق د (لام) په (میم) کي او د (میم) په اول (میم) کي ادغام وسو، او تشدید راغلی. همدارنګه (طسٓمٓ) چي په اصل کي (طاء، سین، میم) دی، د (یَرْمَلُوْن) په قاعده کي د (نون) ادغام په (میم) کي وسو، او تشدید باندي راغلی. همدارنګه په (سین) کي مد لازم حرفي مثقل پیدا سو.

(۱۴) تشریح: همدارنګه د (الٓرٰ) په (لام) کي مد لازم حرفي مخفف دی.

(۱۵) تشریح: د مد لازم لین مثال په ټول قرآن کریم کي صرف (عَین) دی، کوم چي دوه (۲) ځایه د سورت مریم او سورت شورٰی په مقطعاتو کي واقع دی.

(۱۶) تشریح: طول افضل دی، د ابن مجاهد او اکثرو اهل ادا د اکابرو همدغه مذهب دی، توسط هم جائز دی، لکه ابن غلبون، مکي او یو جماعت هم دا خوښوي او قصر هم جائز دی.

خلاصه: د الفباء نوویشت (۲۹) حروفه دي، په دې نوویشت (۲۹) حروفو کي دوه (۲) حرفه داسي دي، چي د هغو په تلفظ کي حرف مد (محل مد) د سره نسته، لکه: (الف، باء او همزه) ددې اړوند خو هیڅ قاعده نسته، پاته حروف یا ثنایي (دوه حرفي) دي، د هغو اړوند هم هیڅ قاعده نسته، دلته که څه هم محل مد موجود دی، مګر سبب مد نسته، او کوم درې (۳) حرفي (ثلاثي) چي دي، په هغو کي د منځ حرف مد دی، ماسیوا د (عین او غین) څخه او وروسته یې سکون راغلی دی، هلته به دغه حرف په مد سره ویل کیږي.

(۱۷) تشریح: طول او قصر دواړي وجهي جائز دي، توسط نهایت ضعیف دی، طول په اعتبار د اصل ځکه چي اصل په مقطعاتو کي دا دی چي په قطعه سره وویل سي، نو بیا خو د (یاء) وروسته (میم) ساکن دی، او قصر د اوسني حالت په اعتبار چي اوس (میم) متحرک سو.

ketabton.com - The Digital Library



(۱۸) تشریح: طول د شپږو (۶) حرکاتو په اندازه، توسط د څلور (۴) حرکاتو په اندازه او قصر د دوو (۲) حرکاتو په اندازه دی، د پام وړ! په مد متصل او مد منفصل کي توسط هم کیږي، د مد لازم په څلورو (۴) سره ډولونو کي صرف طول دی، په مد عارض وقفي او مد لین عارض کي طول، توسط او قصر دا درې (۳) سره جائز دي.

(۱۹) تشریح: پر داسي ځایونو چي وقف وي، ناواقفه کسان یې تر یوه (الف) زیات کشوي، کوم چي دا طریقه صحیح نه ده، بعضي کسان د داسي (الف) وروسته (همزه) یا (هاء) زیاته وي، کوم چي دا طریقه هم غلطه ده.

خلاصه: طول په اعتبار ددې چي په اوسني حالت کي د حروف مده وو وروسته سکون راغلی دی، توسط په دې اعتبار چي سکون خو عارضي دی، او څرنګه چي دا سکون موجود دی، که څه هم عارضي دی، بیا هم د ده اعتبار باید څه وکړل سي، ځکه نو نه صرف قصر سو، او نه صرف طول سو، بلکي د دواړو حالتو اعتبار ورکړل سو، او قصر خو د (یاء) خپل د ذات تقاضا ده.

(۱۹) تشریح: د مد اصلي، مد ذاتي یا مد طبعي تعریف: د حرف مد څخه وروسته همزه، سکون یا تشدید نه وي، نو ځکه دي د خپل اصلي مقدار څخه نه زیاتیږي، بلکي خپل پر اصلي مقدار باندي پاته کیږي. مد فرعي: د حرف مد څخه وروسته د همزه، سکون او تشدید د راتلو په وجه هغه د خپل اصلي مقدار څخه ډیر کشیږي، چي د هغه نه (۹) ډولونه تیر سول.

خلاصه: تشدید ځان ته جلا سبب د مد فرعي نه دی، بلکي سببونه د مد فرعي دغه دوه (۲) دي، لکه: (همزه، سکون) ځکه چي په مشدد حرف کي هم اول ساکن وي، مګر څرنګه چي عامو خلګو ته نه معلومیږي، ځکه توضیحاً ذکر سو.


(۲۰) تشریح: حروف مفخمه ټوله لس (۱۰) دي، ځکه چي اووه (۷) حرفه مستعلیه حروف دي، چي د هغوی تفخیم اصلی دی، او درې حروف یعني (لام) د اسم جلاله (راء) او (الف) چي د دوی تفخیم عارضي دی، کله به وي، او کله کله به نه وي، لکه څرنګه چي ددې درې (۳) سره حروفو قواعد هر یو پر خپل ځای باندي تیر سوه، د حروف په ډک والي کي چي کوم فرق بیان سوی دی، هغه په حروف مفخمه وو کي د مراتب په لفظ سره تعبیر کیږي.

ددې تشریح اړوند:ـ ۱: استعلاءِ اعلیٰ دا ده چي حروف مستعلیه مفتوح وي او وروسته به (الف) وي، لکه: (طَالَ، صَالَ). ۲: ددې استعلاء څخه وروسته هغه استعلاء ده، چي حروف مستعلیه مفتوح خو وي، وروسته یې (الف) نه وي، لکه: (ضَلَاَلْ، اِنْطَلِقُوْا). ۳: استعلاء وسطیٰ هغه دا ده چي حروف مستعلیه مضموم وي، لکه: (قُرِئَ). ۴: ددې استعلاء څخه وروسته هغه ده چي حروف د استعلاء ساکن وي، لکه: (خَلَقْنَا). ۵: استعلاء ادنیٰ هر کله چي حروف د استعلاء مکسور وي، لکه: (قِيْلَ).

ketabton.com - The Digital Library



# د مدونو اجمالي نقشه



ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

مـد: په لغت کي کشولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کي د يوه (الف) څخه تر درو (۳) الفو پوري د آواز کشولو څخه عبارت دی.

د مد حروف: د مد حروف دري (۳) دي، (واو، الف، ياء).

حرف مد ته هغه وخت حرف مده ويل کيږي، چي خپله ساکن او د مخکني حرف حرکت يې له خپله جنسه څخه وي، لکه: (نُوحِيهَآ).

د (الف) جنس زور دی، د (واو) جنس پيښ دی او د (ياء) جنس زير دی.

د مد حروفو ته ځکه د مد حروف ويل کيږي، چي د هجاء په حروفو کي بل حرف نسته، چي د حرکاتو څخه جوړ سوی وي، (الف) د دوو (۲) زورو څخه، (واو) د دوو (۲) پيښنوو څخه، او (ياء) د دوو (۲) زيرو څخه جوړ سوي دي. مديت ددې درو (۳) حروفو په ذات کي پروت دی، ځکه چي آواز پرې کشيږي.

د مد ډولونه: مد پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: قصير مد. ۲: طويل يا فرعي مد.

۱:- قصير مد يا مد اصلي: هغه مد ته ويل کيږي، چي د مد د حرف څخه وروسته د مد سبب يعني سکون (وړغندی) يا همزه شتون ونه لري، لکه: (قِيلَ، قَالُواْ، قَالَ) و مد اصلي ته مد طبعي هم ويل کيږي، ځکه چي د جوړ او روغ طبيعت ښتن دغه مد تر خپلي اندازې نه کموي او نه يې زياتوي، د مد اندازه يې يو (الف) ده، چي دوه (۲) حرکته کيږي او تر خپل اندازې يعني يو (الف) کم ويل شرعاً حرام دی.

۲: طويل مد يا مد فرعي: هغه مد ته ويل کيږي، چي د مد د حرف څخه وروسته د مد سبب يعني سکون يا همزه شتون ولري، لکه: (وَلَا الضَّآلِّينَ، جَآءَ) د مد اندازه يې درې (۳) الفه ده، چي شپږ (۶) حرکته کيږي.

د مد سببونه: د مد سبب همزه يا سکون ځکه وضع سوی دی، چي د مده د حرف څخه وروسته چي همزه راسي، همزه سخت او قوي حرف دی او د مد حرف کمزورئ حرف دی، نو د همزې د له منځه تللو بيره وي، ځکه نو مد پرې کوو، تر څو همزه په سمه توګه ادا سي، په آواز کي قوت راسي، او سکون ځکه د مد سبب دی، چي د دوو (۲) ساکنو حروفو يو ځايوالی راځي، د دوو (۲) ساکنو حروفو يو ځای والی ويل پر ژبه باندي درونډ دی، ځکه مد پرې کوو، چي دغه بيلوونکی دی.

ketabton.com - The Digital Library



د طويل مد ډولونه:

۱:- متصل مد: هغه مد ته ويل کيږي، چي حرف مد او د مد سبب دواړه په يوه کلمه کي راغلي وي لکه: (شَآءَ، جَآءَ، سِيٓءَ) او د مد مقدار يې پنځه (۵) حرکته دی چي دوه نيم (۲.۵) الفه کيږي.

۲:- منفصل مد: هغه مد ته ويل کيږي چي د مد حرف په يوه کلمه کي وي او د مد سبب يې په بله کلمه کي وي، لکه: (بِمَآ أُنزِلَ، فِيٓ أَنفُسِكُمْ، قُولُوٓاْ ءَامَنَّا) د مد مقدار يې د حدر په حالت کي دوه (۲) حرکته دی، چي يو (الف) کيږي او د تدوير په حالت کي څلور (۴) حرکته دی، چي دوه (۲) الفه کيږي او د ترتيل په حالت کي پنځه (۵) حرکته دی، چي دوه نيم (۲.۵) الفه کيږی.

۳:- لازمي مد: هغه مد ته ويل کيږي چي د مد سبب يې لازمي وي، لکه: (نٓ وَالْقَلَمِ، الٓمٓ) دلته د مد حرف او سبب د مد دواړه په يوه حرف کي پراته دي، چي د کلمې پوره والی يې يوازي په تلفظ کي ويل کيږي او د مد مقدار يې درې (۳) الفه دی، چي شپږ (۶) حرکته کيږي.

۴:- عارضي مد: هغه مد ته ويل کيږي چي د مد سبب يې عارضي وي، يعني د مد د حرف څخه وروسته سکون عارضي وي، يعني د وقف له کبله منځته راغلی وي، لکه: (نَسْتَعِينُ،خَطِئِينَ، مُسْتَهْزِءُونَ، الرَّحِيمِ) د وقف په حال کي او د مد اندازه يې درې (۳) الفه ده، چي شپږ (۶) حرکته کيږي، دا مد يوازي د وقف يعني د دريدو په وخت کي راځي.

يادونه: د متصل (پيوست) او منفصل (ناپيوست) مدونو د مد سببونه تل همزه وي، د لازمي او عارضي مدونو لپاره تل د مد سبب سکون وي، د متصل او منفصل مدونو لپاره هيڅ وخت د مد سبب سکون نه سي کيدای، د لازمي او عارضي مدونو لپاره هيڅ وخت د مد سبب همزه نه سي کيدای، لکه: (شَآءَ، جَآءَ، يُكَذِّبُونِ، نٓ).

د متصل (پيوست) او منفصل (ناپيوست) مدونو توپير:

۱: د پيوست مد علامه پنډه ( ~ ) او د ناپيوست مد علامه نري ( ٓ ) وي.

۲: د پيوست مد همزه يعني د مد سبب د (عين) د سر په شان (ء) او د ناپيوست مد همزه يعني د مد سبب د (الف) په شان (ا) وي، لکه: (شَآءَ، جَآءَ، قُولُوٓاْ ءَامَنَّا).

۳: په پيوست مد کي حرف مد او سبب د مد دواړه په يوه کلمه کي وي، لکه: (شَآءَ، جَآءَ، سِيٓءَ) او په ناپيوست مد کي حرف مد په يوه کلمه کي وي او د مد سبب يې په بله کلمه کي وي، لکه: (فِيٓ أَنفُسِكُمْ، وَمَآ أُنزِلَ).

ketabton.com - The Digital Library



۵:- کلمي مثقل (درروند) مد: هغه مد ته ویل کیږي چې د مد حرف او سبب د مد یې دواړه په یوه کلمه کې وي او د مد سبب یې پر یو شد لرونکي حرف وي، لکه: (وَلَا الضَّآلِّيْنَ، آلْـٓمّٓ، دَآبَّةً) یې درې (۳) الفه ده، چې شپږ (۶) حرکته کیږي.

۶:- حرفي مثقل (توریز درروند) مد: هغه مد ته ویل کیږي چې د مد حرف او سبب مد دواړه په یوه حرف کې راغلي وي او سبب د مد پر یو شد لرونکي حرف وي، لکه: (آلْـٓمّٓ).

۷:- کلمي مخفف (سپک) مد: هغه مد ته ویل کیږي چې حرف مد او سبب د مد دواړه په یوه کلمه کې راغلي وي او سبب د مد یې پر شد لرونکي حرف باندي نه وي، لکه: (ءَآلْئَنَ) د مد اندازه یې درې (۳) الفه ده، چې شپږ (۶) حرکته کیږي.

۸:- حرفي مخفف (توریز سپک) مد: هغه مد ته ویل کیږي چې د مد حروف او د مد سبب دواړه په یوه حرف کې راغلي وي او سبب د مد یې پر یو شد لرونکي حرف نه وي، لکه: (نٓ، قٓ) د مد اندازه یې درې (۳) الفه ده، چې شپږ (۶) حرکته کیږي.

۹:- د لین مد: هغه مد ته ویل کیږي چې د مد حرف یې د لین حرف وي او د لین د حرف څخه وروسته د مد سبب همزه یا سکون راغلي وي، (خَوْفٍ، خَيْرٌ، سَوْءٍ، شَيْءٍ) د وقف په حال کې د مد اندازه یې د یوه (الف) په اندازه غوره ده.

د لین توري: د لین حروف دوه (۲) دي (واو، یاء) په داسي حال کې چې دوی خپله ساکن وي او د مخکني حرف حرکت یې زور وي.

۱۰:- مد بدل: هغه مد ته ویل کیږي چې دوې (۲) همزې په یوه کلمه کې سره جمع سي، مګر متحرکه (خوځنده) همزه مخکې وي او ساکنه همزه وروسته وي ساکنه همزه یې په (الف) سره بدلیږی او دوه (۲) حرکته مد پرې کیږي، لکه: (أُتُواْ، ءَادَمَ، ءَازَرَ) چې په اصل کې (أأتوا، أأدم، أأذر) وو.

۱۱:- مد عوض: هغه مد ته ویل کیږي چې پر تنوین د نصب یعني دوو (۲) زورو باندي وقف وسي، نوموړی تنوین په (الف) سره بدلیږي او دوه (۲) حرکته مد پرې کیږي، لکه: (هُدًى، قَرِيًا) چې دغه کلمې د وقف په حال کې (هُدًا، قَرِيا) ویل کیږي.

یوازي چې پر (تاء) تانیث یعني ګردی (تاء) (ة) باندي دوه (۲) زوره راسي هغه دوه (۲) زوره په (الف) سره نه بدلیږي، بلکي دغه (تاء) تانیث په (هـ) سره بدلیږي، لکه: (بَقَرة) چې د وقف په وخت کې (بَقَره) ویل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library



۱۲:- د تمکین مد: هغه مد ته ویل کیږي، چي په یوه ځای کي دوې (۲) یاء ګاني وي، لومړی یې متحرکه مشدده او دوهمه یې ساکنه وي، لکه: (عِلِّيِينَ، وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ) او د مد اندازه یې دوه (۲) حرکته ده. د تمکین مد ته ځکه د تمکین مد ویل کیږي چي تمکین د قدرت په معنا دی او مشدد والی د (یاء) و(یاء) ته دا قدرت ورکوي چي مد پرې وسي.

۱۳:- مد صله: هغه مد ته ویل کیږي چي (هاء) ضمیریه [۱] د کلمې په آخیر کي راسي، مخکي او وروسته حروف یې حرکت لرونکي وي. مد صله ته ځکه مد صله ویل کیږي چي صله په لغت کي کشولو ته ویل کیږي، دا مد هم د (هاء) ضمیر د کشولو څخه لاسته راځي.

صله پر دوه (۲) ډوله ده:- ۱: قصیره صله (کوچنۍ صله). ۲: طویله صله (اوږده صله).

۱:- قصیره صله: کله چي د (هاء) څخه مخکي او وروسته متحرک حرف وي، لکه: (لَّهُ مَا فِي السَّمَٰوَاتَ، مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا) قصیره صله پرې کیږي، د مد اندازه یې یو (الف) ده.

۲:- طویله صله: هغه مد ته ویل کیږي چي تر (هاء) ضمیریه وروسته قطعي همزه راغلي وي، لکه: (مِّنْ عِلْمِهِ اِلَّا بِمَاشَآءَ، قَوْمُهُ أَنِ اضْرِب) د مد اندازه یې دوه نیم (۲.۵) الفه ده.

(۱) یادونه: (هآه) پر دوه (۲) ډوله ده، یوه هغه (هآه) ده، چي د کلمې د اصلي ذات څخه وي، لکه: (وَجْهً) او بله هغه (هآه) ده چي ضمیریه ورته ویل کیږي، او د غآئب مفرد لپاره ضمیر راځي، لکه: (له، علیه).

ketabton.com - The Digital Library



# دوولسمه (۱۲) روښنائي

## د همزې (ء) ادا کول د تجوید په قاعدو کښي

۱:- **قاعده:** د قرآن کريم د څلورويشتمي (۲۴) سپارې د ختميدو سره نږدې، په يوه آيت کي داسي راغلي دي: (ءَاَعْجَمِیٌّ) نو ددې دا دوهمه (همزه) لږ [1] په نرمي سره ووایاست، دې نرم ويلو ته تسهيل [2] ويل کيږي.

۲:- **قاعده:** په سورت الحجرات په دوهمه (۲) رکوع کي راغلي دي: (بِئْسَ الِاسْمُ اْلفُسُوْقُ) نو دا داسي ووایاست: د (بِئْسَ) پر (سين) باندي زور ووایاست او هغه د وروسته هيڅ حرف سره مه جنګوئ، بيا (لام) چي د (سين) وروسته دی، هغه ته زير ورکړی، د ورستني (سين) سره يې وجنګوئ، بيا (ميم) د وروسته (لام) سره وجنګوئ، خلاصه دا چي د (اَلِاسْمُ) مخته او وروسته چي کوم دوې (۲) همزې دي، هغه د (الف) په شکل دي، دغه همزې بلکل مه وایاست.

تشريح: حروف مده ځکه د مد لپاره محل وګرځيده، چي د دوی په ذات کي مديت (کشش) سته، ځکه چي (الف) دوه (۲) زوره (واو) دوه (۲) پيښه او (ياء) دوه (۲) زيره اندازه کشيږي، او دا مديت په بل حرف کي نسته، همزه او سکون ځکه سبب د مد دی، د حروف مده وروسته چي همزه راسي همزه قوي او سخت حرف دی، او حرف علت اضعف الحروف دی، نو د همزې د منځه تللو بيره وه، ځکه نو موږ مد کوو، تر څو په آواز کي قوت راسي او همزه صحيح ادا سي، سکون ځکه سبب د مد دی، چي دلته التقاء ساکنين راغله او د التقاء ساکنين ويل پر ژبه باندي ثقيل ده، ځکه نو موږ مد کوو، چي دغه مد به پر منزله د فاصل سي.

همزه: همزه د هجاء د حروفو څخه يو حرف دی، چي کله د (الف) په بڼه ليکل کيږي او کله د (عين) د سر په څير ليکل کيږي، پر دوه (۲) ډوله ده، چي د لاندي ډولو څخه عبارت ده:

۱:- وصلي همزه: هغه همزه ده چي د کلام په درج کي لمنځه ځي، لکه: همزه د (اهْدِنَا).

۲:- قطعي همزه: هغه همزه ده چي د کلام په درج که د منځه نه ځي، لکه همزه د (أَنْعَمْتَ).

همزه بيا پر دوه (۲) ډوله ده:

۱:- اصلي همزه: هغه همزه ده چي پر (فاء، عين، لام) کلمه باندي راغلي وي، لکه: (اَمْر، سَئَلَ، قَرَءَ).

۲:- زائده همزه: هغه همزه ده چي پر (فاء، عين، لام) کلمه باندي نه وي، لکه: (اَکْرَمَ).

د همزې حکمونه: همزه څو حکمونه لري، چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

ketabton.com - The Digital Library



۱:- حذف: دې ته ویل کیږي، چي همزه له منځه ولاړه سي.

۲:- تسهیل: دې ته ویل کیږي، چي همزه د همزې او د ماقبل د حرکت څخه پیدا کیدونکی حرف تر منځ وي، مثلاً: د زور څخه پیدا کیدونکی حرف (الف) دی، د پیښ څخه پیدا کیدونکی حرف (واو) دی او د زیر څخه پیدا کیدونکی حرف (یاء) ده، لکه: (ءَاَعْجَمِیٌّ).


۳:- ابدال: دې ته ویل کیږي، چي همزه د علت په حرف (حرف مده) بدل سي، لکه: (ءَامَن، اِيمَانًا).

د همزې او (الف) توپیر: (الف) هغه حرف دی، چي تل وړغندی لرونکی وي او بیله ژب بندی ادا کیږي او همزه هغه حرف دی، چي حرکت قبلوي، خو کوم وخت چي ساکن سي، د ادا پر مهال بیله ژب بندی نه ادا کیږي.

حاشیه.......................................................................!

(۱) تشریح: یعني د (الف) او همزې په منځ کي يې ادا کړی، چي نه په پوره شدت او سختي سره وي، چي هغه ته تحقیق ویل کیږي، او نه د (الف) په رقم چي بلکل په نرمي سره ادا سي.

(۲) تشریح: دا تهسیل واجب دی، داسي ځای په ټول قرآن کریم کي دغه یو ځای دی، او شپږ (۶) نوري کلمې دي، (آلْـٰٔنَ) دوه (۲) ځایه په سورت یونس کي دی، (ءَآللّٰهُ) یو ځای په سورت کي یونس کي دی، او یو ځای په سورت نمل کي دی، (ءَآلذَّكَرَيْنِ) دوه (۲) ځایه په سورت انعام کي دی، دا دوهمه همزه پر ځای د (الف) لکه اوس چي (الف) دی، په تهسیل سره بیله مده ادا کول هم جائز دي، په شپږو (۶) کلمو کي تسهیل جائز دی، پاته په ټوله قرآن کریم کي هر ځای همزه په تحقیق سره ویل ضروري ده.



ketabton.com - The Digital Library



# دیارلسمه (۱۳) روښنائي

## وقف یعني پر یوه کلمه باندي دریدل

د تجوید د علم اصل مقصد د مخرجونو او صفتونو بحث دی، مګر ددې علم د تکمیل لپاره علم اوقاف [۱] یعني د وقف علم، علم القرآئت [۲]، علم رسم الخط عثماني [۳] ددې علمونو زده کړي ته هم ضرورت ستته.

۱:- **قاعده:** کوم کس چي په معنا نه پوهیږي، هغه ته په کار ده، چي پر هغه ځایونو وقف وکړي، په کوم ځای کي چي په قرآن کریم د وقف نښان جوړ وي، بیله ضرورته دي، په منځ کي نه دریږي [۴]، البته که چیري یې په منځ کي ساه ختمه سي، نو دا یوه مجبوري ده، که د مجبورۍ څخه دا کار وسي، په کار ده، پر کومه کلمه باندي چي دریدلی وي، د هغې څخه یا د مخکي څخه دي بیا راوګرځي [۵]، او د مابعد سره دي یې یو ځای ووایي، په دې پوهیدل په کار دي، چي ددې کلمې څخه یې ووایم، او که یې د پورته څخه ووایم، بیله دې چي په معنا پوهیږي مشکله ده، تر څو چي په معنا نه پوهیږي د شک او شبهې په ځای کي د یو عالم څخه پوښتنه وکړی.

د داسي مجبورۍ په وخت کي دي یو دا فکر کوي چي د کلمې په منځ کي دي وقف نه کوي، بلکي د کلمې پر اخیر دي ودریږي، دا هم وپیژنئ چي وقف کول پر حرکت باندي غلط دی، لکه اکثره خلګ چي یې کوي، مثلاً: د یو کس ساه د سورت البقره په اول کي د (بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْکَ) پر (کاف) باندي ختمه سي، نو په دغه وخت کي (کاف) ساکن کول په کار دي، په زور سره وقف مه کوئ.

همدارنګه بیله ساه اخیستو وقف نه کیږي، لکه بعضي کسان د آیت پر ختمیدو باندي ساکن حرف خو ووايي، مګر بیله د نوي ساه اخیستو څخه دوهم آیت شروع کړي، دا هم بې قاعده ګي ده، او دا هم په یاد کي وساتئ د داسي مجبورۍ په وخت کي چي پر یوه کلمه باندي وقف وکړی، نو هغه کلمه چي څرنګه لیکل سوې ده، د هغې د رسم الخط موافق وقف وکړی، که څه هم هغه بل رقم ویل کیږي، د ویلو موافق یې مه کوی، مثلاً: (اَنَا) کي چي کوم (الف) د (نون) وروسته دی، هغه په ویلو کي نه راځي، مګر که چیري پر دغه کلمه باندي وقف وکړل سي، نو بیا به دغه (الف) نه وایو. په دې یادونو ښه ځان پوهه کړئ، او په یاد یې کړئ، ځکه چي په دې کي لوی لوی قاریان او حافظان غلطی کوي.

ketabton.com - The Digital Library



يادونه: ددې قاعدې په اخير کي چي ليکل سوي دي، هغه کلمه چي څنګه ليکل سوې ده، د هغې موافق وقف کوی [۶]، د هغې قاعدې څخه دا الفاظ مستثنی دي، (اَوْيَعْفُوَا) د سورت البقره په يو ديريشمي (۳۱) رکوع کي دی، (اَنْ تَبُوّءَا) د سورت المائده په پنځمه (۵) رکوع کي دی، (لِتَتْلُوَا) د سورت الرعد په څلورمي (۴) رکوع کي دی، (لَنْ نَّدْعُوَا) د سورت الکهف په دوهمه (۲) رکوع کي دی، (لِيَبْلُوَا) د سورت المحمد په څلورمه (۴) رکوع کي دی، (ثَمُوْدَا) څلور (۴) ځايه په سورت هود، سورت الفرقان، سورت العنکبوت او په سورت النجم کي دی، او دوهم (قَوَارِيْرَا) د سورت الدهر په اوله رکوع کي دی، په دې ټولو الفاظو کي (الف) په هيڅ حالت کي نه ويل کيږي، نه په وصل کي او نه په وقف کښي.

د (لٰكِنَّا) الفظ خاص په سورت الکهف کي دی، همدارنګه (اَلظُّنُوْنَا، اَلرَّسُوْلَا، اَلسَّبِيْلَا) دا درې (۳) سره کلمي په سورت الدهر کي دي، د (اَنَا) لفظ چي هر ځای په قرآن کريم کي راسي، په دې ټولو لفظو کي د وصل په حال کي (الف) نه ويل کيږي، مګر د وقف په حالت کي (الف) ويل کيږي، خو خاص لفظ (سَلَاسِلًا) د وقف په حالت کي بيله (الفه) ويل هم پروا نه کوي، يعني (سَلَاسِلْ).

۲:- **قاعده:** پر کومه کلمه چي وقف کوی، که چيري هغه ساکنه وي، نو په هغې کي د ښوولو څه خبره نسته [۷]، او که چيري هغه کلمه متحرکه وي، نو پر هغې باندي د وقف کولو درې (۳) طريقې دي:- ۱: حرف به [۸] ساکن کړل سي. ۲: پر حرف باندي چي کوم حرکت دی، هغه ډير لږ ښکاره کول، چي دې لږ ښکاره کولو ته روم ويل کيږي، ددې روم اندازه د حرکت دريمه (۳) حصه ده، دغه روم په زور کي نه وي، صرف په زير او پيښ کي وي، لکه: (بِسْمِ اللهِ) د ختميدو په وخت کي پر اخيري (ميم) باندي لږ زير ويل چي دا زير ډير نږدې کسان اوريدلای سي، يا د (نَسْتَعِيْنُ) پر (نون) باندي لږ پيښ ويل، او د (رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ) پر (نون) باندي ځکه چي زور دی، نو له دې سببه په دلته داسي روم نه وي. ۳: هغه حرکت ته به په شونډو سره اشاره وکړل سي، يعني حرکت به بلکل نه وايو، بلکي د هغه حرکت د ښکاره ويلو په وخت کي چي شونډان څرنګه جوړيږي، هغه رقم بايد شونډان جوړ سي، هغه حرف دي بلکل ساکن [۹] وويل سي، دې ته اشمام ويل کيږي، دا د نږدې څخه هم څوک نه سي اوريدلای، ځکه چي په دې کي حرکت په ژبه سره ادا سوی نه دی، البته په سترګو ليدونکی کس که د تلاوت کوونکي شونډي ويني، نو پوهيدلای سي، چي ده اشمام وکړی، اشمام صرف په پيښ کي وي، په زور او زير کي نه وي، لکه: د (نَسْتَعِيْنُ) پر (نون) باندي چي پيښ دی، دا پيښ خو بلکل بايد ونه ويل سي، (نون) بلکل ساکن وويل سي، مګر شونډي

ketabton.com - The Digital Library



د (نون) د ادا كولو پر وخت داسي جوړ كړل سي، لكه د پېښ د ويلو په وخت كي چي سره راټوليږي، يعني شونډان د مشوكي په رقم جوړ كړل سي.

۳:- **قاعده:** د كومي كلمې په اخير كي چي تنوين وي، هلته هم روم جائز دی، مگر د حركت ښكاره كولو په وخت كي دي د تنوين يوه حصه [۱۰] نه ښكاره كوي.

۴:- **قاعده:** هغه (تاء) چي د (هاء) په شكل گردی [۱۱] ليكل كيږي، مگر پر دې باندي دوه (۲) ټكي هم وي، كه چيري پر داسي (ة) باندي وقف وي، نو هلته دوه (۲) شيان په فكر كي ونيسی، اول دا چي هغه (تاء) د (ه) په رقم ووایاست، دوهم دا چي هلته روم او اشمام مه كوئ.

۵:- **قاعده:** روم او اشمام پر عارضي حركت باندي نه كيږي، لكه پر (وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ) باندي چي يو كس د (وَلَقَدْ) پر (دال) باندي وقف وكړي [۱۲]، نو (دال) ساكن ويل په كار دي، ددې پر زير باندي دي روم نه كيږي، ځكه چي دا حركت عارضي دی، او په دې باندي عربي پوه كس پوهيږي، چي دا حركت اصلی دی كه عارضي دی.

۶:- **قاعده:** پر كومه كلمه باندي چي وقف وسي، كه چيري د هغې كلمې پر اخيري حرف باندي تشديد [۱۳] وي، نو په روم او اشمام كي به تشديد خپل پر خال باندي پاته وي.

۷:- **قاعده:** پر كومه كلمه باندي چي وقف وكړل سي، كه چيري د هغې پر اخيري حرف باندي د زور تنوين وي، نو د وقف په حالت كي به هغه تنوين په (الف) سره [۱۴] بدليږي، لكه يو څوک چي پر (فَاِنَّ كُنَّ نِسَاءً) باندي وقف وكړي، نو داسي به يې وايي: (نِسَاءْ).

۸:- **قاعده:** د كوم مد وقفي بيان چي د يوولسمي (۱۱) روښنائي په شپږمه (۶) قاعده كي سوی دی، كه چيري په روم سره وقف وكړل سي، نو هغه وخت به مد نه وي، مثلاً: (اَلرَّحِيْمِ) يا (نَسْتَعِيْنُ) كښي كه چيري د پېښ يا زير څه حصه ښكاره كړل سي، نو بيا به مد نه [۱۵] كوئ.

حاشيه..........................................................................!

(۱) تشريح: وقف په لغت كي دريدلو ته ويل كيږي، او په اصطلاح كي د كلمه غير موصول پر اخير باندي د ساه اخيستلو په وجه سره دريدل. ۱: وقف به د كلمې پر اخير باندي وي، د كلمې په منځ كي وقف كول صحيح نه دی، مثلاً: (قَالُوْ) باندي وقف كول صحيح دی، مگر پر (قَا) باندي وقف صحيح نه دی. ۲: دا چي قرآن كريم په بعضي ځايو كي څه لفظونه يو ځای ليكلي وي، كه څه هم د عربي ژبي په اعتبار سره جلا جلا لفظونه دي، مگر د يو ځای

ketabton.com - The Digital Library



ليکل کيدو په وجه د يوه لفظ په حکم کي دي، مثلاً: (اَيْنَمَا) که څه هم د عربي په اعتبار سره دوه (۲) لفظونه دي، يو (اَيْنَ) او بل (مَا) مګر د يو ځای ليکل کيدو په وجه سره د (اَيْنَمَا) پر (الف) باندي خو وقف صحيح دی، مګر د (اَيْنَ) پر (نون) باندي وقف صحيح نه دی، داسي کلمو ته موصول کلمي ويل کيږي.

د اوقافو علم پر دوه (۲) ډوله دی:- ۱: وقف د معنا په اعتبار سره پر کوم ځای وکړل سي؟ ۲: وقف څنګه وکړل سي؟ ددې جوابونه مخته راځي.

(۲) تشريح: د تجويد علم او د قرائت علم د دواړو موضوع قرآني الفاظ دي، فرق يې دا دی، چي په تجويد کي د حروفو، مخرجونو، صفتونو او د هغو د متفق عليها څخه بحث کيږي، مګر په قرائت کي د مختلفو احوالو فيها څخه، مثلاً: حذف، اثبات، تحريک او تسکين، مد او قصر، فتح او اماله، تحقيق او تخفيف او داسي نور...

(۳) تشريح: د حضرت عثمان (رضي الله عنه) په زمانه کي د قرآن کريم د تحرير او الفاظو چي کوم شکل اختيار کړل سو، حضرت عثمان (رضي الله عنه) د قرآن کريم د ليکلو بندوبست وکړی، ځای پر ځای يې وليږی، او پر همدغه تحرير باندي د ټولو صحابه کرامو (رضي الله عنهم آجمعين) اجماع وسوه، د دغه تحرير علم، د هغه قواعدو او ضوابطو ته علم رسم الخط ويل کيږي، قرآن کريم د دغه خاص رسم الخط خلاف ليکل جائز نه دي، د ټولو اُمت د عالمانو پر دې باندي اجماع ده، دا وسع او فراخ علم دی، چي و دې ته علم رسم الخط ويل کيږي.

(۴) تشريح: يعني د دغو نښو په منځ کي دي نه دريږي، ددې نښو مطلب: يا خو دي پر ګول ( ۃ ) آيت باندي ودريږي، چي و دې ته وقف منزل هم ويل کيږي، او د آيت په منځ کي چي کوم (م، ط، ج، يا، ز) وي، دا ټول د وقف نښي دي، ددې نښو څخه ماسيوا که چيري ودريږی، نو بيا د ده د ماقبله يعني شا څخه راوګرځوی.

(۵) تشريح: د کوم ځايه څخه چي جمله پوره کيږي، يا بله جمله شروع کيږي، د هغه ځايه څخه دي بيرته راوګرځي، البته د قاري لپاره کم از کم عربي کتابونه او د قرآن کريم ترجمه ډيره ضروري ده.

(۶) تشريح: له دې سببه ويل سوي دي، چي وقف د رسم الخط تابع دئ، مثلاً: ګول (ة) کوم چي د (هاء) په رقم وي، دا په وقف کي په (ه) سره بدليږي، د دوو (۲) زورو تنوين به د (الف) په رقم ليکل سوی وي، له دې سببه دا په وقف کي په (الف) سره بدليږي، برعکس زير او پيښ چي هلته چونکي د هيڅ حرف په شکل نه دي ليکل سوي، لهذا په وقف کي حذف يعني د منځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library



د (كَأَيِّنْ) په لفظ کي (نون) ويل کيږي، حالانکي دغه (نون) تنوين دی، يعني اصل يې داسي دی، (كَأَيٍّ) دلته څرنګه چي تنوين مرسوم دی، ځکه نو ويل کيږي، په (بِهِ، لَهُ) او داسي نورو کي د (هاء) په ساکنولو سره کيږي، د ولاړ زير يا ولاړ پيښ څخه پيدا کيدونکی حرف مد په وقف کي نه ويل کيږي، ځکه چي دا حروف ليکلي نه دي، دا اصول دي چي وقف د رسم الخط تابع دی.

(۷) تشرح: يعني دا ساکن به په وقف کي هم ساکن ويل کيږي، البته د وقف کولو اثر به دا وي چي ساه به اخيستل کيږي، مثلاً: (فَارْغَبْ، وَانْحَرْ، فَحَدِّثْ، مِنْهُمْ، لَهُمْ) او داسي نور... مثالونه.

(۸) تشريح: په وقف کي اصل او عامه طريقه دا ده: لکه څرنګه چي ابتداء بالسکون نه کيږي، همدارنګه پر حرکت باندي وقف نه کيږي، لکه پورته چي معلوم سوه، چي پر حرکت کامله باندي وقف صحيح نه دی، د وقف بالسکون په هکله د بعضو علماؤو رايه دا ده: دغه وقف واجب شرعي دی، چي پر فعل باندي ثواب او پر ترک باندي عتاب وي، او بعضي علماؤو ويل دي: نه دا يو فني او اصطلاحي خبره ده، د قاري لپاره ددې پريښوول او پر حرکت کامله باندي وقف کول ډير قبيحه طريقه ده.

(۹) تشريح: يعني په موقوف عليه (د کلمې هغه اخري حرف پر کوم چي وقف وسي) ساکن وويل سي او د هغه څخه فوراً وروسته په انضمام شفتين سره د هغې ضمي وطرف ته اشاره وسي.

(۱۰) تشريح: يعني په هغه آهسته آواز کي به يو پيښ يا يو زير ويل کيږي، مثلاً: (اَحَدٌ، بَصِيْرٍ).

(۱۱) تشريح: هغه ګول (تاء) چي د (هاء) په شکل ليکل سوې وي، هغې ته (تاء) مُدوره ويل کيږي، او کوم چي آوږده ليکل سوې وي، هغې (تاء) ته (تاء) مجروره يا طويله (تاء) ويل کيږي، د (تاء) مجروره مثالونه: (اَلْجَنَّةُ، اَلْقِبْلَةُ، اَلْبَرِيَّةُ) او داسي نور...

د (تاء) مطوله مثالونه: (نِعْمَتَ اللهِ، رَحْمَتِ الله، اِمْرَاَتُ) او داسي نور... پر دې دوهم (۲) ډول (تاء) باندي وقف په (تاء) سره کيږي، روم او اشمام هم باندي کيدای سي، او پر (تاء) مدوره باندي وقف په (هاء) ساکنه بدلولو سره کيږي.

(۱۲) تشريح: همدارنګه د (اَنْتُمُ ٱلاَعْلَوْنَ) پر (ميم) باندي روم يا اشمام نه سي کيدای، ځکه چي په اصل کي (ميم) ساکن دی، او ضمه پر (ميم) باندي عارضي ده، صرف وقف باالاسکان به وي، ځکه چي د (ميم) ضمه د التقاء ساکنين له سببه ده.

ketabton.com - The Digital Library



(۱۳) تشریح: په هغه مشدد حرف کي چي غُنه نه وي، (د نون او میم څخه ماسیوا) په هغه کښي د تشدید ادا کیدل په ژر سره وي، مثلاً: (وَتَبَّ، بِاالْحَقِّ، اَلْمَفَرُّ، فَظَلَّ، صَوَآفَّ) او داسي نور... پر دې باندي موقوف علیه مشدد باندي د وقف په حالت کي دومره وخت تیرول په کار دي، لکه د وصل په حالت کي او پر کوم حرف مشدد باندي چي غُنه وي، نو د غُني په وجه سره په هغه کي څه تراخي او مهلت په کار دی، لکه: (مِنۢ بَعْدِالْغَمِّ، وَلَاجَآنٌّ) او داسي نور... همدارنګه (واو) مشدد او (یاء) مشدد چي موقوف علیه وي، نو په وقف کي خیال ساتل په کار دي، چي مشدد ادا سي، او مده نه سي، مثلاً: (عَدُوٌّ، مِنْ نَّبِيٍّ).

(۱۴) تشریح: د دوو (۲) زورو په تنوین کي همیشه دا قاعده ده په شرط ددې چي هغه دوه (۲) زوره به پر (تاء) مدوره باندي نه وي، ځکه که پر (تاء) مدروه باندي وي، بیا هغه (تاء) د وقف په حالت کي په (هاء) سره بدلیږي، مثلاً: (اَفْوَاجًا، جُزْءًا، سَوَاءًا) او داسي نور... او (تاء) مدوره ځیني استثناء سوه، لکه: (حَسَنَةً، رَحْمَةً، مَوْعِظَةً) او داسي نور... مثالونه یې.

(۱۵) تشریح: یعني د مد عارض وقفي په اصولو سره په دې کي اوس طول یا توسط کول صحیح نه دی، بلکي په مثل د وصل به صرف قصر کوو، ځکه که چیري د مد سبب سکون وي، او د روم په وجهي سره هغه سکون پاته نه سو، لهذا مد به نه کیږي، خلاصه دا چي وقف بالروم په حرکت کي داخل دی، او اشمام په سکون کي داخل دی.

خلاصه: علم اوقاف جلا علم دی، کوم چي د قرآن کریم سره ډیر تعلق لري، ځکه چي قرآن کریم په انداز کي د خطاب نازل سوی دی، او د هري ژبي لپاره دا اصول دي چي کله پر یو خبره ودریږي، نو شروع به د ماقبل څخه کوي، دا هلته چي د مابعد د ماقبل سره تعلق نه وي، کله بیا داسي وي، چي د ماقبل پر کلمه باندي یې وقف کړی وي، بیا راوګرځوي، دا هلته چي د ما بعد د ماقبل سره تعلق وي، او کله کله بیا داسي وي، چي پر یوه کلمه باندي وقف کول ډیر قبیح وي، مثلاً: که یو سړی دلته وقف وکړي، چي (راځه... مه دریږه) معنا یې مثبته ده، چي راسه او که بیا پر دې ځای وقف وکړی، چي (راځه مه - ودریږه) ددې معنا منفي ده، نو قرآن کریم څرنګه چي افصح الکلام دی، ددې وقف او ابتداء خیال په کښي ساتل ډیر ضروري دی، او لکه څرنګه چي د وقف خیال ساتل په کار دي، همدارنګه د ابتداء خیال ساتل هم په کار دي، ځکه لکه څرنګه چي اقسام د وقف دي، لکه: (حسَن، احسَن، صحیح، تام، کافي، قبیح، اقبَح) دغه اقسام د ابتداء هم دي، چي کله حسن کله احسن کله قبیح او داسي نور... وي، ددې علم د زده کولو لپاره مستقل کتابونه دي.

ketabton.com - The Digital Library



## قرآن کریم اووه (۷) وقف منزل دی

د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دا عادت شریف وو، چي ده مبارک به په یوه پوره هفته (اوونۍ) کي د قرآن کریم ختم کوی، چي علماء کرامو د هغو مجموعه (فَمِیْ بِشَوْقٍ) نومولې ده، د (فاء) معنا ده: سورت الفاتحه. د (میم) معنا ده: سورت المائده. د (یاء) معنا ده: سورت یونس. د (باء) معنا ده: سورت بني اسرائیل. د (شین) معنا ده: سورت الشعراء. د (واو) معنا ده: سورت والصافات. د (قاف) معنا ده: سورت ق. دې مجموعې ته منازل سبعه (اووه) ویل کیږي، او سنت طریقه همدا ده چي په یوه اوونۍ کي قرآن کریم ختم سي، مګر که چا قرآن کریم د حفظ کولو لپاره وایه، او مطلب یې د قرآن کریم پخول وه، بیا نو کوم مشکل نسته.

### وقف النّبي (صلی الله علیه وسلم) یا وقف جبرائیل (علیه السلام)

د قرآن کریم پر بیاض باندي کله نا کله دغه لیکل سوي وي، د کومو کسانو چي علم الوقاف زده نه وي، نو هغوی حیران پاته وي. ډېرو علماؤو دا درې (۳) سره وقفونه یو بللي دي، لکه: وقف النبي، وقف جبرائیل او وقف منزل، دا هم معلومه خبره ده، کله چي به جبرائیل (علیه السلام) وحي راوړې، نو پر کوم ځای چي به حضرت جبرائیل (علیه السلام) ودریدی، پر هم هغه ځای به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ودریدی، همدارنګه په راتلونکي کي چي به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تلاوت کوی، نو به یې هلته وقف کوی.

د وقف النّبي (صلی الله علیه وسلم) تعداد: د علم الوقاف علماؤو د وقف النّبي مختلف شمیر ذکر کړي دي، علامه سخاوي (رحمة الله علیه) لس (۱۰) ځایه وقف النّبي لیکلی دی، کشف الظنون اووه (۷) نقل کړی دی، تفهیم الوقف وقف النّبي او وقف منزل چي بل نوم یې وقف جبرائیل دی، جلا جلا ذکر کړي دي، هغه وایي: وقف النّبي څوارلس (۱۴) ځایه دی، او وقف جبرائیل (وقف منزل) دوولس (۱۲) ځایه دی، چي دواړه سره یو ځای کړې، ټوټل بنیږویشت (۲۶) کیږي.

خلاصه: وقف جبرائیل معنا هغه ځای چي حضرت جبرائیل (علیه السلام) وقف کړی وي، وقف النّبي معنا چي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وقف کړی وي، یعني دریدلی وي، او وقف منزل معنا د تلاوت کولو پر وخت کي نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وقف کړی دی، یعني دلته دریدلی دی.

### وقف غُفران

د وقف غفران معنا ده، د بخښني وقف، دا د وقف تام یو ډول دی، نو اوریدونکي او تلاوت کوونکي ته په کار ده چي دلته ودریږي، دُعا وغواړي، د الله سبحانه وتعالی د عذاب او وعید څخه پناه وغواړي، ځکه چي وقف غُفران یا د کفارو پر مقولو باندي وي، یا د دوږخیانو پر الفاظو او یا هم د کفارو او مؤمنانو د تقابل پر ځای باندي وي، نو ښه کار دا دی، چي پر داسي ځایونو باندي وقف وکړی، او د الله سبحانه وتعالی له عذابه څخه د بخښني سوال وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library



## د رموز په اعتبار وقف (م، ط، ز، ج، ص)

علم الاوقاف ځان ته يو مستقل علم دی، ددې علم ضرورت په هره ژبه کي سته، مګر څرنګه چي قرآن کريم د خبرو په انداز نازل سوی دی، نو دلته هم ددې رموزو پاملرني ته ډېر ضرورت سته.

**وقف لازم (م):** دا (ميم) د وقف لازم نښاني ده، ددې معنا دا ده چي دلته وقف کول لازمي دئ، او که چيري وقف ونه کړی، نو سامع (اوريدونکي) ته به يوه بله معنا په ذهن کي ورسي، د وقف لازم مثالونه: (اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۘ اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمْ، اِنَّمَا الْبَيْعُ مِثْلُ الرِّبٰوا م وَاَحَلَّ اللّٰهُ) او داسي نور...

د وقف لازم تعداد: په قرآن کريم کي د وقف لازم تعداد په اړه د علماؤو نظريات مختلف دي، بعضو دوو اتيا (۸۲) ښوولی دی، بعضو اته اتيا (۸۸) او بعضو يوسلو څلرويشت (۱۲۴) ښوولی دی.

**وقف مطلق (ط):** (طاء) د وقف مطلق علامه ده، دغه علامه په قرآن کريم کي درې زره پنځه سوه او لس (۳۵۱۰) ځايه راغلې ده، د وقف مطلق دغه علامه پر هغه ځای باندي استعمالېږي، پر کوم ځای باندي چي کلام خو پوره وي، مګر که دلته د وقف پر ځای وصل وسي، نو د الهي معنا مراد خلاف به څه شی په وهم کي را نه سي، مګر بيا هم دلته وقف کول ښه وي، او له مابعد څخه کول صحيح وي، لکه د سورت البقره پر (وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ط) باندي وقف او د (وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ) څخه ابتداء يعني شروع کول.

**وقف جائز (ج):** دغه (جيم) د وقف جائز علامه ده، په قرآن کريم کي دغه علامه يو زرو پنځه سوه اته اويا (۱۵۷۸) ځايه باندي راغلې ده، وقف جائز پر داسي ځايونو باندي وي، چي هلته د وقف او وصل دواړو دلائل موجود وي، نو له همدې امله د (جيم) پر مقام باندي وقف کول او نه کول دواړه سره برابر دي.

پاملرنه: (م، ط، ج) دا د وقف د علاماتو څخه قوي علامې دي، پر دوی باندي د وقف کولو وروسته له مابعد څخه پيل کول صحيح وي د اعادې ضرورت نه وي.

**وقف مجوز (ز):** (زاء) د وقف مجوز علامه ده، دغه علامه په قرآن کريم کي تقريباً يوسلو يو نوي (۱۹۱) ځايه راغلې ده، دغه علامه پر هغو ځايو باندي ليکل سوې وي، پر کوم ځای چي د وصل پرته د وقف کولو دلائل هم موجود وي، مګر د وصل دلائل زيات قوي وي، لکه پر (غِشَاوَة) باندي وقف.

ketabton.com - The Digital Library



**وقف مُرَخص (ص)**: (صاد) د وقف مرخص علامه ده، دغه علامه په قرآن کريم کي درو اتيا (۸۳) ځایه راغلې ده، پر (صاد) باندي د وقف کولو اجازه د مجبورئ په وخت کي سته، برخلاف د (زاء) چي هلته وصل تر وقف ډير ښه وي، دغه علامه هلته وي، په کومو دوو (۲) جملو کي چي تعلق خو وي، مګر د مقصد اظهار لپاره دواړه جملې د يوې او بلي محتاجه نه وي، لکه پر (وَالسَّمَآءَ بنآءً ص) باندي وقف.

پاملرنه: دا ټولي علامې (م، ط، ج، ز، ص) د متقدمينو په نزد دي، او د وروستيو علماؤو کرامو څه نوري علامې هم مقرري کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library



## د مُتأخرینو په نزد د وقف علامې

**(ق) قِيل عَليهِ الوَقف:** (قاف) د (قيل عليه الوقف) مخفف دی، مطلب دا چي دلته هم د بعضو علماء کرامو په نزد وقف په نزد د وقف کيدلای سي، مگر دغه علامه ضعيفه ده، ځکه نو دلته وقف نه کول ښه کار دی، په (قِيْل) سره يې ځکه راوړه چي اشاره ده وضعف ته، مگر که وقف وسي بيا د ماقبل څخه د اعادي ضرورت نسته.

**(ک) کذٰلِک:** (کاف) د (کذٰلِکَ) مخفف دی، مطلب دا چي پر دې ځای باندي هم هغه حکم دی، کوم چي په تير سوي مقام کي وي، نو (کاف) د وقف د علامې څخه وروسته هم راځي، او د وصل د علامې څخه وروسته هم راځي، نو د کومي علامې څخه وروسته چي راسي، د هغې حکم لري.

**(قِفْ) قَد يُوقَّف عليه:** دغه قِف مخفف دی، د (قَد يُوقف عليه) دی، ددې حکم دا دی، دلته هم د مجبورئ په حالت کي وقف کيږي، او د وقف په صورت کي د ماقبل څخه د راگرځولو ضرورت نه وي، مگر بيله مجبوري دلته وقف کول ښه کار نه دی، او دا هم په ياد ولرئ، چي دا د اَمر صيغه نه ده، لکه څرنگه چي مشهوره ده.

**صَلْ قَدْ يُوصَل:** دا صل د (قَدْ يُوْصَل) مخفف دی، دغه (قَفْ) هم د امر صيغه نه ده، دلته د وقف کولو پر ځای وصل کول ډير قوي او ښه کار دی، مگر دا خبره په ياد ولرئ، (قَفْ، صَلْ) دا دواړي علامې ضعيفي علامې دي.

**(صلےٰ) الوصل اولیٰ:** دا (صلےٰ) د (الوصل اولےٰ) علامه ده، پر داسي ځای باندي وصل کول ښه کار دی، او که وقف وسي، نو هم څه مشکل نسته، مگر بيا له ماقبل څخه اعاده ضروري ده.

**قِلا قيل لاوقف عَليه:** دغه (قِيْلَ عليه الوقف) مخفف دی، دلته هم د اوقاف د علماؤو په نزد وقف دی، او د علم الوقاف د بعضي علماؤو په نزد وصل دی، نو گواکي دغه وقف مختلف فيه دی، نو له دې سببه ښه کار دا دی، چي دلته وصل وکړل سي، او کوم علماء کرام چي دلته وقف شميري د هغوی د قول مطابق که دلته وقف وکړل سي، نو له ماقبل څخه د اعادي ضرورت نسته.

**لَا لَاوَقْفَ عَلَيْهِ يا لاتَقِفْ:** لَا د (لَاوَقْفَ عليه يا لاتقف) مخفف دی، يعني پر دې باندي وقف خو صحيح دی، مگر د مابعد څخه ابتداء کول صحيح نه دي، بلکي د ماقبل څخه اعاده ضروري ده، دغه علامه د وقف لازم مقابل ده، يعني لکه څرنگه چي پر وقف لازم باندي د نه دريدو څخه معنا مرادي ته تغير رسيږي، نو همدارنگه دلته د دريدو څخه معنا مرادي ته تغير رسيږي.

ketabton.com - The Digital Library



## د مُعَانقې علمي څېړنه

معانقه د (عَانَقَ يُعَانِقُ مُعَانَقَةً) څخه اخيستل سوې ده، معنا يې ده، غاړي په غاړي، لکه څرنګه چي د روغبړ کولو يوه طريقه همداسي ده، په اصطلاح کي معانقه و داسي کلمې ته ويل کيږي، چي د هغې تعلق د ماقبل (مخته حرف) او د مابعد (وروسته حرف) يعني دواړو سره يو رقم وي، او د هر يوه سره يو ځای وويل سي، نو معنا يې صحيح وي.

د مثال په توګه: (ذَالِكَ الْكِتٰبُ لَارَيْبَ ∴ فِيْهِ ∴ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ) نو اوس دلته معانقه ليکل سوې ده، ددې تعلق د ماقبل او مابعد دواړو سره دی، که چيري موږ پر (لَآرَيْبَ) باندي ودريږو، نو معنا دا سوه: دا کتاب چي دی په دې کي شک نسته... او په دې کتاب کي د پرهيز ګارانو لپاره هدايت دی. او که چيري پر (فِيْهِ) باندي ودريږو، نو معنا يې داسي سوه: په دې کتاب کي شک نسته، دغه ټول کتاب هدايت دی پرهيزګارانو لره.

معانقه په قرآن کريم کي څو ځايه ده او نښاني يې څه رقم ده؟: امام ابوالفضل رازي (رحمة الله عليه) فرمايي: په قرآن کريم کي معانقه پنځه ديرش (۳۵) ځايه ده، چي په بعضي ځايو کي (مَعَ) مخفف حرف وي، يعني معانقه، او په بعضي نورو ځايو کي بيا داسي درې (۳) ټکي ( ∴ ) وي، مګر قاعده دا ده: په معانقه کي به نه پر دواړو ځايو باندي وقف کوې او نه هم پر دواړو ځايو باندي وصل کوې، که پر اول ځای باندي وقف وکړې، نو پر دوهم ځای به وصل کوې، او همدارنګه برعکس.

ketabton.com - The Digital Library



# تفصيلي تشريح

وقف: په لغت کي بندوالي ته ويل کيږي، او په اصطلاح کي د کلمې وروستی حرف ساکن کول دي، چي د ساه او ږغ پريکړه ورسره کيږي.

د وقف او وصل تر منځ حالت ته سکته ويل کيږي. د ږغ او اعراب پريکړي ته بيله پريکړي د ساه سکته ويل کيږي.

د وقف په وخت کي ساه او ږغ دواړه پرې کيږي، نوي ساه اخستل کيږي، مگر د وصل په وخت کي ساه او ږغ نه پرې کيږي او نه ساه تازه کيږي.

## د وقف په حالتونو کي بدلون

د وقف په حالتونو کي بدلون پر څلور (۴) ډوله دی:-

۱:ـ وقف په اسکان سره: وقف په اسکان سره د کلمې د ساکنولو څخه عبارت دی، چي حرکت ولري لکه (ک) په (فسبح بحمدربک) کي چي (ک) زور لري په حالت د وقف کي (فسبح بحمدربکْ) ويل کيږي، يعني په وړغندي سره ويل کيږي.

۲:ـ وقف په ابدال سره: د حرف د بدلولو څخه عبارت دی، لکه د تانيث (تاء) بدلول په (ها) باندي لکه: (صَلواة) چي د وقف په حالت کي (صلوهْ) تلفظ کيږي. او يا د دوو (۲) زورو بدلول په (الف) سره لکه: (رَحِيمًا، شُكُورًا) چي د وقف په حالت کي (رَحِيْمَا او شَكُوْرَا) ويل کيږي.

۳:- له اشمام سره وقف: اشمام د تجويد په علم کی عبارت دی د حروفو د ساکن کولو څخه د وقف په حالت کي سره د شونډو د اشارې د پيښ و لوري ته لکه په آخيرني (ن) د (نَسْتَعِينُ) کي چي د وقف په وخت کي شونډي پرې راټوليږي او د ضمي لوري ته بيله ږغه څخه اشاره کيږي.

۴:- روم: د حرکت د دريمي (۳) برخي د تلفظ کولو څخه عبارت دی، يعني دا چي د وقف په وخت کي د حرکت دوه (۲) ثلثه ساقط کړي او يو ثلث تلفظ کړي.

يادونه: اصل په وقفونو کي اسکان دی، پاته دي نه وي چي روم او اشمام په اصلي حرکت کي ترسره کيږي نه په عارضي حرکاتو کي، او همدا ډول پر گردیَ (ة) باندي هم روم او اشمام نه کيږي، يعني پر عارضي حرکاتو او گردیَ (ة) باندي اشمام او روم ناجائز دی.

ketabton.com - The Digital Library



## د وقف علامې

د وقف ځایونو ته پاملرنه د تجوید د علم د مهمو برخو څخه شمیرل کیږي، د وقف علامې په لاندي ډول دي:

۱:- **(م)**: د لازم وقف علامه ده د وقف نه کولو په صورت کي په معنا کي نیمګړتیا پیدا کیږي.

۲:- **(ط)**: د مطلق وقف علامه ده یعني وقف کول احسن دی، ډیره ښه دی له دې ځایه څخه باید تیر سو.

۳:- **(ج)**: د جائز (کافي) وقف علامه ده په دې ځای کي وقف او وصل دواړه روا دي، مګر وقف ښه دی.

۴:- **(ز)**: د مجوز وقف (حسن وقف) علامه ده چي وقف او وصل یې دواړه جائز دي، مګر په وصل سره ویل یې ښه دي.

۵:- **(ص)**: د مرخص وقف علامه ده په ځینو ځایونو کي چي آیات شریف اوږد وي او نفس (ساه) د لوستلو د دوام توان ونه لري، کولای سی چي پر دې کلمه باندي وقف وکړی، بیله دي څخه چي لوستل سوې کلمه بیا تکرار سي.

۶:- **(لا)**: د قبیح وقف علامه ده ځکه پر دې ځای باندي په وقف کولو سره معنا توپیر کوي، نو په کار ده چي وقف ونه سي. که چیري د نفس د نه رسیدو له امله وقف وسو، نو لازمه ده چي وقف سوې کلمه له سره شروع کړی، مګر د آیت په آخیر کي دا حکم نه دی.

۷:- **(مع، معًا)**: د معانقه وقف علامه ده چي په حاشیه کي (مع، یا معًا) لیکل سوې وي. معانقه په لغت کي د غاړي کیدلو او یو د بل سره غیږ په غیږ کیدلو ته ویل کیږي. مګر په تجوید کي کله چي دوه (۲) وقفونه څنګ پر څنګ راغلي وي هغه ته معانقه وقف ویل کیږي.

حکم یې دا دی: که چیري په اوله کلمه کي وقف وکړو دوهمه کلمه باید په وصل سره ولوستل سي، د مثال په ډول: (لَارَيْبَ ۛ فِيْهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ) پر هر ځای چي تلاوت کوونکی ودریږي پر هغه بل ځای به نه دریږي، نه به پر دواړو ځایونو وقف کوي او نه به پر دواړو ځایو باندي وصل کوي.

۸:- **(ک)**: د کذالک په معنا دی، یعنی د مخکي آیت د حکم په شان دی.

۹:- **(ق)**: د (قَدْ قِيلَ یا قِيلَ عَلَيْهِ اَلْوُقُفْ) علامه ده د ځینو علماؤ په آند دلته وقف کول جائز دي، مګر وقف نه کول ښه دي.

۱۰:- **(قِلاَ)**: یعني وقفه مه کوئ.

ketabton.com - The Digital Library



۱۱:- **(قِف)**: يعني وقف وکړه.

۱۲:- **(صلي)**: يعني وصل وکړه وصل تر وقف غوره دی.

۱۳:- **(وقفه)**: د اوږدې سکتې علامه ده او د قرائت د علم په اصطلاح کي سکته او وقفه سره قريب المعنی (په معنا کي نژدې دي) مګر په اصطلاح کي سکته وصل ته او وقفه وقف ته نژدې وه.

۱۴:- **(س)**: د سکتې علامه ده چي ږغ يې د ساه څخه پريکوي.

۱۵:- **(○)**: دائره د مطلق آيت علامه ده چيري چي فقط دغه علامه وي وقف دي وکړل سي، که چيري پر سر يې (لام) وي، بيا وصل هم جائز دی.

۱۶:- **(ۃ)**: د کوفي آيت علامه ده او حکم يې د دايروي آيت د حکم په څير دی.

۱۷:- **(صل)**: يعنی وصل وکړه.

## وقف په حرکت او وصل په سکون کي

يو له هغو حالتونو څخه چي د وقف او وصل په وخت کي د پاملرني وړ دی، هغه وقف په حرکت او وصل په سکون دی، چي د تجويد د علماؤو په آند دا دوه (۲) ډوله حالته جائز نه دي.

۱:- وقف په حرکت کي: هغه وقف ته ويل کيږي، چي د وقف په وخت کي بيله دې چي د کلمې آخير حرکت له منځه ولاړ سي ساه او ږغ پرې سي او د ساه د تازه کولو څخه وروسته وروستی کلمه وويل سي، لکه: (مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ) بيله دې څخه چي (نون) ساکن سي د ساه د تازه کولو څخه وروسته د (إِيَّاكَ نَعۡبُدُ) مبارک آيت ووايي.

۲:- وصل په سکون کي: هغه وصل ته ويل کيږي، چي د وصل په وخت کي د کلمې حرکت ساقط کړي او بيله دې چي ساه تازه کړي، دستي وروستۍ کلمه ووايي، لکه: (مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ) چي (نون) ساکن کړي او بيله دې چي ساه تازه کړي د (إِيَّاكَ نَعۡبُدُ) آيت ورسره وصل کړي.

## وصل

وصل: وصل د دوو (۲) کلمو ربط يعني يو ځای کولو ته ويل کيږي، او د وقف ضد دی.

ketabton.com - The Digital Library



## د وقف ډولونه

وقف پر پنځه (۵) ډوله دی:- ۱: تام وقف. ۲: حسن وقف. ۳: کافي وقف. ۴: قبیح وقف. ۵: اضطراري وقف.

**۱:- تام وقف:** وهغه وقف ته ویل کیږي، چي کلام لفظاً او معناً د دغه وقف په ځای سره پوره کیږي، د مابعد سره تعلق نه لري، لکه: (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ).

**۲:- حسن وقف:** وهغه وقف ته ویل کیږي چي کلام د معنا له پلوه پوره مګر د لفظ په لحاظ د مابعد سره تړاو ولري پر هغه باندي وقف کول ښه دي، مګر احسن (ډیر ښه) وصل له مابعد سره دی، لکه: (الْحَمْدُ لِلَّهِ) چي وقف د (لِلهِ) په کلمه باندی حسن دی، مګر وصل د (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَٰلَمِينَ) سره احسن دی.

**۳:- کافي وقف:** وهغه وقف ته ویل کیږي، چي کلام د لفظ له پلوه پوره وي او د معنا په لحاظ د مابعد سره اړه ولري، چي وقف پر هغه کافي او ښه دی لکه په (مِنْ قَبْلِکَ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ) په دې ځای کي وقف کافي او ښه دی.

**۴:- قبیح وقف:** وهغه وقف ته ویل کیږي، چي کلام د معنا او لفظ له پلوه د مابعد سره ټینګ او کلکه اړه ولري، او د وقف له کبله ددې مبارک آیت په معنا کي فاحش (بد) بدلون منځته راځي، لکه په (وماخلقت الانس والجن الا لیعبدون) کي چي په دې مبارک آیت کي د (وَالْأِنْس) پر کلمه باندي وقف وسي دا وقف قبیح دی.

**۵:- اضطراري وقف:** وهغه وقف ته ویل کیږي، چي لوستونکی د نفس تنګۍ یا نورو ستونزو له امله وقف ته ضرورت پیدا کړي په دې صورت کي لوستونکي ته وقف کول جائز دي، مګر هڅه دي وکړي چي پر هغه کلمه باندي وقف وکړي، چي د معنا فساد منځته په کښي رانه سي او د وقف څخه وروسته دي له یوې مخکنۍ مناسبي کلمې څخه پیل وکړي، لکه د ضرورت په وخت کي وقف د (الْفَحْشَآءِ) پر کلمه باندي د (وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَآءِ) په مبارک آیت کي لوستونکي ته په کار ده چي د اضطرار د لیري کیدو وروسته نوموړی مبارک آیت له سر څخه شروع کړي یعني د (وَيَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ ج) څخه.

ketabton.com - The Digital Library



## سکته

سکته: د تلاوت په جریان کي د ساه اخیستلو پرته د لږ وخت لپاره آواز بندولو ته ویل کیږي، چي دغه آواز د یوې کلمې په ویلو سره بند کړي، نو موږ ویلای سو چي پر دغه کلمه باندي سکته وسوه، یا په بل عبارت د وقف او وصل منځنی حالت ته سکته ویل کیږي.

سکته پر دوه (۲) ډوله ده:- ۱: معنوي سکته. ۲: لفظي سکته.

۱- معنوی سکته: په کومو ځایو کي چي د دوو (۲) کلمو یو ځای کیدو سره په معنا کي د التباس واقع کیدلو احتمال وي، په هغو ځایو کي چي کومه سکته کیږي، هغې سکتې ته معنوي سکته ویل کیږي، لکه: (وَلَمْ يَجْعَل لَّهُ عِوَجَا سکته قَيِّمًا لِّيُنذِرَ)، (مِن مَّرْقَدِنَا سکته هَٰذَا)، (وَقِيلَ مَنْ سکته رَاقٍ)، (كَلَّا بَلْ سکته رَانَ) په ټوله قرآن کریم کي دغه څلور (۴) ځایه معنوي سکته سته.

۲:- لفظي سکته: کله کله سکته د همزې د صفا او محقق ادا کولو په غرض سره کیږي، دې سکتې ته لفظي سکته ویل کیږي، د حفص (رح) په طریقه سره هیڅ چیري لفظي سکته نسته.

## ابتداء

ابتداء: د قرائت د پیل څخه عبارت ده او یا دا چي د چوپتیا څخه وروسته د قرائت په ترڅ کي پیل ته ویل کیږي، چي پر درې (۳) ډوله ده:

الف:- تامه ابتداء: د هغه لفظ د شروع کولو څخه عبارت ده، چي د مخکني لفظ سره لفظي او معنوي اړه ونه لري، لکه: (إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولاً شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولاً).

څرنگه چي تام وقف د لفظ او معنا له پلوه د خپل مابعد یعني وروستني حرف سره اړیکه نه لري، دغه ډول تامه ابتداء د لفظ او معنا له پلوه د خپل ماقبل یعني مخکني حرف سره پوره ارتباط نه لري.

با:- حسنه ابتداء: د هغه کلمې پیل ته ویل کیږي، چي د خپل ماقبل سره معنوي ارتباط ولري، مگر لفظي ارتباط د خپل ماقبل سره ونه لري، د داسي ځای څخه پیل یا شروع کول ښه دی، لکه: (وَبِالْأَخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ).

پورته مثال د معنا له پلوه د خپل ماقبل سره ارتباط لري، مگر لفظي ارتباط یې د ماقبل سره نسته.

ketabton.com - The Digital Library



جیم:- قبیح ابتداء: که چیري کلام د لفظ او معنا له پلوه د خپل ماقبل سره ټینګ ارتباط ولري، په نوموړي کلام باندي پیل کول قبیح او ناروا دی، ځکه د معنا فساد رامنځته کیږي، لکه: (وَمَا نَحْنُ لَکَ بِمُؤْمِنِینَ) له مبارک آیت څخه پیل کول، بیا نو لازم دی چي تلاوت کوونکی د مبارک آیت د پیل او یا له هغه ځای څخه چي په معنا کي بدلون رانه سي پیل وکړي، تر څو د آیت معنا بشپړه سي یعني (قَالُواْ یٰهُودُ مَا جِئْتَنَا بِبِیِّنَةٍ وَمَا نَحْنُ بِتَارِکِی ءَالِهَتِنَا عَن قَوْلِکَ وَمَا نَحْنُ لَکَ بِمُؤْمِنِینَ) څخه او یا (وَالْبَغْیِ یَعِظُکُمْ) د آیت له پیل څخه ځکه داسي ونه کړي، یعني د آیت د سر څخه پیل ونه کړي، نو په دې حالت کي هم معنا په بشپړه توګه بدلیږي، باید د مخکنیو کلمو د هغه ځای څخه چي په معنا کي بدلون رانه سي شروع کړي، یعني (وَیَنْهَی عَنِ الْفَحْشَآءِ وَالْمُنکَرِ وَالْبَغْیِ ج) څخه پیل سي.

یادونه: په قرآن کریم کي د (أَنَا) ضمیر په لیکلو کي (انا) لیکل کیږي، مګر په قرآئت (ان) ویل کیږي، لکه: (وَلَآ اَنَاْ عَابِدٌ، اِنَّمَآ اَنَاْ بَشَرٌ) او په کوم ځای کي چي دغه حروف د کلمي د اصل څخه وي، نو په قرآئت کي (انآ) ویل کیږي لکه: (وَاَنَابُواْ اِلَی اللهِ، وَاَنَاسِیَّ کَثِیرًا) او داسي نور...

ketabton.com - The Digital Library



# څوارلسمه (۱۴) روښنائي

## مختلف موضوعات

۱:- **يادونه:** د سورت کهف په پنځمه (۵) رکوع کي (لٰكِنَّا هُوَاللّٰهُ) يعني په (لٰكِنَّا) کي (الف) ليکل سوی خو دی، مګر نه ويل کيږي، البته که چيري څوک پر دې باندي وقف وکړي، نو هغه به دغه (الف) وايي.

۲:- **يادونه:** د سورت الدهر په اول کي (سَلَاسِلَا) يعني د دوهم (لام) څخه وروسته هم (الف) ليکل سوی خو دی، مګر نه ويل کيږي، البته د وقف کولو په وخت کي د (الف) ويل او نه ويل په دواړو طريقو سره ويل اختيار دی، او د اول (لام) څخه وروسته چي کوم (الف) ليکل سوی دی [1]، دغه (الف) په هر حال کي ويل کيږي.

۳:- **يادونه:** په سورت الدهر کي مابينځ ته يې نږدې (قَوَارِيْرَا قَوَارِيْرَا) دوه (۲) ځله راغلی دی، د دواړو په اخير کي يې (الف) ليکل سوی دی، نو ددې قاعده دا ده چي په دوهم ځای کي خو به په هيڅ حالت کي (الف) نه ويل کيږي، که وقف وي او که وقف نه وي، په اول ځای کي که چيري وقف وکړل سي، نو (الف) ويل کيږي، او که چيري وقف ونه کړل سي، نو (الف) نه ويل کيږي، مګر ډير عادت دا دی که په اول ځای کي وقف کوو[2]، نو په داسي صورت کي (الف) وايو، او په دوهم ځای کي نه ويل کيږي.

۴:- **يادونه:** په قرآن کريم کي يو ځای (اماله) ده، يعني په سورت هود کي چي کوم (بِسْمِ اللّٰهِ مَجْرِىهَا) دی. بيا کتنه اتمه (۸) روښنائي څلورمه (۴) قاعده

۵:- **يادونه:** په سورت الحجرات (بِئْسَ الِاسْمُ) کي د (اَلِاسْمُ) همزه نه ويل کيږي، بلکي ددې (لام) به د هغه (سين) سره يو ځای کړل سي. بيا کتنه دولسمه (۱۲) روښنائي دوهمه (۲) قاعده

۶:- **يادونه:** (لَئِنْ ۢبَسَطْتَّ، اَحَطْتُّ، مَا فَرَّطْتُّمْ، مَاَ فَرَّطْتُّ) کي ادغام ناتمام کيږي، يعني (طاء) او (تاء) يو ځای کړی او مشدد يې کړی، داسي وواياست چي (طاء) خپل د استعلاء او اطباق سره بيله قلقلې ډکه ادا سي، او (تاء) باريکه ادا سي، او په (اَلَمْ نَخْلُقْكُمْ) ښه يې دا ده، چي ادغام تام وکړل سي، يعني (قاف) بلکل ونه ويل سي، بلکي (قاف) دي په (کاف) سره بدل کړل سي، دواړه دي يو ځای کړل سي، او مشدد دي وويل سي [3].

۷:- **يادونه:** په سورت حمٓ سجده کي يو ځای تسهيل دی، (ءَاَعْجَمِيٌّ). بيا کتنه دوولسمه (۱۲) روښنائي اوله قاعده

ketabton.com - The Digital Library



۸: - **یادونه:** (نٓ وَٱلْقَلَمِ) او (یسٓ وَٱلْقُرْاٰنِ ٱلْحَکِیْمِ ط) کي د (نون) او (سین) وروسته چي کوم (واو) دی، د (یَرْمَلُوْنَ) د قاعدې موافق چي د هغه بیان د لسمي (۱۰) روښنائي په دریمه (۳) قاعده کي راغلی دی، په دې (واو) کي ادغام کیدل په کار دي، مګر ادغام نه کیږي(۴).

۹:- **یادونه:** د سورت یوسف په دوهمه (۲) رکوع کي چي کوم (لَاتَأْمَنَّا) دی، په دې کي پر (نون) باندي اشمام کوئ.

۱۰:- **یادونه:** په قرآن کریم کي به یو ځای سکته لیکلې وي، د هغې مطلب دا دی: هلته لږ ودریږئ، مګر ساه مه کاږئ او نوري ټولي قاعدې د وقف په دې کي جاري کیږي.

مثلاً: په سورت القیامه کي داسي لیکل سوي دي، (مَنْ سکته رَاقٍ) نو د (یَرْمَلُوْنَ) د قاعدې موافق د (مَنْ) (نون) په (راء) کي ادغام کول په کار دي، مګر ادغام نه کیږي، ځکه هر کله چي (سکته) پر ځای د وقف وګڼل سوه، نو ددې وجهي هغه اتصال د (نون) نه سو پاته، له دې سببه ادغام نه کیږي، همدارنګه په سورت الکهف کي لیکل سوي دي (عِوَجًا سکته قَیِّمًا)، نو که چیري پر (عِوَجًا) باندي وقف ونه کړل سي، د وروسته سره یو ځای کړل سي، نو اخفاء به نه وي، بلکي د زور تنوین به په (الف) سره بدل سي، او سکته به وسي.

د امام حفص (رحمة الله علیه) د روایت له مخي په ټول قرآن کریم څلور (۴) سکتې دي:- ۱: په سورت القیامه کي (مَنْ سکته رَاقٍ). ۲: په سورت الکهف کي (عِوَجًا سکته قَیِّمًا). ۳: په سورت یاسین کي: د (مِنْ مَّرْقَدِنَا) پر (الف) باندي هر وخت چي د وروسته سره یو ځای وویل سي. ۴: په سورت المطففین کي (کَلَّا بَلْ سکته رَانَ) پر (لام) ساکنه باندي. ددې څلور (۴) ځایونو څخه ماسیوا په ټول قرآن کریم کي په سورت الفاتحه او نورو سورتو کي (سکته) نسته.

۱۱:- **یادونه:** په قرآن کریم کي چي په کوم ځای کي پیښ (ُ) راسي، هغه به د معلوم (واو) په رقم وي او وبه ویل سي، زموږ او ستاسو په سمیه کي پیښ داسي ادا کوي، که چیري هغه پیښ کش کړي، نو (واو) مجهول ځیني جوړ کړي، او زیر بیا داسي ادا کوي، که چیري هغه زیر کش کړي، نو (یاء) مجهول ځیني جوړه کړي، داسي کار کول د عربي ژبي خلاف دي، داسي مه کوئ، بلکي پیښ داسي وواياست، که چیري هغه پیښ کش کړی، نو (واو) معلوم به ځیني جوړ سي، او که زیر داسي وواياست، که چیري هغه زیر کش کړی، نو (یاء) معلومه به ځیني جوړه سي، د پیښ او زیر داسي معلوم ادا کول د یو ماهر قاري اُستاد څخه زده کړی.

۱۲:- **یادونه:** هر وخت چي (واو) مشدد یا پر (یاء) مشدد باندي وقف وي، نو هلته په سختۍ سره تشدید ویل په کار دي، ددې لپاره چي تشدید باقي پاته سي، لکه: (عَدُوٌّ، عَلَى النَّبِيِّ).

ketabton.com - The Digital Library



۱۳:- **يادونه:** په سورت يوسف کي داسي راغلي دي: (لَيَكُوْنًا مِّنَ الصَّاغِرِيْنَ) او په سورت اقراء کي داسي راغلي دي: (لَنَسْفَعًا ۢبِالنَّاصِيَةِ) که چيري پر (لَيَكُوْنًا) او (لَنَسْفَعًا) باندي وقف وکړو، نو وقف به په (الف) سره کوو، يعني تنوين به نه وايو [۵].

۱۴:- **يادونه:** څلور (۴) لفظونه په قرآن کريم کي دي، چي په (صاد) سره ليکل سوي دي، او پر (صاد) باندي يو کوچنی (سين) هم ليکل سوی وي، په دې قاعده ځان پوه کړی:- ۱: په سورت البقره کي داسي راغلي دي: (يَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ). ۲: په سورت الاعراف کي راغلي دي: (فِى الْخَلْقِ بَصْۜطَةً) په دې دواړو ځايو کي (سين) واياست. ۳: په سورت الطور کي داسي رغلي دي: (اَمْ هُمُ الْمُصَۜيْطِرُوْنَ) په دې کي اختيار دی، که (سين) واياست او که (صاد) واياست. ۴: په سورت الغاشيه کي داسي راغلي دي: (بِمُصَۜيْطِرٍ) په دې ځای کي (صاد) وواياست.

۱۵:- **يادونه:** څو ځايه په قرآن کريم کي ليکل سوي دي، (لَا) مګر ويل کيږي: (لَ) د تلاوت کولو په وخت کي دې ځايو ته ډير فکر کول په کار دي [۶]:- ۱: په سورت آلعمران کي داسي ليکل سوي دي: (لَاْ اِلَى اللهِ تُحْشَرُوْنَ). ۲: په سورت التوبه کي داسي ليکل سوي دي: (وَلَاْ اَوْ ضَعُوْا). ۳: په سورت النمل کي داسي ليکل سوي دي: (اَوْ لَاْ اَذْبَحَنَّه). ۴: په سورت الصافات کي داسي ليکل سوي دي: (لَاْ اِلَى الْجَحِيْمِ). ۵: په سورت الحشر کي داسي ليکل سوي دي: (لَاْ انْتُمْ اَشَدُّ).

همدارنګه د سورت آلعمران په پنځمه (۵) رکوع کي ليکل سوي دي: (اَفَائِنَ) مګر ويل کيږي داسي: (اَفَئِنَ)، په ځايو کي داسي ليکل سوي دي: (مَلَائِه) مګر ويل کيږي داسي: (مَلَئِه)، د سورت الکهف په څلورمه (۴) رکوع کي ليکل سوي دي: (لِشَاىءً) مګر ويل کيږي داسي: (لِشَئٍ) او په بعضي ځايو کي داسي ليکل سوي دي: (نَبَاىءِ) مګر ويل کيږي داسي: (نَبَئِ).

يادونه: دغه ذکر سوي قاعدې اکثره هغه دي، کوم چي په هغو کي هيڅ اختلاف نسته، او په کومو قاعدو کي چي اختلاف دی، په هغو کي ما صرف د امام حفص (رحمة الله عليه) قواعد ليکلي دي، چي د هغه د روايت مطابق زموږ خلک قرآن کريم وايي.

حاشيه..........................................................................!

(۱) تشريح: د قرآن کريم په رسم الخط کي د اول (لام) څخه وروسته (الف) نه دی ليکل سوی، (لکه څرنګه چي اوس په مثال کي دی) بلکي په قرآن کريم کي پر اول (لام) باندي ولاړ زور

ketabton.com - The Digital Library



دی، يعني موصول ليکل سوی دی، داسي: (سَلٰسِلَا) نو دلته د اعتراض خبره نسته، چي دلته په مثال کي خو د اول (لام) وروسته (الف) سته، او په قرآن کريم کي د اول (لام) وروسته نسته، ځکه چي ولاړ زور د (الف) آواز ورکوي.

(۲) تشريح: ځکه چي د وقف نښان يعني ګول د آيت علامه پر اول (قَوَارِيْرَا ۝ط) باندي دی، لهذا وقف هم پر دې باندي کول ښه او مناسب کار دی.

(۳) تشريح: دې ادغام ته ادغام تام ويل کيږي، او ادغام ناقص په مثل د (بَسَطْتَّ) وغيره هم جائز دی، يعني (قاف) بيله قلقلې (کاف) وويل سي، او (کاف) باريک وويل سي.

(۴) تشريح: ځکه چي د امام حفص (رحمة الله عليه) په نزد دلته دا حروف په قطعه سره ويل کيږي، او وروسته تر قطعي ويلو هغه اتصال نه پاته کيږي.

(۵) تشريح: دا خلاف القياسه په دې خاطر دی، قانون داسي وو چي وقف پر تنوين د دوو (۲) زورو په (الف) سره کيږي، مګر اصل د (لَنَسْفَعًا) (لَنَسْفَعَنْ) وو، او اصل د (لَيَكُوْنًا) (لَيَكُوْنَنْ) وو، خلاف القياس (نون) دلته په شکل د تنوين ليکل سوی دی، يعني د تنوين هغه اصلي شکل نه دی ليکل سوی، څرنګه چي وقف د رسم الخط تابع دی، ځکه نو وقف په (الف) سره کيږي، اصل ته نه کتل کيږي.

(۶) تشريح: په دې الفاظو او کلماتو کي ځکه فکر کول په کار دي، چي که چيري د ليکلو مطابق وويل سي، نو کلام مثبت به منفي سي، او دا به د قرآن کريم د مفهوم سره ډيره بعيده وي، حلانکي په دې کلمو کي مثبت مؤکد دی، د (لام) په تاکيد سره، او څرنګه چي قرآن کريم توقيفي دی، ځکه نو خپل پر حال پاته دی.

ketabton.com - The Digital Library



## کلمه

کلمه په لغت کي د زخم په معنا ده او په اصطلاح کي یو لفظ دی، چي پر یوې مفردي معنا دلالت کوي. کلمه پر درې (۳) ډوله ده:- ۱: اسم. ۲: فعل. ۳: حرف.

۱:- اسم: په لغت کي علو (لوړوالي) ته ویل کیږي او په اصطلاح کي هغه لفظ ته ویل کیږي، چي پر معنا باندي د بل لفظ د اړتیا پرته دلالت وکړي او په زمانو پوري اړه ونه لري، لکه: باغ، احمد، کور.

۲:- فعل: په لغت کي کړني ته ویل کیږي او په اصطلاح کي د هغه لفظ څخه عبارت دی، چي پر معنا باندي د اړتیا پرته دلالت وکړي، مګر په یوه له درو (۳) زمانو پوري اړه ولري، چي د (ماضي، حال، استقبال) څخه عبارت دي، لکه: (ذَهَب، ضَرَب، يَنْصُر).

۳:- حرف: په لغت کي طرف یا څنډي ته ویل کیږي او په اصطلاح کي هغه لفظ ته ویل کیږي، چي د بل حرف د یو ځای کیدو پرته پر معنا دلالت نه سي کولای او په زمانو پوري هم اړه نه لري، لکه: (مِنْ وإلى).

## د اسم او فعل توپیر

۱: د هري کلمې په اخیر کي چي زیر یا تنوین راغلی وي، هغه اسم دی، لکه: (علیماً).

۲: هره کلمه چي په (الف، لام) سره شروع سوی وي، هغه اسم دی، لکه: (الْحَمْدُ).

۳: فعل د پورته دواړو ځانګړتیاؤو څخه یو هم نه لري.

## د حرکاتو اداء

حرکات یعني زور چي (فتحه یا نصب) ورته ویل کیږي، پیښ چي (ضمه یا رفعه) ورته ویل کیږي او زیر چي (کسره یا جر) ورته ویل کیږي، توپیر یې په نومونو کي دومره دی، چي اول نوم د مبنیه حرکاتو دی او دوهم نوم د معربه حرکاتو دی، چي زیات معلومات یې د نحو په علم پوري اړه لري.

۱:- فتحه یا زور: فتحه د انفتاح شفتین څخه اخستل سوې ده چي موخه ځیني د خولې او آواز خلاصوالی دی.

۲:- ضمه یا پیښ: ضمه د انضمام شفتین څخه اخستل سوې ده چي موخه ځیني د شونډانو او آواز یو ځای والی دی.

ketabton.com - The Digital Library



۳:ـ کسره یا زیر: کسره د انخفاض څخه اخستل سوې ده چي موخه ځیني د خولې او آواز ټیټ والی دی.

۱:ـ قاعده: که چیري په فتحه کي ډیر انخفاض وسو، نو فتحه د کسرې سره ورته والی پیدا کوي او که چیري لږ انخفاض وسو، نو فتحه د ضمې سره ورته والی پیدا کوي، همدا ډول که چیري په کسره کي پوره انخفاض ونه سي، نو د فتحي سره ورته والی پیدا کوي او که چیري لږ انضمام پیدا سي، نو کسره به د ضمي سره ورته سي او په ضمه کي که چیري انضمام پوره ونه سو، نو ضمه به د کسرې سره ورته سي، په دې شرط چي څه اندازه انخفاض سوی وي او که چیري انفتاح پیدا سي، نو د فتحي سره به ورته سي، نو لازمي ده چي هر حرکت په خپل پوره کیفیت ادا سي، او د بل حرکت هیڅ کیفیت په ګډ نه سي، ځکه دوه (۲) کیفیتونه په حرکت کي جائز نه دي.

۲:ـ قاعده: که چیري د فتحي وروسته (الف) نه وي، تر ضمي وروسته ساکن (واو) نه وي او تر کسرې وروسته ساکنه (یاء) نه وي، په دغه حرکاتو کي اشباع جائزه نه ده لکه: (قُلْ، وَالْاَرْضَ، مَنْ اِلَٰهٌ).

اشباع: داسي حرکت ته ویل کیږي، چي اوږدوالی یې دومره اوږد سي چي د هغه څخه بل حرف پیدا سي. همدا ډول د ضمي څخه وروسته چي (واو) مشدد وي او د کسرې څخه وروسته چي (یاء) مشدده وي، لکه: (السَّوِیِّ، لُّجِّیِّ) په دغه وخت کي هم د اشباع څخه ځان ساتل حتمي دی، ځکه که مشدد حرف په سختئ سره ونه ویل سي، نو هغه تشدید به لیري سي، کله چي تشدید لیري سي، نو لحن جلي به راسي او لحن جلي حرام دی، په ځانګړي ډول په وقف کي زیاته پاملرنه کول په کار دي، که داسي ونه سي، نو مشدد حرف به مخفف سي، ځکه په وقف کي چي ساه په خلاصیدو وي د مشدد لپاره د قوت اړتیا ده ځکه د تساهل له امله غلطی شوني ده.

تسهیل: دې ته ویل کیږي، چي همزه د همزې او د ماقبل د حرکت څخه پیدا کیدونکی حرف تر منځ وي، مثلاً: د زور څخه پیدا کیدونکی حرف (الف) دی او د پیښ څخه پیدا کیدونکی (واو) دی او د زیر څخه پیدا کیدونکی حرف (یاء) ده لکه: (ءَاعْجَمِیٌّ).

۱:ـ قاعده: کله چي د فتحي (زور) وروسته (الف) او د ضمي (پیښ) وروسته ساکن (واو) غیر مشدد او د کسرې (زیر) وروسته ساکنه (یاء) غیر مشدده وي، نو په دغه وخت کي دغه حرکات په اشباع سره ویل حتمي دي، که په اشباع سره ونه ویل سي، نو دا حروف به ادا نه سي.

ketabton.com - The Digital Library



۲:ـ قاعده: حرکات ښه ښکاره ويل په کار دي، يعني داسي چي د حرکت د اداء کولو په وخت کي د اړتيا سره سم د دوو غړو د جلاوالي فکر وسي، ځکه که چيري جلاوالی ونه سي، نو خامخا به حرکت د سکون سره مشابه سي.

۳:ـ قاعده: حرکات پر دوه (۲) ډوله دي:- ۱: پراته حرکات. ۲: ولاړ حرکات.

۱:ـ پراته حرکات: پراته حرکات لکه: (بَ بِ بُ) دغه زور پروت زور دی نه کشيږي، همدا ډول دغه زير لاندي کشيدونکی زير نه دی او پيښ چپه يا خنجري پيښ نه دی.

۲:- ولاړ حرکات: ولاړ حرکات لکه: (ب ب ب) دغه ولاړ يا خنجري زور دی، همدا ډول دوهم کښته يا خنجري زير، او دريم چپه يا خنجري پيښ دی، چي تقديراً مد اصلي دی.

د يادوني وړ ده! ولاړ زور د مده (الف) آواز ورکوي، کښته زير د مده (ياء) آواز ورکوي او چپه پيښ د مده (واو) آواز ورکوي، نو بايد عام حرکتونه د داسي کشيدلو څخه وساتل سي، ځکه چي بيا د هر يوه څخه د خپل جنس مده حروف پيدا کيږي او ددې حروفو د پيدا کيدو څخه جلي لحن منځته راځي او جلي لحن حرام دی، نو دا حرکات کشول هم حرام دي.

۱:ـ قاعده: مشدد حرف دوه (۲) واره ويل کيږي، ځکه چي اول ساکن دوهم متحرک دی، له همدې کبله په مشددو حرفو کي د دوو (۲) حرفو په اندازه ځنډ کيږي، که چيري پر مشدد حرف باندي وقف وسي، نو د حرف په ادا کيدو کي ځنډ کول په کار دي، ځکه چي مشدد حرف اول ساکن دوهم متحرک وي، په وقف کي متحرک حرف هم ساکن سو، نو د دواړو ساکنانو ادا کول په کار دي، لکه: (اَيْنَ الْمَفَرُّ) که چيري پر مشدد حرف باندي ځنډ ونه سي، نو جلي لحن منځته راځي.

۲:ـ قاعده: زير او پيښ هميشه باريک وي او زور که چيري پر باريک حرف باندي وو باريک ويل کيږي او که پر ډک حرف وو ډک ويل کيږي.

اماله: د امالي لغوي معنا ميل او کږيدل دي او په اصطلاح کي د زير لوري ته د زور راکږيدل دي، همدا ډول د (ياء) لوري ته د (الف) راکږيدل دي، لکه: (بِسْمِ اللهِ مَجْرٖىهَا) که چيري د زير لوري ته د زور کږيدل او د (الف) لوري ته د (ياء) کږيدل زيات وي، نو اماله (کُبرای ۃ) ورته ويل کيږي او که لږ وه اماله (صُغرای ۃ) ورته ويل کيږي.

يادونه: د حفص (رحمة الله عليه) په آند په ټوله قرآن کريم کي اماله يو ځای ده چي پورته ذکرسوه.

ketabton.com - The Digital Library



## د ساكنينو اجتماع (د دوو (۲) وړغندي لرونكو حروفو يو ځای كيدل)

د ساكنينو اجتماع يعني د دوو (۲) ساكنو حروفو يو ځای كيدل پر دوه (۲) ډوله دي:- ۱: علي حده. ۲: علي غير حده.

۱:- علي حده: علي حده دې ته ويل كيږي، چي اول ساكن حرف مده وي او دواړه ساكن حروف په يوه كلمه كي وي.

د ساكنينو دغه اجتماع علي حده ده، يعني پر خپله اندازه او حالت باندي برابره ده، دغه د ساكنينو اجتماع روا ده، لكه: (ءَآلْئَٰنَ، وَالَا الضَّآلِّينَ، تَعْلَمُونَ) البته ددې دوو (۲) شرطونو په شتون كي او كه يو ددې دوو (۲) شرطونو څخه موجود نه وي، نو د ساكنينو اجتماع علي غير حده اجتماع ده، نوموړې اجتماع جائز نه ده.

۲:- علي غير حده: علي غير حده دې ته ويل كيږي، چي اول ساكن حرف مده وي او دواړه ساكنه په يوه كلمه كي نه وي او يا اول ساكن حرف مده نه وي، يا دواړه ساكنان په يوه كلمه كي نه وي، دغه د ساكنينو اجتماع علي غير حده اجتماع ده، يعني د خپل حالت او اندازې څخه وتلي او دغه د ساكنينو اجتماع نه ده جائز.

## د ساكنينو علي غير حده اجتماع د پای ته رسيدو لاري

د ساكنينو علي غير حده اجتماع په څو لارو سره پای ته رسيږي، چي د لانديني لارو څخه عبارت دي:

۱: كه چيري په دوو (۲) ساكنو حروفو كي اول ساكن حرف مده وو، مگر دوهم ساكن په بله كلمه كي وو، اول ساكن يعني مده حرف حذفيږي، لكه: (اَقِيمُواْ الصَّلَوٰتَ، وَمَا فِي الْأَرْضِ).

۲: كه چيري په دوو (۲) ساكنو حروفو كي اول ساكن حرف د جمعي (ميم) وو ضمه (پيښ) وركول كيږي، لكه: (عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ).

۳: كه چيري په دوو (۲) ساكنو حروفو كي اول ساكن حرف د لين (واو) وو، البته دغه (واو) د جمع لپاره راغلی وو، دغه (ميم) ته هم ضمه (پيښ) وركول كيږي، لكه: (فَلَا تَخْشَوُاْ النَّاسَ).

۴: كه چيري په دوو (۲) ساكنو حروف كي اول ساكن حرف د حروف (جرمِنْ) وو، يعني د (مِنْ) (نون) وو، لومړی ساكن يعني (نون) ته زور وركول كيږي، لكه: (مِّنَ اللَّهِ وَفَضْلٍ).

ketabton.com - The Digital Library



۵: که چیري په دوو (۲) ساکنو حروفو کي اول ساکن حرف د (الٓمٓ) (میم) وو، هغه ته هم زور ورکول کیږي، لکه: (الٓمٓ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اَلَّا هُوَ).

۶: که چیري په دوو (۲) ساکنو حروفو کي په پورتنیو صورتونو کي یو لا هم نه وو، نو بیا اول ساکن حرف ته زیر ورکول کیږي، لکه: (قُلِ ادْعُواْ اللّٰهَ، اَوِ ادْعُواْ الرَّحْمٰنَ، اِنِ ارْتَبْتُمْ).

۱:ـ قاعده: د تنوین څخه شروع کول یا د تنوین څخه راګرځیدل جائز نه دي، ځکه چي د شروع کولو او راګرځیدلو ځای د کلمې اول حرف وي او تنوین د کلمې په شروع کي نه راځي، بلکي د کلمې په آخیر کي راځي، له دې کبله د تنوین څخه شروع کول یا راګرځیدل جائز نه دي، د نه راتللو لامل يې دا دی چي په عربي کلمه کي په ساکن حرف سره پیل نه سي کیدلای.

۲:ـ قاعده: د کومي کلمې پر وروستي حرف باندي چي تنوین راسي، نوموړي تنوین ته ساکن (نون) ویل کیږي او په رسم الخط کي نه لیکل کیږي، تنوین په وقف کي حذفیږي، البته د زیر او پیښ د تنوین چي د دریدو په حالت کي حذفیږي او دوه (۲) زورونه په (الف) باندي بدلیږي، ځکه چي د زیر او پیښ تنوین لیکلی سوی نه دی او د زور تنوین د (الف) په بڼه لیکلی وي، مګر دا توپیر فقط په وقف کي د یاو د وصل په حالت کي درې (۳) واړه تنوینونه ویل کیږي، او که چیري تر تنوین وروسته وصلي همزه وي، نو د ساکن (نون) په شان د تنوین پر درې (۳) واړه قسمونو باندي یوازي کسره راځي.

د وصل په حالت کي چي کله د ده څخه وروسته وصلي همزه وي، نو وصلي همزه به حذف سي او دا تنوین د ساکنینو د علي غیر حده اجتماع په سبب زیر لرونکی ویل کیږي او زیات وخت خلاف القیاس دغه تنوین د کوچني (نون) په شکل لیکل کیږي، یعني دغه (نون) په عثماني رسم الخط کي نسته وروسته د خلګو د اسانی په موخه دود سوی دی او دغه کوچني (نون) ته قطني (نون) ویل کیږي، لکه: (بِزِینَةٍ الْكَوَاكِبِ، خَيْرًا الْوَصِيَّةُ).

ketabton.com - The Digital Library



## مُتواتر قرآئت

متواتر او مشهور قرآئتونه لس (۱۰) دي، چي و قرآء عشره متواتر او مشهوره وو ته منسوبه دي، او ددې لسو (۱۰) قرآئتونو څخه پر اتو (۸) قرآئتونو باندي د قرآن کریم د قرآنیت عقیده درلودل لازمي او ضروري ده، انکار او استهزاء ځیني کول کفر دی.

**قرآئت:** قرائت د تجوید څخه جلا یو مستقل علم دی، پر کوم علم باندي چي زموږ ټوله درسي تفاسیر او غیري درسي موقف دي، چي تعریف یې داسي دی: دا هغه علم دی، چي په دې سره د قرآني وحي د کلماتو د اختلاف پیژندنه کیږي.

**روایت:** د قراء عشره وو هر یو دوه دوه شاګردان دي، چي ټوله مشهوره او متواتر روایتونه شل (۲۰) دي، د هر قاري د دوو (۲) راویانو په منځ کي چي کوم اختلاف دی، د هغه څخه روایت جوړیږي، مثلاً: د امام **عاصم** (رحمة الله علیه) دوه (۲) شاګردان دي، یو **حفص** (رحمة الله علیه) دی، او بل **شعبه** (رحمة الله علیه) دی، نو یو روایت **حفص** سو او بل روایت **شعبه** سو.

**تجوید:** د تجوید علم هغه علم دی، کوم چي د حروفو مخارج او صفتونه بیانوي، همدارنګه اخفاء، اظهار، ترقیق، تفخیم او داسي نور...

**طُرق:** دا خو معلومه سوه چي د لسو (۱۰) قرآء عشره وو په منځ کي چي کوم اختلاف وي، د هغه څخه قرآئت جوړیږي، او که د هغوی شلـو (۲۰) شاګردانو په منځ کي اختلاف وي، د هغه څخه روایت جوړیږي، او کوم اختلاف چي وروستني علماء کرامو ته منسوب وي، د هغه څخه (طُرق) جوړیږي. د مثال په توګه: د امام **حفص** (رحمة الله علیه) په روایت کي دوې (۲) طریقې دي:- ۱: شاطبیه طریقه. ۲: طبیه طریقه. موږ چي څرنګه قرآئت وایو، دا روایت د امام **حفص** (رحمة الله علیه) د شاطبي طریقې دی.

### اصطلاحات

**راوي:** هغه چا ته ویل کیږي، چي قرآن کریم سره له تجویده په یوه روایت ویلای سي، او یا د یوه راوي ټول اختلافات ورته معلوم وي.

**مُجَوِّد:** هغه چا ته ویل کیږي، چي قرآن کریم په قواعدو سره د تجوید ویلای خو سي، مګر نور اختلاف د راویانو او یا یو راوي ورته معلوم نه وي.

**قاري:** هغه چا ته ویل کیږي، چي د درو (۳) قرآوو اختلافات ور معلوم وي، او بعضي وایي: د یوه امام یوه قاري د دواړو شاګردانو اختلاف چي ور معلوم وي.

**مُقرِي**: هغه چا ته ویل کیږي، چي د لسو (۱۰) مشهورو متواتر قرآء او امامانو اختلاف ور معلوم وي، او د هغوی اجراء کولای سي.

ketabton.com - The Digital Library



## په تجويد سره د قرآن كريم د ويلو مرتبې

په تجويد سره د قرآن كريم د ويلو مرتبې څلور (۴) دي، چي د لاندي مرتبو څخه عبارت دي:-
۱: تحقيق. ۲: ترتيل. ۳: تدوير. ۴: حدر.

۱:- **تحقيق:** دا هغه مرتبه ده، چي د ترتيل څخه هم پورته ده، يعني تر ترتيل ويلو هم په اطمينان او آرامتيا سره لوستل كيږي او د حروفو د مخرجونو ښه خيال ساتل كيږي، د صفاتو د اداء سره.

۲:- **ترتيل:** دا هغه مرتبه ده، چي تر تحقيق لاندي او تر تدوير پورته ده، لكه اوس چي د مصري قاريانو د تلاوت طريقه ده، او يا په يو محفل او مجلس كي ويل كيږي.

۳:- **تدوير:** د قرآن مجيد د ويلو هغه مرتبه ده، چي تر ترتيل كښته او تر حدر پورته ده، لكه عام ډول چي په لمونځونو كي ويل كيږي.

۴:- **حدر يا تحدير:** د قرآن مجيد د ويلو هغه مرتبه ده، چي تر تدوير لاندي ده، يعني په ويلو كي چابكي وي، لكه په تراويح كي چي ويل كيږي، په دې شرط چي اخفاء، اظهار، ادغام، مدونه غنې او نور ټول لازمي شيان به يې پر ځاى وي.

ketabton.com - The Digital Library



## د امام حفص (رحمة الله علیه) پیژندنه

امام حفص (رحمة الله علیه) قرآن کریم د امام عاصم تابعي (رحمة الله علیه) څخه حاصل یعني زده کړی دی، امام عاصم د زِرِّ بن حُبیش اسدي او عبدالله بن حبیب سلمي (رحمة الله علیهم) څخه قرآن کریم حاصل یعني زده کړی دی، دوی دواړو بیا د حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت زید ابن ثابت، حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت ابي بن کعب (رضي الله تعالی عنهم آجمعین) څخه قرآن کریم حاصل یعني زده کړی دی، دوی ټولو قرآن کریم د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه حاصل یعني زده کړی دی.

د ده نوم حفص دی، کنیه یې ابو عمرو بن سلمان بن مغیره اسدي کوفي بزاز دی، په نوي (۹۰) هجري سنه کې پیدا سوی دی، او په یوسلو اتیا (۱۸۰) هجري سنه کې وفات سوی دی، د ده د پلار د وفات څخه وروسته د ده مور د امام عاصم (رحمة الله علیه) سره نکاح وکړه، له دې سببه د ده پرورښ او تربیت د امام عاصم (رحمة الله علیه) د شفقت تر سیوري لاندې سوی دی.

ابن معین (رحمة الله علیه) فرمایي: امام حفص (رحمة الله علیه) د امام عاصم (رحمة الله علیه) په قرآئت کې (اَعْلَمُ النَّاس) وو، یعني د امام عاصم (رحمة الله علیه) اصح قرائت هغه دی کوم چې امام حفص (رحمة الله علیه) روایت کړی دئ.

علامه ذهبي (رحمة الله علیه) فرمایي: په قرائت کې امام حفص (رحمة الله علیه) ثقه، ظابط او ثبت وو، د امام عاصم (رحمة الله علیه) څخه یې څو واره قرآن کریم ویلی وو، د ده څخه ماسیوا د نورو متعددو شیخانو څخه هم اکتساب کړی وو، د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) سره د ټکرانو په تجارت کې شریک وو، (که څه هم قرآئتونه سبعه بلکې عشره دي متواتر) او د قرائت سبعه خلاف خو هیڅ چا یو لفظ هم نه دی ویلی، بلکې د حرمینو او بصرې قرائت د خالص قرشي کیدو په وجه یو خاص امتیاز لري، مګر د الله (جل جلاله) له طرفه د قبولیت تاثیر دی، چې د کلونو را په دې خوا په مکاتبو او مدارسو کې صرف د امام حفص (رحمة الله علیه) روایت تدریس کیږي.

امام عاصم (رحمة الله علیه) نوم یې عاصم کنیه یې ابوبکر ابن النجود دی، د پلار نوم یې ابن بهدلة دی، د مور نوم یې اسدي کوفي دی، دوی د شیخ القرآء ابو عبدالرحمن بن حبیب بن ربیعه سلمي نابینا شیخ القراء کوفه شیخ القراء امام ابو مریم، زرین بن حُبیش بن حباشه بن اوس اسدي او شیخ القراء ابو عمر سعد بن الیاس شیباني کوفیینو ته قرآن کریم وایه، دوی درې (۳) سره د لویو تابعینو څخه دي، او بلا واسطه د حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت ابي بن کعب او د حضرت زید بن ثابت (رضي الله تعالی عنهم) شاګردان دي، دی په خپله هم تابعي دی، د حضرت حارث بن حسان او نور صحابه کرامو (رضي الله عنهم آجمعین) څخه یې فیض او برکت حاصل کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library



امام احمد حنبل (رحمة الله عليه) فرمايي: امام عاصم (رحمة الله عليه) صاحب قرائت وو، او امام حماد (رحمة الله عليه) صاحب فقه وو، زه امام عاصم (رحمة الله عليه) ډير خوښوم.

امام عجلي (رحمة الله عليه) فرمايي: امام عاصم (رحمة الله عليه) صاحب سنت، قرائت، ثقه او ريئس القراء وو.

امام ابو اسحاق سبيعي (رحمة الله عليه) فرمايي: ما د امام عاصم (رحمة الله عليه) څخه ښه قاري نه دی ليدلی.

د امام عاصم (رحمة الله عليه) څخه زيات د قرآن کريم عالم نسته، د امام عبدالرحمن (رحمة الله عليه) څخه وروسته د کوفې د قرائت رياست پر امام عاصم (رحمة الله عليه) باندي ختميدی، دی د فصاحت او بلاغت، ظبط او اتقان، د تجويد او تحرير جامع وو، د ادا طريقه او لهجه يي عجيبه او غريبه وه، عابد او کثير الصلوة وو، پنځوس (۵۰) کاله د کوفې پر مسند باندي ناست وو، په يوسلو اته ويشت (۱۲۸) هجري سنه کي وفات سو.

د امام ابن عامر شامي (رحمة الله عليه) څخه وروسته تر ټولو مقدم امام عاصم (رحمة الله عليه) دی، د امام حفص (رحمة الله عليه) څخه ماسيوا د ده د قرائت په راويانو کي عظيم الشان امامان او علماء کرام راغلي دي، چي په هغو کي امام مُفضل، امام حماد او امام ابوحنيفه (رحمة الله عليهم) هم دی.

امام زِر ابن حُبيش اسدي (رحمة الله عليه)، ابو مريم يې کنيت دی، دا بزرګ مخضرمي وو، يعني ده د جاهليت او اسلام دواړي زمانې نيولي دي، مګر د اسلام شرف ده ته د محمد (صلی الله عليه وسلم) د وصال څخه وروسته حاصل سوی وو، په دې وجه ده ته د لويو صحابه کرامو (رضي الله عنهم) په صحبت کي د استفادې لويه موقع په نصيب سوه، د دوی په فيض او برکت سره دی جليل القدره تابعي جوړ سو، د قرآن کريم په ممتازو قاريانو او علماؤ کي وو.

په ائمه حفاظو کي ليکل سوي دي: د امام زِر ابن حُبيش اسدي (رحمة الله عليه) په مشايخو کي حضرت عمر فاروق، حضرت علي، ابو ذرغفاري، عبدالله بن مسعود، عبدالرحمن بن عوف، عباس ابن مطلب، ابي بن کعب (رضي الله عنهم آجمعين) او داسي نور وه.

د امام زِر ابن حُبيش اسدي (رحمة الله عليه) په ممتازو شاګردانو کي ابراهيم نخعي، عاصم بن ابي النجود، منهال بن عمرو، عيسی بن عاصم، عدي بن ثابت، امام شعبي، ابو اسحاق شيباني (رحمة الله عليهم) او داسي نورو شهرت درلودی.

علامه نووي (رحمة الله عليه) فرمايي: زِر ابن حُبيش (رحمة الله عليه) په لويو تابعينو کي وو، د ده (رحمة الله عليه) پر توثيق او جلالت باندي د ټولو علماؤ اتفاق دی.

ketabton.com - The Digital Library



## ماخذونه

۱: جمال القرآن، مولف: حکیم الأُمت مولانا اشرف علي تهنوي (رحمة الله علیه)، ژباړن: قاري فضل الحق حقاني.

۲: درة الـفـریـد.

۳: حقیقة الـتجوید.

۴: جـهـد الـمعـقل.

۵: تعلـیـم الـوقف.

۶: هـدیة الـوحـید.

۷: تصحیح سوی تجوید.

۸: قرآن کریم او تجوید.

# Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*